شهامت

اووم کال لومړی گڼه پرلپسی ۳۹ گڼه جمادی الثانی ۱۴۳۴ هق می ۲۰۱۳ م

دملکي تلفاتو دمخنیوي دڅانگړي اداري له مسؤل بناغلي سرحدي سره مرکه

له افغانستان څخه دامریکاعوایدڅومره دي ؟

طالبان : نماد افتخار جهانی !

په کابل کې CIAد په زړه برید !

په افغانانو بهرنی طرحي تپل ناکامه تجربه ده

شهامت ۲۱

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال لومړی گڼه. پرلپسې ۳۹ گڼه جمادي الثاني - رجب المرجب 1434 هق مې 2013 م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد ''حقاني '' لطیف عزم
حسن '' علوي'' قاري حبیب ،
بلال ''وحید'' نعیم '' صافی

بیه :

یوه گڼه 20 افغانۍ او 30
کلداري په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
1	سرلیکنه............................	۱
2	په کابل کې د CIA په زړه برید	3
3	کابل کې د ښځو په نوم زور زیاتی په نوم دقانون شرعی..	۴
4	په افغانانو بهرنی طرحی تېل ناکامه تجربه ده ...	۱۲
5	دملکی تلفاتو دمخنیوی د څانگړي اداری له مسؤل سره مرکه	۱۸
6	طالبان نهاد افتخار جهانی !	۲۲
7	برما کې بیا ستر بشری ناوړین دنړۍ د شرم نه ډک دریغ.	۲۵
8	اریکیان په وته ېېل شي....................	۳۴
9	دایران سیاست او راړوانو تاکنو ته کتنه.........	۳۷
10	د اسلامي فقهي تاریخ	۴۱
11	غازي ادي..........................	۴۸
12	افغانستان څخه دامریکا عواید څومره دي؟........	۴۹
13	ژباړونکي که د خاورگرو ادارو مامورانو............	۵۲
14	د اسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش..........	۵۴
15	مناق مناقشه شبهاتی درمورد مشارکت در دیمکراسی و.	۵۷
16	د نصرت او فتحي امید ښونکی مظاهر	۲۹
17	دمجلی ژورنالیزم ————————	۷۲
18	داستان گمراهی یک رهبر دانشمند مسیحی....	۷۵
19	د اسلام د ښمنو مسیحیانو په نوم دیوه مسیحی مبلغ پیغام.	۷۷
20	عبد العزیز: نابغه ای که قران عظیم الشان رادرسه ماه	۸۰
21	عملیات اخیر در کابل پیروزی بزرگ مجاهدین	۸۲
22	دشهامت دار الافتاء	۸۴
23		
24		
25		

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دامریکا دغرور بیړۍ په ډوبیدو ده.... !!

په (۲۰۰۱) زکال کې دستمبر په یوولسمه دامریکا په نیو یارک ښار کې دنړیوالې سوداګرۍ په مرکز دناڅاپي برید څخه دمګړۍ وروسته امریکا یې ښکېلاک دټولو نړیوالو اصولو ،بشري قوانینو اومقرراتو پرخلاف له ثبوت اودلیل پرته افغانستان ته دپړې ګوته ونیوه اوپه تعقیب یې زمونږ د مظلوم ملت پرخلاف ناروا شیطاني جګړه پیل کړه.

امریکایي ښکېلاک هغه مهال دخپل مادي اوعصري ځواک په غرور اونشه دومره مست و ، چې دچا دمنطق اودلیل داوریدو پروا یې نه کوله اونه یې دمقابل لوري دریځ ته اعتناء کوله .

خودزړورو افغانانو دبې ساریو قربانیو اوبې دریغه سربښندنو په برکت هغه جګړه چې امریکا دغرور ،تکبر اوځواک په روحیه پیل کړې وه ،له نیکه مرغه دادی نن یې په بشپړه توګه بایللې او دتیرو دولسو کلونو دسختو وهلو اوټکولو له امله یې د کبر اوغرور بیړۍ ډوبیدو نکې ده،اشغالګر ځواکونه یې دمجاهدینو ددقیقو تندریزو بریدونو په حصار اوکلابندۍ کې قرار لري ، ورځ په ورځ دهغوئ د مرګ ژوبلې په سلنه کې دومره ډارونکې زیاتوالی راځي ، چې په وجه یې دلته مېشت عسکر دتیښتې اومنډې په حال کې دي.

ولیدل شول !

چې دنظامي اومادي ځواک اوطاقت پرمتو متکي هېوادونه نیول، سېمې اومنطقې اشغالول ،بې له شکه آسان دي ،خو په جبر اوظلم سره پرآزادو ولسونود تل لپاره خپل راج چلول یقیناً ناکامه هڅه ده ، په دې باب نه چا دیوولسم ستمبر وړاندې شک اوشبه درلوده اونه یې اوس لري.

ښکاره ده چې دامریکا پراختیا غوښتونکي شیطاني عزایم تریو ي سېمې اوهېواد پورې محدود نه وو ، په لومړي سرکې دامریکا سیاست اوګټو ته دکوم خطر اوډاراوښتو څخه په بې پروا یې جورج بوش دامریکا په مشرۍ روان جنګ "نړیوال صلیبي جنګ "یاد کړی و ، داچې نن ورځ نوره نړۍ دامریکایي ښامار له منګلو ځان خوندي احساسوي ، داپه نړۍ او بشریت دشوروي سره ښامار دوژلو وروسته دافغان باتور ولس یوه بله پیرزوینه اولورینه ده ،چې دامریکا یې ښکېلاک دپراختیا غوښتنې شوم عزایم یې په نطفه کې خنثی اوشنډ کړل

،دامریکا اوسني انجام ته په پام سره ،له دې وروسته به هیڅ کوم سترځواک ونه غواړي ،چې د نظامي طاقت پر مټ دې په کوم هېواد اوولس یرغل کولو ته زړه ښه کړي.
داشغالگر صلیبي ائتلاف عسکرو چې په تیرو دولسو کلو نوکې بې شمیره ظلمونه اوجنایتونه کړي ،بیا هم تمه لري، چې له افغانستانه دوتلو لپاره به داډ من فرصت ترلاسه کړي ،هرڅوک پوهیږي چې په تیرو دولسو کلونوکې دامریکا اوناټو دوحشت پالو عسکرو بشرضد ظلمونه اوجنایتونه هیڅکله هم نه ایجابوي چې هغوئ دې دتیښتي لپاره ابرومندانه لاره پیدا کړي.
حتمي ده چې هغوئ به د وتلو پروخت له افغانستانه دشوي زیان پوراخلي !بیا به خپلې کډې بارکړي ، په دې وروستیو کې دمیدان وردګ ولایت نرخ ولسوالۍ کې دلسګونو هغوبندیانو مړه جسدونه موندل چې امریکایانو په داړو اوچپاوونو کې له خپلو کورو نوبیولې وو اوبیا یې تروهلو او شکنجو لاندې په ډېره بې رحمۍ اوبې دردۍ سره شهیدان کړي ، همداسې دبرتانوي وحشي عسکرو له لوري دماشومانو مجبورول... پرې جنسي تیري کول... اوځورول... هغه نه ښېنونکې طاغوتي جنایتونه دي ،چې په اوریدو یې دسړي دبدن غونه ځېږیږي... افغان قهرمان ولس به یې دعاملینو په وړاندې کله هم له نرمښت اوعاطفي نه کار وانخلي... پخپل ټول توان اوځواک به دلته له میشتو بهرنیو یرغلګروغچ واخلي او اجازه به ورنکړي، چې دانسانیت او اسلامیت دښمنان روغ سالم له دې هېواده ووځي.
دکتونکو په آند د امریکا لخوا د ۲۰۱۴ زترپایه دعسکرو ایستلو پروسه له چل اوفریب څخه ډکه ده، امریکا غواړي په دې چل ول دځان په وړاندې دافغانانو اونړیوالو دمخالفت سلنه کمه کړي ، په حقیقت کې امریکا اودائتلاف ځینې هېوادونه تکل لري ،چې د۲۰۱۴ زکال وروسته هم په افغانستان کې پوځي حضورولري، داوباما لخوا دډرون بریدونو دکنټرول سستم له(سي آی ای) نه پنتاګان ته سپارل هم ددې لړۍ یوه برخه ده ،چې غواړي دډرون بریدونوتمرکز یواځې تر مهمو اودقیقوهدفونو محدود کړي او په پایله کې یې د۲۰۱۴ کال ترپایه په سیمه اومنطقه کې ځینې مهم شخصیتونه او هدفونه له منځه یوسي ، دثبوت لپاره یې بروګسل کې داوسنۍ نوې پریکړې اعلان دی چې له امله به یې د۲۰۱۴ زکال وروسته دجرمني اوایټالیا په ګډون دامریکا یوشمېر پوځیان په افغانستان کې پاتې وي ،چې دابه په راتلونکې کې دافغانستان په ګډون دسیمې اومنطقي دټولو ګاونډیو هېوادو لپاره ښه عواقب ونلري ،ددې اړتیا ده چې دسیمې اومنطقي هېوادونه په ښکاره له امریکا وغواړي چې څومره ژر کیدای شي افغانستان کې پوځي شتون پای ته ورسوي اود۲۰۱۴زکال ته دانتظار پرځای دې د دې ناروا اشغاله لاس په سرشي ،
ځکه سیمه اومنطقه کې ټولې ناخوالې دامریکا دپوځي موجودیت زیږنده دي ، په کومه ورځ چې له افغانستانه دامریکا وحشي ځواکونه ووځي په هغه ورځ به په افغانستان اومنطقه کې سوله خپلې وزرې وغوړوي ،پدې باب دروسیې دبهرنیو چارو وزیر وینا دیادولو وړ ده چې ویلې دي افغانستان کې دامریکا په ضد جنګیدونکې طالبان دجنګ دومره ه وړتیا لري چې څنګه دامریکا اوناټو ځواکونه له افغانستان نه ووځي په څو ساعتونو کې دننه به هغوئ خپل بیرغ په پلازمېنه کابل ورپوي !

په کابل کې د CIA په زړه برید!

عبید تنویر

پرون دجمعې دمازدیګر په ۴ بجو یوشمیر سرښندونوکواتلانوو کولای شول چې دکابل ښار دقوای مرکز ترټولو حساس ترینې سیمې کې په نوریوشمیر مهمو داخلي اوخارجي مرکزونو سربیره د CIA مرکز ترمخامخ برید اوګوزارلاندې ونیسي اودرنه مرګ ژوبله وروارړوي .

دکابل رسنیواوداجیر رژیم ویندویانودخپل عادت اومعمول له مخې په مسلسل ډول کوښښ وکړچې ددغه ستراوکفرلړزونکي بریداوګنوچاودنواهمیت اوزیان ډیرکم اودځوتنو په عسکرواوخارجي اتباعو په سرسري زخم اخیستلو یې خلاصه کړي اووایي چې بریدکونکي کې په اولوساعتونوکې له منځه وړي ؛ خواصلي حقایق اوشواهدبلکل برعکس اوبلخیل دي .

د طلوع ،آینه اویک تلویزونو دبیلابیلو راپورونواودعیني شاهدانودتوضیحاتوله مخې اتلوفدایانو په خپل ړومبي موټربم چاودنې کې چې د محافظت عامه معینیت پر ورانـدې یې ترسره کړه ، شاوخوا امنیتي موانع یې له یوې مخې دړې وړې کړل چې ممکنه نده هلته دې څوک سالم اوژوندي پاتې شوي وي ،له هغه ورسته منظمواو په سپکوادرنووسلوسمبالوسرتیرو دشاوخواودانیو په لورځمکني تعرض پیل کړاوپر ته لدې چې څوک ورسره مقاومت وکړي ځانونه یې هغې لورې ودانۍ ته ورسول اومورچې یې پکې ونیولې چې د عامه ساتنې د ځواکونو دفتر ، دملي امنیت یو روغتون او د CIA مهم مرکزاومیلمستون پکې شتون لري .

دورستیوراپورونوله مخې سرتیرومجاهدینودمازدیګرله ۴ بجوڅخه دشپې تر ۱۰ بجو پورې ګوته په شمیر ۴ تنواتلانودخارجي قواوو په ګډون دګوډاګې اداري د ۲ زروتنوقواوو سره په کلک مقاومت بوخت ول اوترهمدغه مهاله دکفراوګمراهی دغه مجهزلښکرداجرات اوتوان نه درلودچې اتلان خاموشه اوپرمورچویې وروخیږي .

دمجاهدینودکره معلوماتو په اساس چې مخامخ له دغواتلوفدایانوترلاسه شوي د CIA په مرکزکې ټول خارجي اتباع چې شمیریې ۲۰ تنوته رسیده یاوژل شوي اویاپې هم مرګاني ټپونه اخیستي ، ددې وجه داده چې اتلانوداسې نقطې دبریدلپاره انتخاب کړې وې چې په ودانۍ کې دکلابندوبرغلګرواوګوډاګیانودوتلوچانس نه ترسترګوکیده اوکه به کوم یوه دتیښتې هڅه هم کوله هدف به ګرځیده.

دتعجب ځای دادی چې دکابل چارواکي اوویندویان یې په دې خبره هیڅ بحث نکوي اودشرم اوخجالت ځای یې نه بولي چې څنګه یوه ډله مجاهدین دکابل هغې ساحې ته چې دامنیتي شدیدوتدابیرولـه وجې هلته دچاخبره مرغی هم پرنشي وهلای په دې کامیابیږي چې له سپکودرنووسلواوچاودیدونکوموادوسره آن دسي ای اې ، مهم مرکز اوزره ته ځان ورسوي اوټول هغه امریکایي استادان چې دکابل اداري دملي امنیت دجاسوسانودروزنې لپاره هلته دیره وه اوهغه ودانۍ یې دځان داستراحت لپاره غوره کړې وه اودامنیتي تدابیرولـه مخې یې مصؤنه بلله له تیغه تیر اوتاریخي درس ورکړي.

دکابل دغه ډندورچیان ایله په دې خبره ذلیل بریتونه تاووي چې له ۷ ساعتوکلک مقاومت ورسته ددوی ځواکونه دخارجي قواوو په مرسته وتوانیدل چې ټول بریدکونکي له منځه یوسي ، خوداجیرې څیرې په دې نه شرمیږي چې ۴ تنه وګوره او ۲ زره تنه اودهغوی محدودې مرمی اوجنګي تجهیز مقایسه کړه اوبیامقابل لورې ،شمیر ، چورلکې ، ټانګونه ، توپونه اولیزرتوغندي اوله بلې خوا داخبره له شک اوشبهې وتلې ده چې هغه څوک دغسې بریدونه سرته رسوي دهغوی ورستي اوبواځیني غوښتنه حتمي شهادت وي .

نووبلای شوچې دخالدبن ولیددپیل کړل شوو عملیاتو په لړکې دکابل ښارپروني عملیات هغه تاریخ ساز ګوزارووچې ګرده CIA یې پرې ولړزوله اوامریکایانو ته یې په داګه کړه چې هیڅ داسې سیمه اوساحه په افغانستان کې نشته چې هلته داسلامي امارت اتلان اومجاهدین دبریداوګوزارځواک اوحوصله ونلري (انشاالله تعالی)

دښځو دزورزیاتي په نوم د قانون شرعي جایزه!

کابل کې

(مفتي شاهد- حقاني)

داسې ښکاري چې لویدیځوال ګام په ګام زمونږ پر اسلامي ارزښتونو او ملي نوامیسو خپله یرغلیزه پروسه لاپسې ګړندۍ کوي او له یوې نه بلې ورځې ته زمونږدټولنې دیني اودودیز منل شوي بنستونه نړوي ،له بده مرغه چې غربیان او کفري جوامع، زمونږاسلامي ټولنه هم دخپلو خپلسرو ټولنو سره مساوي پرتله کوي ،دخپل سولیدلي تهذیب په ودې زمونږدسپیڅلي تهذیب دمسخې هڅې کوي ،دلویدیځ شرایطو ته په کتنه چې کوم ډول وضعي قوانین ددوئ دولسواکۍ داصولوله مخې تقنیني جرګوتصویب او هلته دنفاذ او تعمیل بللي ، زمونږاسلامي هیوادکې هم په هماغه هڅه بوخت دي ،ترڅو مو(خدای ج مکړه)ددیني اساساتو رنګ تت ،ولسي دودیز آرونه مسخ اودلویدیځ په دیموکراتیکه روحیه پالل شویو تالیڅتو تکنوکراتانو په لاس په اصطلاح لومړۍ دګل خانې له مانۍ او بیا دکابل دپارلمان خیمې نه یې تر جعلي او غولونکیو بحثونو وروسته دقانون په بڼه په اصطلاح جمهوررئس صیب توشیح کړي.لویدیځوال په مختلفو نیرنګونو خپلو غوښتنو اوناسپیڅلو عزایمو ته دحقیقت شکل ورکوي، کله وایي چې افغانستان کې دښځوسره زور زیاتی روان دی ،افغانان ورته حقوق نه ورکوي اوددوئ سره روان برخورد که پای ته ونه رسیږي ،نو نړیواله ټولنه به خپلې مرستې بندې کړي ،بله ورځ پسې دمدني ټولنو په نوم یوشمیرکابل میشتې کړۍ اوروزل شوي غورمالان راپاڅوي ،په لوړکومې کوکارۍ وهي ،چې دلته د دوولسوکالو دیموکراتیکو کوششونو سربیره بیا هم پرښځوجبراو ظلم کیږي او ددوئ حقوق تر پښولاندې کیږي ،کله هغه ګمارل شوي پارلماني ښځې چې دلویدیځوالو په شنوډالرو دکابل تقنیني هال ته دداسې هیوادني اواسلام ضد فساداتو لپاره ننوتې، دغربیانو دمیډیا او لوډ سپیکرونوله لارې چیغې اوسورې پورته کړي ،چې خشونت علیه زنان ، خشونت علیه زنان او خشونت علیه زنان ادامه دارد....اوچې څوک بیا ددې غرب مشوبه ښځو دامترنم ، ساندیزاو زړه بوږنونکې وېر وانه وري ،نو تش په نوم دملل متحد (یوناما) وال خو بیا په ډېر جدیت سره دکابل له ګوډاکۍ اداري وغوارۍ چې دښځوپروړاندې دزور زیاتي؟ دمخنیوي قانون سمدستي تنفیذ کړي اوپډ ې بیا دکابل غلامي اداري ته ګوتخڼدنه هم وکړي .

مخکې يې د((راوا))په نوم د ښځويو نام نهاده بدنام تنظيم جوړکړی و ،هغې به هم همداسې په ډله ايزه بڼه ناروا غوښتنې کولې ،آن د اسلامي امارت دواک په کلونو کې به يې غړيو ښځو د امارت په لاس د شرعي نظام ډاګيز مخالفت کاوه، چې نن سبا يې ځای د پته ورته نورو بدنامو تنظيمونو نيولی او هغه پاليسي مخ پر وړاندې بوځي کومه چې ورته کفري حلقې جوړوي او دوئ ته يې د تطبيق لپاره سپاري.

دې وروستيو کې د(يوناما)ادارې له کابل چارواکيو څخه همدا غوښتنه په مفتضحانه شکل سره کړې، چې له بده مرغه د دې ادارې مشر حامد کرزي يې د نورو غوښتنو په څېر دا اسلام او افغانيت ضد غوښتنه منلې او داسې يو تقنيني فرمان يې د ښځو د زور زياتي د مخنيوي په عنوان د دې ادارې ولسي جرګې ته د قانوني بڼې د خپلولو لپاره ليږلی ،چې ټول مواد يې د اسلام د مبين دين له اساساتو نه خلاف او د کفري قوانينو سره اړخ لګوي ،د نړيوالو رسنيو چارواکيو د (يوناما) دا غوښتنه او د کابل ميشتو ګوډاګيانو سلامي او تيار سی ته خپلو مطبوعاتو کې داسې انځور ورکړی :

م.م: د ښځو پر وړاندې زورزياتي د مخنيوي قانون دې پلی شي

دغه قانو نه يوازې د افغان نجونو او ښځو لپاره بلکې د ټولې افغاني ټولنې لپاره مهم دی

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سياسي دفتر يوناما مشر يان کوبېش له افغان حکومت نه غوښتي، چې د ښځو پر وړاندې د زورزياتي د مخنيوي قانون په بشپړه توګه پلی کړي.

يونما له حکومت نه د دغه غوښتنه له هغه وروسته کوي، چې په ولسي جرګه کې د دغه قانون طرحه د ښځو د مدني حقونو او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې وبلل شوه.

د ښځو پر وړاندې د زورزياتي د مخنيوي قانون د ولسمشر په تقنيني فرمان توشيح شوی او اوس ولسي جرګې ته د قانوني بڼې خپلولو لپار استول شوی دی.

خو د ولسي جرګې يو شمېر غړي پر ولسمشر تور پورې کړی، چې د دغه فرمان په ترڅ کې يې شرعي ارزښتونه په پام کې نه دي نيولي، چې په خبره يې له اساسي قانون نه سرغړونه ده.

د دغه قانون په طرحه کې جنجالي مادې له يوې د زياتو ښځو ودول، د ښځو وهل ډبول، جنسي تېری، له ۱۲ کلنۍ د کم عمره نجلۍ ودول، په واده کولو کې د لور له انتخاب سره مخالفت او د امن په کورونو کې د ښځو پناه اخيستل دي، چې له مخې يې ولسي جرګې دغه قانون تصويب نه کړ.

خو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سياسي دفتر يوناما له افغان حکومت نه غواړي، چې په ټول افغانستان کې په بشپړه مانا دې دغه قانون پلی کړي.

د دغه دفتر يو وياند نظيف الله سالار زی وايي، افغان حکومت بايد د هغو ژمنو له مخې عمل وکړي چې له نړيوالې ټولنې سره يې د ښځو د حقه حقونو د ورکولو په برخه کې کړې دي.

افغان حکومت له نړيوالې ټولنې سره تېر کال د توکيو د دوه اړخيزه حساب ورکولو په چوکاټ کې يو شمېر ژمنې کړې او پر ځينو کليدي موخو يې هوکړه هم کړې، چې په هغو کې يوه هم دا ده، چې په افغانستان کې مېرمنې له ټولو حقه حقونو څخه برخمنې وي.

په تېرو څلورو کلونو کې ښځو ته دغه ژمنه شوې حقونه د همدغه لانجمن تقنيني فرمان په رڼا کې ورکول

شوي دي چې د پلي کولو په ترڅ کې يې تر دې دمه سلګونه کسان د ښځو پروړاندې د زورزياتي له کبله زندان ته اچول شوي....

داسې ښکاري چې دکابل غلامې اداري لا څلورکاله مخکې دې ډول تقنيني ډوله طرح باندې عمل پيل کړی او داسلام ضد دامادې يې لا پخوا نافذ العمل ګرځولې ،خو قانونيت يې ځکه تر سوال لاندې راغلی ،چې دده په پارلمان کې ځينې داسې خلک هم شته چې دا قانون داسلام سره په ټکرکې بولي ،يعنې که ددغو پارلمانيانو څخه عملي اسلام کډه کړي ،نو دبعضو هغو سره يې نظرياتي اسلام چې ورته له خپلو پلرونو او نيکونو څخه په عنعنوي بڼه پاتې دی، ددې اجازه لاهم نه ورکوي، چې داسې غيراسلامي او غيرافغاني قوانين چې ددې پارلمانيانو پر اسلامي هويت او افغاني تشخص داغ لګوي،دمګړۍ داساسي قانون برخه شي !

دې څېړنيزه ليکنه کې به کوشش وکړو ،چې دالله ج په مرسته دښځو دزورزياتي دمخنيوي په نوم دکرزي په اصطلاح دتقنيني فرمان هغه طرح چې جزئيات او مادې يې ټولې هم له اسلامي شريعت له اصولو او هم له افغاني عنعناتو څخه مخالفې دي ،تر بحث لاندې ونيسو ،دادې لپاره چې دا په اثبات ورسوو ،چې دديموکراسۍ ښځينه قوانين لکه دنورو هغو ،هاغه دې چې زمونږ پرولس تحميل شوي او هيڅکله له اسلامي بنسټونو او افغاني منل شوي کلتور سره اړخ نه لګوي ،ځکه افغانان من حيث القوم مسلمانان او دوضعي قوانينو پرځای ورته اسلامي قوانين درناوی لري هره داسې طرح نشي منلی چې دفوق الذکر بنيادونو سره په تضاد کې قرار ولري !

هغه مادې چې دا انديښنې زېږولې او دلته به يې دشرعي نصوصو په رڼا کې دترديد هينداره تصويرشي دادي:

د دغه قانون په طرحه کې جنجالي مادې له يوې د زياتو ښځو ودول، د ښځو وهل ډبول، جنسي تېری، له ۱۲ کلنۍ د کم عمره نجلۍ ودول، په واده کولو کې د لور له انتخاب سره مخالفت او د امن په کورونو کې د ښځو پناه اخيستل دي، چې له مخې يې ولسي جرګې دغه قانون تصويب نه کړ.

ددې تقنيني طرحه ايزقانون يوه ماده چې آن دکابل په ولسي جرګه کې هم نده تاييد شوي:

(۱)(ديوې ښځې نه دزياتو ودول دي)داسې ښکاري چې لويديځوال ديوې ښځې نه دزياتو ښځو په نکاح کول دښځو سره زور زياتی بولي ،پداسې حال کې چې اسلامي شريعت تر څلورو پورې دښځو دمناکحې اجازه ورکوي او کوم ډول ظلم او جبر يې پرښځو دعدالت او قسم په مراعاتولو سره نه تلقي کوي ،که غربي حکايتونه وارواو رسنيو کې يې ولولو ،نو په ډاګه به شي ،کفري ټولنو کې که ديوچا لپاره ددوئ دقانون له مخې يوې ښځې سره رجسټرې نکاح خط لري ،نو شل نورې بيا بې رجسټره ساتلای شي او کوم ډول عار او پيغور هلته نه برېښي ،ددې کبله زيات وخت دخود کشيو او ځانوژنو اطلاعات ميډيا کې پدې باب خپرېږي ،هلته يوه پيغله يا مړوخه کولای شي ،چې له ګڼو نارينه وو سره له کومې نکاحي سند پرته مياشتې مياشتې او کلونه په خلوت کې واوسېږي او داکار نه حکومتي جرم او نه هم کورنی پيغوردی ،نو که چېرته په يوه اسلامي هيواد کې يو کس ددې ډول ناروا اړيکو پرځای مشروع نکاح وکړي او ترڅلورپورې ورته جائز شي، دانصاف دغوښتنو له مخې بايد کوم باک به ونلري ،له بده مرغه

چې لوید یځوال ځانته لسګونه او سلګونه ښځې بې نکاح روا بولي، خو مسلمان ته بیا یوازې دڅلورو ښځو شرعي مناکحه کول پر ښځو زورزیاتی بولي، اسلامي شریعت چې تر څلورو پورې دښځو کولو اجازه ورکړې او هم دساینسي څېړنو له مخې په خلقي لحاظ دسړي فزیکي ځواک له ښځې نه زیات تثبیت شوی، نو پدې صورت کې چې که چېرته اړتیا ولیدل شي، سړی اړ دی چې بله ښځه وکړي او دا کوم بشري قباحت ندی.

دقرآنکریم مبارک نصوص ددې لاربنوونه کوي چې که سړی ښځو کې تعادل ساتلی شي، نو تر څلورو پورې ورته اجازه شته لکه چې فرمايي:

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا (3)

تفسیر بغوي کې دسورت النساء داکریمه آیت له شان نزول او دڅلورو ښځو دجواز مسله له اړوندو تاویلاتو او توجیهاتو سره مله داسې رانقل شوي، چې هم پکې دیتیمانو دحقوقو تصورشتون لري او هم دیوې نه ډېرو ښځو (څلورو پورې) دجواز موضوع پداسې شکل تفسیر شوي:

{ وَلَا تَتَبَدَّلُوا } أي: لا تستبدلوا، { الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ } أي: مالهم الذي هو حرام عليكم بالحلال من أموالكم، واختلفوا في هذا التبدل، قال سعيد بن المسيب والنخعي والزهري والسدي: كان أولياء اليتامى يأخذون الجيد من مال اليتيم ويجعلونه مكان الرديء، فربما كان أحدهما يأخذ الشاة السمينة من مال اليتيم ويجعل مكانها المهزولة، ويأخذ الدرهم الجيد ويجعل مكانه الزيف، ويقول: درهمٌ بدرهم، فنُهوا عن ذلك.

وقيل: كان أهل الجاهلية لا يُورّثون النساء والصبيان ويأخذ الأكبرُ الميراثَ، فنصيبه من الميراث طيب، وهذا الذي يأخذه خبيث، وقال مجاهد: لا تتعجل الرزقَ الحرام قبل أن يأتيك الحلال.

{ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ } أي: مع أموالكم، كقوله تعالى: { مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ } أي: مع الله، { إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا } أي: إثما عظيما.

{ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا (3) }

وقوله تعالى: { وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ } الآيةَ اختلفوا في تأويلهم، فقال بعضهم: معناه إن خفتم يا أولياء اليتامى أن لا تعدلوا فيهنّ إذا نكحتموهن فانكحوا غيرهن من الغرائب مثنى وثُلاث ورُباعَ أخبرنا عبد الواحد بن أحمد المليحي، أنا أحمد بن عبد الله النعيمي، أنا محمد بن يوسف، أنا محمد بن

إسماعيل، أنا أبو اليمان، أنا شعيب، عن الزهري، قال: كان عروة بن الزبير يحدث أنه سأل عائشة رضي الله عنها { وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ } قالت: هي اليتيمة تكون في حجر وليها فيرغب في جمالها ومالها ويريد أن يتزوجها بأدنى من سنة نسائها، فنهوا عن نكاحهنّ إلا أن يقسطوا لهن في إكمال الصداق، وأمروا بنكاح من سواهنّ من النساء، قالت عائشة رضي الله عنها: ثم استفتى الناس رسولَ الله صلى الله عليه وسلم، فأنزل الله تعالى: { وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ } إلى قوله تعالى {

وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ} (1) . فبيّن الله تعالى في هذه الآية أن اليتيمة إذا كانت ذات جمال أو مال، رغبوا في نكاحها ولم يلحقوها بسنتها بإكمال الصداق، وإذا كانت مرغوبة عنها في قلة المال والجمال تركوها والتمسوا غيرها من النساء، قال: فكما يتركونها حين يرغبون عنها فليس لهم أن ينكحوها إذا رغبوا فيها إلا أن يُقسطوا لها الأوْفى من الصداق ويُعطوها حقها

أخرجه البخاري في التفسير - تفسير سورة النساء، باب "وإن خفتم أن لا تقسطوا.... " 8 / 239، ومسلم في التفسير برقم (3018): 4 / 2313 – 2314

(تفسير البغوى)سورت النساء

دادى وليدل شوه چې الله ج هيخكله ديوه واحد خالق په صفت چې دخپل مخلوق تخليقي جوړښت او ددوئ بشري قوت ورته معلوم دى، يوه سړى ته پورتني شرايطو ته په پام تر خلورپورې دښځو اجازه ورکړي ،دلته چې ښکاره نص موجود دى ،څنګه به يو څوک چې ظاهرا يې دمسلمانى دعوه هم کړي اوځانونه مسلمانان بولې ، خو بيا هم دقرآني نصوصوپر خلاف دکفارو دخوشحالولولپاره په اسلامي هيوادکې غير اسلامي قانون تصويبوي او دقرآن صريح نص له پامه غورځوي.

(۲)د ښځو وهل ډبول : شک نشته چې اسلامي شريعت سړوته بې ضرورته دښځودوهلو اجازه نه ورکوي، بلکې ورته حکم کوي چې له خپلو ښځوسره ښه معاشرت کې ژوند وکړئ !لکه څنګه چې الله ج فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا (19)

ددې آيت په تفسيرکې حافظ ابن کثيررح په تفسيرابن کثيرکې داسې ليکلې چې: وقوله: { وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ} أي: طيِّبُوا أقوالكم لهن، وحَسِّنُوا أفعالكم وهيئاتكم بحسب قدرتكم، كما تحب ذلک منها ، فافعل أنت بها مثله، كما قال تعالى: { وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ} [البقرة:228].

حافظ ابن کثيررح ددې آيت په تفسيرکې ليکي ،چې لکه څنګه چې تاسو ناربنه له خپلو ښځونه ورته غوښتنه لرئ ،همداسې تاسوهم له خپلو ښځوسره ښې خبرې ښه چلند وکړئ اوهم په ښه هيأت ځانونه عيارکړئ ،ابن کثيرددې موضوع دلاښه روښانتيا لپاره داحديث رانقل کړى چې :(وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأهْلِه، وأنا خَيْرُكُم لأهْلي "(5) وكان من أخلاقه صلى الله عليه وسلم أنه جَميل العِشْرَة دائم البِشْرِ، يُداعبُ أهلَه، ويَتَلَطَّفُ بهم، ويُوسِّعُهُم نَفَقَته، ويُضاحک نساءَه، حتى إنه كان يسابق عائشة أم المؤمنين يَتَوَدَّدُ إليها بذلک. قالت: سَابَقَني رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فَسَبَقْتُهُ، وذلک قبل أن أحملَ اللحم، ثم سابقته بعد ما حملتُ اللحمَ فسبقني، فقال: "هذه بتلک "(6) ويجتمع نساؤه كل ليلة في بيت التي يبيت عندها رسول الله صلى الله عليه وسلم، فيأكل معهن العشاء في بعض الأحيان، ثم تنصرف كل واحدة إلى منزلها. وكان ينام مع المرأة من نسائه في شعار واحد ، يضع عن كَتِفَيْه الرِّداء وينام بالإزار، وكان إذا صلى العشاء يدخل(7) منزله يَسْمُرُ مع أهله قليلا قبل أن ينام، يُؤانسهم بذلک صلى الله عليه وسلم وقد قال الله تعالى: { لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ} [الأحزاب: 21].وأحكام عشرة النساء وما يتعلق بتفصيل ذلک موضعه كتاب "الأحكام"، ولله الحمد.

له پورتنيو احاديثوڅخه داسلام دستر پيغمبرص خواږه اخلاق او نيک چال چلند له خپلو اهل بيتوسره ډير ښه څرګندشول ،چې دې مبارک غوره سړى هغه بللى چې خپل اهل وعيال ته غوره او ورسره نيک چلند کوي اوبيا

فرمايي چې زه تاسو کې له خپل اهل سره ښه چلند کوم او غوره يم.

وقوله تعالى: { فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا [وَيَجْعَلُ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا] (1) } أي: فعسى أن يكون صبركم مع (2) إمساككم لهن وكراهتهن فيه، خير كثير لكم في الدنيا والآخرة. كما قال ابن عباس في هذه الآية: هو أن يَعْطف عليها، فيرزقَ منها ولدًا. ويكون في ذلك الولد خير كثير (3) وفي الحديث الصحيح: "لا يَفْرَك مؤمن مؤمنة، إن سَخِطَ منها خُلقا رَضِيَ منها آخر" (4).

لاندينو رواياتوکې به په ډاګه شي، چې د ښځوو هل ممنوع دي او رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ي خلک منع کړل، خو بيا ورته دوئ د ښځو له فساداتو شکايت وکړ، نو اجازه يې ورکړه، خو ورته يې وويل چې اخيار او ښه خلک به بيا هم خپلې ښځې نه وهي، او د ښو خلکو همدا صفت دی چې ښځې ونه وهي، بلکې نصيحت به ورته کوئ او پدې به يې اداره کوئ!

فقهاوو دي آيتونو او احاديثو ته په پام سره د ښځو وهل په څلورو مواردو کې مجاز بللي، چې هغه يو ترک الزينة، ترک الاجابة الى الفراش، ترک الغسل او ترک المنزل دی، علامه زين بن نجيم رح په بحر الرئق کې همدا څلور ځايونه د ښځو د وهلو لپاره جايز کړي، چې تاديبا يې پدې څلورو عللو مجبورا وهل مشروع دي، چې د لاندينی حوالې ددې لپاره ښه وضاحت لري:

3576 - اضربوهن أى النساء ولن يضرب خياركم (البزار عن عائشة) [المناوى]

أخرجه البزار كما فى كشف الأستار (2/191 رقم 1496). قال الهيثمى (4/332): فيه على بن الفضل وهو متروك.

3577 - اضربوهن ولا يضرب إلا شراركم (ابن سعد عن القاسم بن محمد مرسلاً)

أخرجه ابن سعد (8/204) عن القاسم بن محمد أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - نهى عن ضرب النساء فقيل: يا رسول الله إنهن قد فسدن ... فذكره.

3578 - أضعفت أربيت لا تقربن هذا إذا رابک من تمرک شيء فبعه ثم اشتر الذى تريد من التمر (أبو يعلى عن أبى سعيد)

أخرجه أبو يعلى (2/518، رقم 1371) وأخرجه أيضاً: أحمد (3/60، رقم 11599) ومسلم (3/1216، رقم 1594).

(جامع الحديث للسيوطى)

وفي رواية لمسلم: ((إنَّ المَرأةَ خُلقت مِنْ ضِلع، لَنْ تَسْتَقِيمَ لكَ عَلَى طَريقة، فإن اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عوَجٌ، وإنْ ذَهَبْتَ تُقيمُهَا كَسَرْتَها، وكَسْرُهَا طَلاقُهَا)).

قوله: ((عَوَجٌ)) هُوَ بفتح العينِ والواوِ.

(1) - وعن عبد الله بن زَمْعَةَ - رضي الله عنه -: أنَّهُ سَمِعَ النَّبيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَخْطُبُ، وَذَكَرَ النَّاقةَ وَالَّذي عَقَرَهَا، فَقَالَ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلَّم -: (({ إذ انْبَعَثَ أشْقَاهَا } انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَزِيزٌ، عَارِمٌ مَنِيعٌ في رَهْطِه))، ثُمَّ ذَكَرَ النِّسَاءَ، فَوَعَظَ فِيهِنَّ، فَقَالَ: ((يَعْمِدُ أحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأتَهُ جَلْدَ العَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا مِنْ آخِرِ يَومِه)) ثُمَّ وَعَظَهُمْ في ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ، وَقَالَ: ((لِمَ يَضْحَكُ أحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ؟! ((2)))) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

((وَالعَارِمُ)) بالعين المهملة والراء: هُوَ الشِّرِّيرُ المفسِدُ، وقوله: ((انْبَعَثَ))، أيْ: قَامَ بسرعة.

(3)- وعن أبي هريرة - رضي الله عنه - ، قالَ: قالَ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلم -: ((لاَ يَفْرَكْ

مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقاً رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ)) ، أَوْ قالَ: ((غَيْرَهُ)) رواه مسلم.

(1) - أخرجه: البخاري 210/6 (4942) ، ومسلم 154/8 (2855) (49).

(2) قال النووي في شرح صحيح مسلم 162/9 (2855): ((في الحديث النهي عن ضرب النساء لغير ضرورة التأديب ، وفيه النهي عن الضحک من الضرطة يسمعها من غيره)).

(3) - أخرجه: مسلم 178/4 (1469) (61).سنن ابي داود ج۱.

علامه زين بن نجيم رح په بحرالرائق کې داسې ليکلي:

وأما ضرب الزوجة فجائز في مواضع أربعة وما في معناها: على ترک الزينة لزوجها وهو يريدها ، وترک الاجابة إلى الفراش، وترک الغسل، والخروج من

المنزل وفي ضرب أمرأته وولده على ترک الصلاة روايتان، كذا قالوا.

البحرالرايق ج۷

(۳) پـه ښځو جنســي تيـرى کـول:داخو اسـلام څـوارلس سـوه کالـه پخـوا حرام کـړي اوهمـدوئ کفـري ټولنې اوغربي حکومتونه يې مشروعيت بيانوي ،لکه ددوئ په اصولوکې بالجبرزنا ممنوع ده ،خو پـه رضـايت سره زنـا څـه جـرم نـه دی ،پداسې حـال کې چې زنـا پـه ټولواديانوکې حرامه ده او دادول ناروا ويش يې اسلام

مونږته ندی کړی ، لکه چې الله تعالى فرمايي: ولا تقربوا الزنى إنه كان فاحشة وساء سبيلا "(3) [الإسراء: 32].

(۴) لـه ۱۲ کلنـی د کـم عمـره نجلـی ودول:دکـرزي دتقنيني فرمـان دطرحې څلورمـه مـاده دصـغيرې نجلـی سـره دواده ممنوعيـت دی ،چـې داپـه ډاگـه داسـلام لـه ارشاداتو سره په ټکرکې ده، او اسلام دصغيرې دنکاح اجازه داسې ورکوي ،لکه څنگه چې يې دکبيرې ورکړې ده، دکابـل غـلام واکمـن دخپلـو بادارنود خوشـحالولو لپـاره دکـوچنی نجلـی ودول روانـه بـولي او پـدې بـاب فرمان هم صادروي ،خودده دبادارانو په ټولنوکې دائتول جريانات دفساد په بڼه علني کيږي، دممنوعيت په باب يې کوم ډول قانون تراوسه لويد يځوالوندی صـادر کـړی ،څواوونی مخکې په همدې غربي ټولنې کې د(۹) کلنـی نجلی نه دولادت خبر رسنيو ورکړ،چې دې کوم ډول شرم هـم نـه محسوسـاوه اوپـدې کـم عمـره نجلـی کـې داسـې صلاحيت دوئ لپاره دتعجب وړ و، خوبل طرف تـه دادی زمونږپه ټولنه کې داسې جائز امورات نشي زغمـلای او آن غواړي چې دکابل داساسي قانون برخه يې وگرځوي ، ام المؤمنين عايشه صديقه رضى الله تعالى عنهـا سره درسول اکرم صلى الله عليـه وسـلم د(۹) کلنـی واده ددې ثبوت دی ،چې دالله جل جلالـه پـه نزد داکار جواز لـري اوکـوم ډول گناه نـده، هغـه نصـوص چـې لـه مخـې يـې د(۱۲) کلنـی دکـم عمرنجلـی سـره واده کـول مشـروعيت ولري !

تبيين الحقايق داسې ليکي:

وَالَّذِي يَدُلُّ عَلَى جَوَازِ نِكَاحِ الصَّغِيرَةِ قَوْلُهُ تَعَالَى { وَإِنْ خِفْتُمْ أَنْ لَا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنْ النِّسَاءِ } أَيْ فِي نِكَاحِ الْيَتَامَى هَكَذَا فَسَّرَتْهُ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ؛ وَلِأَنَّ تَأْثِيرَ الْبُلُوغِ فِي زَوَالِ

الوِلَايَةَ عَنْهَا لِقُدْرَتِهَا عَلَى التَّصَرُّفِ وَاعْتِدَالِ عَقْلِهَا بِهِ ، وَلِهَذَا تُوَجَّهُ التَّكَالِيفُ الشَّرْعِيَّةُ إلَيْهَا فَمَنْ أَثْبَتَ الوِلَايَةَ عَلَيْهَا بَعْدَ البُلُوغِ وَمَنَعَهَا قَبْلَهُ فَقَدْ عَكَسَ المَعْنَى وَهُوَ بَعِيدٌ عَنْ القَوَاعِدِ الشَّرْعِيَّةِ ، أَلَا تَرَى أَنَّ الوِلَايَةَ تَثْبُتُ لِوَلِيِّهَا فِي مَالِهَا حَالَةَ الصِّغَرِ فَإِذَا بَلَغَتْ انْتَفَتْ الوِلَايَةُ عَنْهَا فَكَذَا الوِلَايَةُ عَلَى النَّفْسِ وَجَبَ أَنْ تَجْرِيَ عَلَى القَوَاعِدِ كَمَا فِي الغُلَامِ ؛ وَلِأَنَّ هَذَا يُؤَدِّي إلَى إسْقَاطِ آدَمِيَّتِهَا وَإِلْحَاقِهَا بِالبَهَائِمِ حَيْثُ لَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا لَا بِرِضَاهَا وَلَا بِغَيْرِ رِضَاهَا ، وَاللَّهُ تَعَالَى جَعَلَ الأُنْثَى مِنْ بَنِي آدَمَ قَابِلًا لِلنِّكَاحِ ، فَيَكُونُ بَاطِلًا ؛ وَلِأَنَّ الوِلَايَةَ لَمَّا ثَبَتَتْ عَلَيْهَا بَعْدَ البُلُوغِ مَعَ قُدْرَتِهَا عَلَى قَاعِدَتِهِمْ كَانَ ثُبُوتُهَا فِي صِغَرِهَا وَهِيَ أَعْجَزُ وَأَوْلَى

(تبيين الحقايق شرح كنز الدقايق) ج٥ص٣٢٠

امام شمس الدين سرخسي په مبسوط کې د باب نکاح الصغير والصغيرة تر عنوان لاندې ليکي چې:

(قال) وبلغنا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه تزوج عائشة رضى الله عنها وهي صغيرة بنت ستة سنين وبنى بها وهي بنت تسع سنين وكانت عنده تسعا ففى الحديث

دليل على جواز نكاح الصغير والصغيرة بتزيج الآباء بخلاف ما يقوله

ابن شبرمة وأبو بكر الاصم رحمهم الله تعالى أنه لا يزوج الصغير

والصغيرة حتى يبلغا لقوله تعالى حتى إذا بلغوا النكاح فلو جاز

التزويج قبل البلوغ لم يكن لهذا فائدة ولان ثبوت الولاية على

الصغيرة لحاجة المولى عليه حتى ان فيما لا تتحقق فيه الحاجة لا

تثبت الولاية كالتبرعات ولا حاجة بهما إلى النكاح لان مقصود النكاح

طبعا هو قضاء الشهوة وشرعا النسل والصغر ينافيهما ثم هذا العقد

يعقد للعمر وتلزمهما أحكامه بعد البلوغ فلا يكون لاحد أن يلزمهما

ذلک إذ لا ولاية لاحد عليهما بعد البلوغ وحجتنا قوله تعالى واللاتي

لم يحضن بين الله تعالى عدة الصغيرة وسبب العدة شرعا هو النكاح

وذلك دليل تصور نكاح الصغيرة والمراد بقوله تعالى حتى إذا بلغوا

النكاح الاحتلام ثم حديث عائشة رضى الله عنها نص فيه وكذلک سائر ما

ذكرنا من الآثار فان قدامة بن مظعون تزوج بنت الزبير رضى الله عنه

يوم ولدت وقال ان مت فهى خير ورثتي وان عشت فهى بنت الزبير وزوج

ابن عمر رضى الله عنه بنتا له صغيرة من عروة بن الزبير رضى الله عنه وزوج عروة بن الزبير رضى الله عنه بنت أخيه ابن أخته وهما

صغيران ووهب رجل ابنته الصغيرة من عبد الله بن الحسن فاجاز ذلک على

رضي الله عنه وزوجت امرأة ابن مسعود رضى الله عنه بنتا لها صغيرة

ابنا للمسيب بن نخبة فاجاز ذلک عبد الله رضى الله عنه ولكن أبو بكر الاصم رحمه الله تعالى كان أصم لم يسمع هذه الاحاديث والمعنى فيه

ان النكاح من جملة المصالح وضعا في حق الذكور والاناث جميعا وهو

يشتمل على اغراض ومقاصد لا يتوفر ذلک الا بين الاکفاء والکف ءلا

يتفق في (المبسوط لشمس الدين السرخسي /جزء۲۵ص۴۲۱

(۵) په واده کولو کې د لور له انتخاب سره مخالفت: دراوړل شویو دلایلو له مخې دامام ابوحنیفه رح دمذهب ظاهرالروایة دادی چې ښځه خپل نفس کې دتصرف حق لري اودخپلې نکاح لپاره یو څوک انتخاب کولای شي ،داکولای شي چې دولي او یا کوم مشر داجازې پرته له کوم چاسره چې سیال یا کفؤیې وي او که نوي نکاح وکړي ،دادامام ابوحنیفه رح قول دی، همدا سې دامام یوسف اودامام محمد وروستي هغه قوا ل دي چې پای کې یې له خپل قول نه دامام صیب قول ته رجوع کړې ده ، خوداُمام فخرالدین قاضي خان چې داهل الترجیحو په طبقه کې دی او دامام شامی رح په ویناچې فقیه النفس اوپه مرتبةالاجتهادکې هم شمیرل کیږي ،خپله فتاوی خانیه کې دامام حسن بن زیاد رح په هغه قول فتوی رانقل کړې چې دامام ابوحنیفه رح څخه یې رانقل کړی او یکې وایی چې دولي یا مشرله اجازې نه په غیرکه ښځې له خپل سیال او کفؤپرځای دنا کفؤاو ناسیاله سره نکاح وکړه ،نه یوازې دا چې ولې پرې اعتراض کولای شي اوفسخ راتلای شي ، بلکې نکاح یې باطله ده، نوددې فتوی له مخې ښځې سره دخپلې نکاح صلاحیت شته، مګرله خپل سیال او کفؤ سره به یې کوي ،چې لدې نه په غیر یې نکاح صحیح نده ،تر څويې اولیاووته پیغوراوبدنامي پیدا نشي ، نو اوس پدې وضاحت سره دکرزي تقنیني فرمان له شریعت سره په تضادکې شو اوقانوني بنه ورکول به یې لدې اصولو

سرغړاوی وي ،دادي هغه مجوزینو او مانعینو دلایل اوهغه دقاضي خان فتوی: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (230)

{ فَإِن طَلَّقَهَا } فإن تعقيبه للخلع بعد ذكر الطلقتين يقتضي أن يكون طلقة رابعة لو كان الخلع طلاقاً ، والأظهر أنه طلاق وإليه ذهب أصحابنا وهو قول للشافعية لأنه فرقة باختيار الزوج فهو كالطلاق بالعوض فحينئذ يكون { فَإِن طَلَّقَهَا } متعلقاً بقوله سبحانه { الطلاق مَرَّتَانِ } [البقرة : 229] تفسيراً لقوله تعالى : { أَوْ تَسْرِيحٌ بإحسان } لا متعلقاً بآية الخلع ليلزم المحذور ، ويكون ذكر الخلع اعتراضاً لبيان أن الطلاق يقع مجاناً تارة وبعوض أخرى ، والمعنى فإن طلقها بعد الثنتين أو بعد الطلاق الموصوف بما تقدم . { فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ } أي من بعد ذلك التطليق { حتى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ } أي تتزوّج زوجاً غيره ، ويجامعها فلا يكفي مجرد العقد كما ذهب إليه ابن المسيب وخطؤه لأن العقد فهم من (زوجاً) ، والجماع من (تنكح) ، وبتقدير عدم الفهم ، وحمل النكاح على العقد تكون الآية مطلقة إلا أن السنة قيدتها فقد أخرج الشافعي وأحمد والبخاري ومسلم وجماعة عن عائشة رضي الله تعالى عنها قالت : « جاءت امرأة رفاعة القرظي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت : إني كنت عند رفاعة فطلقني فبت طلاقي فتزوجني عبد الرحمن بن الزبير وما معه إلا مثل هدبة الثوب فتبسم النبي صلى الله عليه وسلم فقال : أتريدين أن ترجعي إلى رفاعة؟ لا حتى تذوقي عسيلته ويذوق عسيلتك » وعن عكرمة أن هذه الآية نزلت في هذه المرأة واسمها عائشة بنت عبد الرحمن بن عتيك وكان نزل فيها { فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حتى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ } فيجامعها فإن طلقها بعدما جامعها فلا جناح

عليهما أن يتراجعا ، وفي ذلك دلالة على أن الناكح الثاني لا بد أن يكون زوجاً فلو كانت أمة وطلقت ألبتة ثم وطئها سيدها لا تحل للأول. وعلى أنه لو اشتراها الزوج من سيدها أو وهبها سيدها له بعد أن بت طلاقها لم يحل له وطؤها في الصورتين بملك اليمين حتى تنكح زوجاً غيره وعلى أنّ الولي ليس شرطاً في النكاح لأنه أضاف العقد إليها ، والحكمة في هذا الحكم ردع الزوج عن التسرع إلى الطلاق لأنه إذا علم أنه إذا بت الطلاق لا تحل له حتى يجامعها رجل آخر. ولعله عدوه ارتدع عن أن يطلقها ألبتة لأنه وإن كان جائزاً شرعاً لكن تنفر عنه الطباع وتأباه غيرة الرجال.

والنكاح بشرط التحليل فاسد عند مالك وأحمد والثوري والظاهرية وكثيرين ، واستدلوا على ذلك بما أخرجه ابن ماجه والحاكم وصححه والبيهقي عن عقبة بن عامر قال: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا أخبركم بالتيس المستعار؟ قالوا: بلى يا رسول الله قال: هو المحلل لعن الله المحلل والمحلل له» وأخرج عبد الرزاق عن عمر رضي الله تعالى عنه قال: «لا أوتي بمحلل ولا محلل له إلا رجمتهما» ، والبيهقي عن سليمان بن يسار «أن عثمان/ رضي الله تعالى عنه رفع إليه رجل تزوج امرأة ليحللها لزوجها ففرق بينهما ، وقال : لا ترجع إليه إلا بنكاح رغبة غير دلسة» ، وعندنا هو مكروه والحديث لا يدل على عدم صحة النكاح لما أن المنع عن العقد لا يدل على فساده ، وفي تسمية ذلك محللاً ما يقتضي الصحة لأنها سبب الحل ، وحمل بعضهم الحديث على من اتخذه تكسباً أو على ما إذا شرط التحليل في صلب العقد لا على من أضمر ذلك في نفسه فإنه ليس بتلك المرتبة بل قيل: إن فاعل ذلك مأجور.

(تفسير قرطبى) جزء۲۳

عبد الرزاق عن معمر عن الزهري وسئل عن امرأة أنكحت نفسها رجلا وأصدقت عنه واشترطت عليه أن الفرقة والجماع بيدها فقال هذا مردود وهو نكاح لا يحل /مصنف عبد الرزاق لابى بكر الصنعانى

ففي الحديث «أيما امرأة أنكحت نفسها بدون ولي فنكاحها باطل باطل»

واما من جوز النكاح بغير ولي استدل

بقوله تعالى فلا جناح عليهن فيما فعلن في أنفسهن وبقوله تعالى حتى

تنكح زوجا غيره وقوله تعالى ان ينكحن أزواجهن اضاف العقد اليهن في

هذه الآيات فدل انها تملك المباشرة والمراد بالعضل المنع حسا بأن

بحبسها في بيت ويمنعها من ان تتزوج وهذا خطاب للازواج فانه قال في

أول الآية وإذا طلقتمص -12-... ولما خطب رسول الله صلى الله عليه وسلم أم سلمة رضي الله عنها اعتذرت بأعذار من جملتها أن أولياءها غيب فقال صلى الله عليه وسلم: "ليس في أوليائك من لا يرضي بي قم يا عمر فزوج أمك من رسول الله صلى الله عليه وسلم". خاطب به عمر بن أبي سلمة وكان بن سبع سنين وعن عمر وعلي وابن عمر رضي الله تعالى عنهم جواز النكاح بغير ولي وأن عائشة رضي الله تعالى عنها زوجت ابنة أخيها حفصة بنت عبد الرحمن من المنذر بن الزبير وهو غائب فلما رجع قال أو مثلى بفتات عليه في بناته فقالت عائشة رضي الله تعالى عنها أو ترغب عن المنذر والله لتملكنه أمرها.

وبهذا تبين أن مارووا من حديث عائشة رضي الله تعالى عنها غير صحيح فإن فتوي الراوي بخلاف

الحديث دليل وهن الحديث ومدار ذلک الحديث على الزهري وأنكره الزهري وجوز النكاح بغير ولي ثم هو محمول على الأمة إذا زوجت نفسها بغير أذن مولاها أو على الصغيرة أو على المجنونة وكذلک سائر الأخبار التي رووا على هذا تحمل أو على بيان الندب أن المستحب أن لا تباشر المرأة العقد ولكن الولي هو الذي يزوجها والمعني فيه أنها تصرفت في خالص حقها ولم تلحق الضرر بغيرها فينعقد تصرفها كما لو تصرفت في مالها

ومما يتصل بهذا الفصل مسألة النكاح بغير ولي. الحرة البالغة العاقلة لو زوجت نفسها من رجل هو كفء لها أو ليس بكفء لها نفذ النكاح في ظاهر رواية أبي حنيفة رحمه الله وهو قول أبي يوسف رحمه الله آخراً، لا أن الزوج إذا لم يكن كفئاً فللأولياء حق الاعتراض، فروى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله أن الزوج إذا لم يكن كفؤاً لا ينفذ النكاح وكان أبو يوسف رحمه الله أولاً يقول: يتوقف النكاح إلى أن يجيزه الولي أو الحاكم، على كل حال وهو قول محمد رحمه الله، وصح رجوع محمد إلى قول أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله آخراً، ذكره في كتاب «الحيل» وإذا قصرت في مهر مثلها فللأولياء حق المخاصمة مع الزوج حتى تبلغ تمام مهر مثلها أو يفرق القاضي بينهما./المحيط البرهانى لمحمد النجارى)

حَتَى لَوْ طَلَبَتْ مِنْ الْوَلِيِّ أَنْ يُزَوِّجَهَا مِنْ كُفْءٍ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ التَّزْوِيجُ حَتَّى لَوْ امْتَنَعَ يَصِيرُ عَاضِلاً وَيَنُوبُ الْقَاضِي مَنَابَهُ فِي التَّزْوِيجِ.

وَأَمَّا حَدِيثُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَقَدْ قِيلَ: إنَّ مَدَارَهُ عَلَى الزُّهْرِيِّ فَعُرِضَ عَلَيْهِ فَأَنْكَرَهُ وَهَذَا يُوجِبُ ضَعْفًا فِي الثُّبُوتِ، يُحَقِّقُ الضَّعْفَ أَنَّ رَاوِيَ الْحَدِيثِ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَمِنْ مَذْهَبِهَا: جَوَازُ النِّكَاحِ بِغَيْرِ وَلِيٍّ وَالدَّلِيلُ عَلَيْهِ: مَا رُوِيَ أَنَّهَا زَوَّجَتْ بِنْتَ أَخِيهَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ مِنْ الْمُنْذِرِ بْنِ الزُّبَيْرِ وَإِذَا كَانَ مَذْهَبُهَا فِي هَذَا الْبَابِ هَذَا فَكَيْفَ تَرْوِي حَدِيثًا لَا تَعْمَلُ بِهِ؟ وَلَئِنْ ثَبَتَ فَنَحْمِلُهُ عَلَى الْأَمَةِ؛ لِأَنَّهُ رُوِيَ فِي بَعْضِ الرِّوَايَاتِ: {أَيُّمَا امْرَأَةٍ نُكِحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهَا} دَلَّ ذِكْرُ الْمَوَالِي عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ مِنْ الْمَرْأَةِ الْأَمَةُ فَيَكُونُ عَمَلًا بِالدَّلَائِلِ أَجْمَعَ وَأَمَّا قَوْلُ/بدايع الصنايع

ولَهُ) أي للوليّ (الاعتراضُ هُنَا) أي فيما لو زَوّجَتْ نَفسَها من غير كُفوء، بأن يَطلُبَ من القاضي التفريقَ بينهما للُحُوق العار له بمصاهرة غير الكُفء، وليس هذا التفريق طلاقاً، بل هو فسخٌ لأصل النكاح، ولهذا لا يجب عليه شيءٌ إذا لم يدخل، ولو سكت الوليُّ لا يكون ذلک رضاً، ولو خاصم لنفقتها أو لقبض مهرها كان ذلک رضاً، ولو ولَدَتْ منه، فليس للوليّ حقُّ الفسخ، لئلا يضيع الولد. (ورُوي بُطلانُهُ) أي بطلان نكاحها إذا زَوّجَتْ نفسَها (بلا كُفْؤ) روى ذلک الحسنُ عن أبي حنيفة، وفي «الخانيّة»: هذا أصحُّ وأحْوَطُ والمختار للفتوى في زماننا، إذ ليس كل وليّ يُحْسِنُ المرافعة إلى القاضي، ولا كل قاضٍ يَعْدِل، ولذا قيل: الوقوف على باب القاضي في هذا الزمان ذلٌّ، فسَدُّ هذا الباب أولى. والمطلقة ثلاثاً لو زَوّجتْ نفسَها من غير كُفْؤ ودخل بها، ثم طلقها لا تَحِلُّ للزوج الأول على ما هو المختار من رواية الحسن /شرح الوقاية لعلى الحنفى /ج٣/ص ٢٣٧

(٢)د امن په کورونو کې د ښځو پناه اخیستل دي:

داهغه وروستی پارونکې ماده ده، چې د کابل واکمن د ښځو د دفاع په نوم خپل تقنیني فرمان کې لیکلې، خو په حقیقت کې ښځو ته دې جرأت ورکوي، چې له خپلو کورونو څخه د چا نا محرم سره وتښتي او

دپېړو دوستانو سره دناروا اړيکوپه جرم له خپلو مشرانو ښځه په کوم داسې کورکې پناه واخلي ، چې هغه بې نامحرم وي او هر ډول اخلاقي فساد پکې له امکانه لېرې نوي ،دکرزي دا پارونکی فرماني قانون به ښځې دې ته وهڅوي ،چې له کوم کس سره نامشروعې اړيکې ونيسي او په ډېر ډاډ سره پدې ناجايزو روابطو کې دلچسپي ښکاره کړي ،ځکه که دکور خلک پرې خبرهم شي ،ددې اجنبي هلک کور يا دبل نا محرم سړي کور کې پناه اخستل به ورته قانوني جوازوي او که څو مياشتې يا کلونه پس هم چاکره پيدا شي ،دکابل ګوډاګې اداره به بې خپلوان ددې نه منع کوي چې دې زناکارې ښځې ته سزا ورکړي، نودلته ده چې دزنا کارۍ دروازه به خلاصه شي او بې مهاره نجلۍ به په ناروا او وسر شي الله ج فرمايي

يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا }

له پورتنۍ خبرنې څخه جوته شوه ،چې دکابل دغلامې ادارې دښځو پروراندې دزور زياتې هغه تقنيني فرمان چې دکابل ادارې واکمنو پرې له څلوروکالو نه عمل پيل کړی او ډيری سړي يې ددې قوانينو دتخلف په تور نيولي خوخپلې ولسي جرګې ته يې دقانونيت لپاره تازه ليږلې او هغوئ بعضو چې له افغان ولس نه يې داسلام په نوم رأيه اخستې له شرمه يې د اسلام خلاف او دښځو دمدني ارزښتونو سره په تضاد کې بللې ،نودادې دپورتنيو شرعي نصوصو څخه په ډاګه شوه ،چې داجنجالي مادې حقيقتا هم دشريعت مخالفې اوقانونيت يې دافغاني دښځو په ارزښتونو پښې اېښودل دي ،کرزي ته نه ښايي چې زمونږ افغاني ښځې دهغو قوانينو او فرامينو په منظورۍ بې حجابه او بې ارزښته کړي ،چې لومړی دغرب د کليساووپه اوبو کې پريمنځل شوي او بيا زمونږ حياناکو او مسلمانو ميرمنو ته ارمغان شوي وي ،يوه افغانۍ ښځه او نر به داسې غيراسلامي قوانين ونه مني اونه به ورته التزام وکړي !

¤ ¤ ¤

په افغانانو د بهرنیو طرحو تېل ناکامه تجربه ده

(بشير)

دناټواو امریکا ګډ ځواکونه د زیاتې ورخطائي اوعجلت په روحیه له افغانستانه بېرته دوتوغوښتنه کوي دېته په پام دناټو او امریکا دواړو لپاره پالیسي تاکونکي ماغزه په زیاته سر ګرداني اولهاندۍ سره لګیادي او هڅه کوي چې دخبرواترو او مذاکراتو یوه داسي فرمایشي بهیر ته لار هواره کړي .په کوم کې چې ورته ځینې نمایشي بریاووي او جعلي پرمختیاوي په لاس ورتلای شي.

په همدې موخه په سیمه اومنطقه کې امریکائي دیپلوماتانو اوجنرالانو یوواریبا دلیدنو او کتنو دیپلوماسي تازه کړه، .څنګه چې وړاندې دقطر جریان په رامنځته کېدو امریکا هڅه کړی وه، چې دمذاکراتو د جعلي پړاو ونوپه عنوانولو خپلو خلکو اونړیوالو ته وښیي چې افغانستان کې دامریکا اوناټومېشت ځواکونه دشکست په ځای دبري موقف لري ، داځل هم دور ته هلوځلو په ترڅ کې غواړي ځو وښائي چې امریکایان دسولي پلویان دي او له افغانستانه دابرومندانه انخلاء په لار درومي او په باعزته تو ګه خپل عسکر وباسي.

یعنې غواړي له افغانستانه دامریکایانو وتل داسي توجیه کړي ګواکې امریکا اوناټو پر افغان ولس دپیروزیني اولورینې له مخې خپل ځواکونه باسي، نه دپوځي شکست له امله ! ځو په دې سره خپل دکبر

نړیوال موقف له لاسه ورنکړي ولې دشکست په روحیه دامریکا اوناټو وتل دلویدیځ لپاره مر ګوني پیغام دی ، دابعینه هغه تاریخ تکراروي څه مهال چې دشوروي عسکر افغانستان کې مات شول ، شوروي سملاسي له امریکا سره یو داسي توافق لیک لاسلیک کړ چې شوروي لښکري دڅنیو تړون ته ددرناوي او په افغان ولس دمهربانۍ اوپیروزینې پخاطر

وځي ،نه دپوځي شکست اوماتې له امله . خوښکاره ده هغه مهال دجهاد اومقاومت مشرانو دامریکایانو اوشورویانو دغه ګډه شرمیدلې توطئه وغندله اوکله چې دڅنیو لوظنامي له مخې په ۱۳۶۷ز کې له افغانستانه دشوروي عسکرو وتل پیل شول د مجاهدینو له لوري ترهغې دبې ساریو سختو بریدونو سره مخ شول ، څو چې دشوروي وروستي پوځي دافغانستان له پولې اخوا پوریوت ،اوس امریکا غواړي دافغانستان دځینو ګاونډیو هېوادو سره ورته تفاهم ته ورسي څو هغوئ ور سره په وتلو کې مرسته وکړي ،خوحقیقت دادی چې دافغانستان اسلامي امارت سره دتوافق اوتفاهم پرته هیڅوک به ونشي کړای چې امریکایانو وتلو ته دې دمصؤنیت راهدري ور کړي.

بل امریکا دخپلو هغو ملګرو اوغرب پلوافغانانو دراتلونکې په اړه اندېښنه لري چاچې په تېرو دولس کلو کې دافغانستان او اسلام پر خلاف په څر ګنده اوناڅر ګنده تو ګه جنایتونه کړي ،

امریکا ددې لپاره چې خپلو خلکو اونړۍ ته څرګنده کړي چې د ځان وروسته یې افغانستان کې چارې یوه جوړ دولت ته وسپارلې اوهم یې خپل ملګري یې سیوري او بې سرپناه پرینښودل غواړي دکرزي رژیم له سقوطه وژغوري ،ددې لپاره دبیلابیلو بهرنیو لوریو سره جرګې اومرکې تدویروي .اوله هغوئ څخه دخپلو پاتې شونو سره دمرستې اوهمکاریو لوظونه اخلي .

بل امریکا داارزولري چې دوتلو پر وخت کې یې په ځواکونو بریدونه و نشي اوپه عزت سره دوتو لار ور کړل شي .

کله چې دقطر جریان رامنځته شو هغه مهال هم امریکا غوښتل چې په هم دې روحیه مذاکرات اوخبرې وکړي . څو په آسانه پور ته یادو اهدافو تر لاسه کړي . خو داچې دقطر جریان دمذاکراتو مرحلې له پیل څخه ورانده ټکان وخوړ ،امریکاونه توانیده چې دغه خیالي ستراتیژي یې تحمیل کړي وه .

اوس امریکا دافغانستان له ګاونډیو هېوادو غواړي چې هغوئ ورسره مرسته وکړي . دامریکا دبهرنیو چارو وزیر جان کیري په ګډون دامریکایې جنرالانو سیمې ته وروستیو سفرونو هم داپیغام لاره خو حقیقت دادی چې له افغان ولس پر ته هیڅوک هم امریکا ته په عزت کې د وتلو ډاډ اوتضمین نشي ور کولی ولې ثابته ده چې پر افغانانو له بهرنه د طرحو تپل بدنامه هڅه او ناکامه تجربه ده ښه داده څو ک یې بیا تکرار نکړي، اوڅرګنده ده اوس مهال دافغان ولس د دې ملي روح استازیتوب مجاهدین (اسلامي امارت)کوي که امریکا رښتیا سوله غواړي اوله خپلې جنګې تګلارې لاس اخلي یکار دی هغوئ دافغانستان دیوه لوی زمکنې واقعیت په حیث اومنې اونور دجعل اوفریب هڅو ته دپای ټکې کېږدي . دافغانانو دغلامولو له هوس تیر شي اوداخبره حتمي ده چې امریکا دا ناکامه هڅې به لاسپوڅې او ګوډاګیان دملت له محاسبې ونه ژغوري کوموچې دافغان ولس داسلامي ارزښتونو اودملي یووالي پر ضد له امریکایې پرغل سره مرسته کړي ، هغوئ به خامخا دخپلو کړو بدو عملونو تراخه څکې اونه به امریکا اوغربیان هغوئ بخپلو هېوادو کې د ځانو سره پاتې کړي ، ولې امریکا اوغربیان خپله دسختو اقتصادي بحرانو ښکار دي ممکن که په دې اړه کوم ګام و اخلي هم هلته دولسونود ټکلک ناراضیت اوسخت غبر ګون سره مخ شي دڅیړ ونکو په اند امریکااوناټو څکه دځواکونو ایستلو ته زیات لیوال دي چې دتیر و دولس کلو راهیسې پر لپسې یې عسکر په جنګ بوخت دي ،له امله یې هره ورځ په لس ګونو عسکر وته مر ګ ژوبله رسي ، هلته په امریکا او اروپا کې دپوځیانو په خپلوانو او کورنیو کې دجنګ نه کر که اونفرت مخ په زیاتیدودی ،دولتونه دسخت فشار سره مخ دي له دې وجې اوباما غواړي هر څومره ژر چې شوني وي امریکا باید خپل عسکر له افغانستانه وباسي .

ولې دامریکا ولس په دې باوري شوي چې افغانستان کې دخپلوموخو ترلاسه کول خوب لیدل دي اوپه مقابل کې یې جنګیدونکي افغانان ورځ تر ورځې تقویه کېږي هغوئ چې هر څنګه اوهر چېرې وغواړي دامریکااوناټوځواوو پر ضد عملیات کوي .

دامریکا دنجات یوازینۍ لار داده چې د۲۰۱۴ز کال څخه ورانده روان جنګ پای ته ورسوي اوخپل شکست اومني ولې تاریخ په دې شاهددی چې افغانانو هیڅکله هم پردیو ته سرونه ندي ټیټ کړي د پخوانې انګریز اوشوروي شکستونه یې دپرونې تاریخ ژوندۍ اوړنې بېلګې دي او که دافکر کوي چې دافغانستان ګاونډیان به ورته نجات ور کړي ،دانګیرل یې دحماقت پر ته بل تعبیر نلري دنړۍ هیڅ هېواد اوځواک نشي کولی چې هغه دې دچل ول اوجعل کاریو له لارې خپله اراده اوپریکړه په افغانانو تحمیل کړي ولې ښکاره ده دروان تاریخي جهاد اومقاومت ریښې بیر ته په افغان ولس کې دي څنګه چې دلته ورانده دانګریزانو اوشوروپانوزور اوبه شو ی او دیر غلګرو ککړی یې ورغړیدي همداسې به امریکا انجام هم وي اوهغه ورځ راتلونکې ده چې دلته پاتې بهرنې عسکر دافغان ولس دداسې پراخ قهرجن پاڅون ځپې واخلي چې آن د امریکایانو له ذهنونو به دویت نام یادونه اوداستانونه محوه کړي هو! هغه ورځ ! ...

دملکي تلفاتو دمخنیوي دځانګړي اداري له

مسؤل ښاغلي سرحدي سره مرکه

درنو لوستونکو !

تاسو پوهیږئ چې دافغانستان په روانه جګړه کې دملکي تلفاتو موضوع یوه خورا دردوونکې واقعیت دی ، موږ تقریبا همیشه له رسنیو اورو چې په جګړه کې ملکي خلکو ته زیان اوړي ، مالونه یې تلف کیږي او کله ناکله حتی ژوند له لاسه ورکوي.

سره له دې چې دملکي تلفاتو زیاتره وقائع ددشمن لخوا رامنځته کیږي ، چې ډیر ځله خو دښمن قصدا غواړي دویرې او ترهې دخپرولو لپاره ملکي تاسیسات ، کلي او کورونه په نښه کړي ، چې اسلامي امارت ددښمن لخوا دداسې جنایاتو دمخنیوي لپاره هم همیشه لازمه هڅه کړې ده ، همیشه یې دمظلومو هیوادوالو غږ راپورته کړی ، ددښمن جنایات یې افشاء کړي ، او دملګرو ملتونو په شمول یې نړیوالې اداري دداډول جنایاتو په اړه اقدام کولو ته رابللي دي ، تردې چې په دې برابر اسلامي امارت په خپل وس پوره هیڅ اقدامات نه دي سپمولي.

مګر د ملکي تلفاتو بله برخه هغه تلفات دي چې دمجاهدینو په بریدونو او کله ناکله په چاودنو کې ملکي خلکو ته زیان اوړي.

ددې موضوع دمخنیوي لپاره هم اسلامي امارت له پیله ډیر شدید موقف غوره کړی او خپل مجاهدین یې همیشه دې ته متوجه کړي چې دملکي خلکو ساتنې ته دهرڅه په نسبت اولویت ورکړي ، په دې اړوند داسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمرمجاهد حفظه الله هم همیشه په خپلو پیغامونو کې تاکید کړی ، او مجاهدین یې متوجه کړي دي.

خو څرنګه چې دامسئله خورا مهمه ده اسلامي امارت دملکي تلفاتو دمخنیوي لپاره په دې وروستیو کې دنظامي کمیسیون په چوکاټ کې ځانګړی کمیټه په دنده ګمارلی ، ترڅو دملکي تلفاتو دمخنیوي په لاره کې فعالیت وکړي ، دملکي تلفاتو پیښې وڅیړي ، او دمخنیوي لپاره یې کار وکړي.

دلته مو دهمدې کمیټې له مسؤل ښاغلي قومندان سرحدي صاحب سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه

محترم سرحدي صاحب له هرڅه وړاندې درته هرکلی وایو که لومړی دملکي تلفاتو دڅیړنې او مخنیوي ددې نوې تاسیس شوي اداري په اړه موږ ته معلومات راکړئ ، چې ددې اداري دجوړیدو انګیزه او هدف څه وو ؟

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علي امام المجاهدين محمد وعلي آله واصحابه اجمعين وبعد:

وروره! لکه څرنګه چې تاسي ښه پوهيږئ او د افغانستان اوضاع له نژدې تر مطالعه لاندي لرئ، د افغانستان اکثريت سيمه د افغانستان اسلامي امارت د مجاهدينو تر عملي تسلط لاندي ده، او په دې خپلو تر کنټرول لاندي سيمو کې د اسلامي امارت تولې نظامي او ملکي اداري فعالي دي، خو بل اړخ ته د افغانستان د کورنيو او بهرنيو دښمنانو له خوا څخه د دې سيمو عامو ولسونو ته ډير تهديدات متوجه دي، بمباريږي، زورول کيږي او په يوه بل نامه تر روحي او جسمي شکنجو لاندي دي، دغه راز کله ناکله د مجاهدينو لخوا هم په غير ارادي توګه ملکي خلک زيانمن کيږي نو څرنګه چې د افغانستان د خلکو د قاطع اکثريت د دې تولو موضوعاتو د حل يوازينی مرجع اسلامي امارت دی نو د مشرتابه محترم مقام لازمه وګڼله چې د دې فاجعي د مخنيوي لپاره د شرعي مسؤليت له مخي د اسلامي امارت په چوکاټ کې يوه مستقله با صلاحيته اداره د ملکي تلفاتو د مخنيوي په نوم جوړه کړي تر څو د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه د کومي بدي پيښي پروخت دقيق معلومات تر لاسه او د پيښي د عاملينو د محاکمي او د بيا تکراريدو د مخنيوي لپاره جدي تدابير ونيسي.

پوښتنه:

ستاسو اداره څومره واک او صلاحيت لري چې د ملکي خلکو د تلفاتو په صورت کې عاملين ونيسي او محکمي ته يي وسپاري؟ او همدا راز تاسو د خپلې اداري لپاره کومه لائحه يي کارلري؟ او مهمي مادې يي څه دي؟

ځواب

د ملکي تلفاتو د مخنيوي اداره د خپل کارد پرمخ بيولو لپاره بشپړ صلاحيت لري چې د تصويب شوي لائحي ديو څو مادو د مضمون له مخي يي تاسو ته په لنډو ټکو کي د خلاصي په ورانديز کولو تشريح کوو(۱) دغه اداره دنده لري تر څو هغه ملکي تلفات وڅيړي او بشپړ معلومات يي وکړي او را پوريي د اسلامي امارت مشرتابه مقام ته وړاندي کړي، کوم چې د مجاهدينو لوري ته منسوب کيږي هغه که په فدايي بريدونو، ځمکنيو ماينونو، توغنديي بريدونو او يا هم د نورو درنو او يا سپکو وسلو د کارولو په نتيجه کې رامينځته شوي وي (۲) هغه ډول ملکي تلفات چې د امريکايي نيواکګرو، د ناټو د اشغالګرو، يا د داخلي ګوډاګيانو په رانده بمبارد، بي رحمه ډزو، چاپو اچولو يا هم نورو عملياتو کې رامينځته کيږي، دقيق وڅيړل شي راجستر او د نظامي چارو کميسيون مسؤل ته يي راپورورکړشي تر څو د راتلونکي لپاره يي د مخنيوي په لاره چارو غورو شي.(۳) په کومو پيښو کې چې مجاهدينو غفلت کړی وي، د دې اداري د تحقيق څانګه مسؤليت لري چې له غفلت کونکو څخه هر اړخيز تحقيقات وکړي او که عامل مجرم ثابت شي شرعي محکمي ته د لازمي سزا ورکولو لپاره معرفي شي. همدا راز په شپاړسو (۱۶) مادو کي مستقله لائحه هم د دي ښکارندويه ده چې پوره کاري صلاحيت دې اداري ته ورکول شوی دی.

پوښتنه:

اګر که ستاسو اداره نوبنياده ده، خو بيا هم که دا راته ووايئ چې تراوسه مو په څومره هغو دوسيو کار کړئ چې د ملکي تلفاتو د عاملينو پوري اړوند دي او ايا د ملکي تلفاتو له امله کومه قضيه تثبيت کړې او سزا ورکړې ده؟

ځواب

بلي! د دې لپاره چې ځواب واضح او مهم ټکي ورکي

راونغاړل شي په لنډه توګه درته عرض کوم چې: تراوسه پورې موږ پوره دوه سوه (۲۰۰) دوسيې ترغور او څيړنې لاندې نيولې او راجستر کړې او قسمايي تحقيقات جريان لري، دا هغه دوسيې چې همدا اوس ورباندې کار روان دی او ان شاءالله زر به يې نتائج معلوم شي.

دغه راز موږ د پيښو په شمير عاملين هم راجلب کړي چې څو تنه في الحاله زموږ له خوا د تحقيقاتو د ترسر کولو په موخه نظربنده دي.

ان شاءالله موږ داده يوه چې ددغو هر اړخيزو هڅو په برکت به ملکي تلفات حداقل شميرې ته راټيټ شي، څرنګه چې ملکي تلفات دجګړې يو تريخ واقعيت دی چې يو مخ ختميدل يې شايد ناممکن وي، خو بيا هم موږ ژمن يو چې دغه تلفات ترټولو ټيټې کچې ته راښکته کړو، په دې اړه لله الحمد دامارت مشرتابه او عام مجاهدين هم دمسئلې اهميت ته ډير متوجه دي، همدا لامل دی چې دافغانستان داوسني جهاد ملکي زيانونه دهرې جګړې په پرتله کم دي، خو موږ هڅه کوو چې دغه ډول پيښې له منځه لاړې شي.

پوښتنه

څرنګه چې تاسو پوهيږئ چې ډير موارد د ملکي تلفاتو پيښې د دښمن له خوا وي، دهغو دتثبيت او راجسترلپاره هم تاسو څه طرزالعمل لرئ؟

ځواب

په دې اړه بايد ووايم چې موږ له ټولو ممکنه لارو استفاده کوو تر څو د ملکي تلفاتو دقضاياوو په اړه شته حقائق ځانته معلوم کړي او بيا په همدې بنياد خپل کار ته دوام ورکړو، ترڅو دهيوادوالو دسر او مال دحفاظت دنده په ښه توګه سرته ورسوو، ددې لپاره چې دملکي تلفاتو قضاياوو ته زموږ رسيدګي اسانه شوې وي زموږ دکميسيون لائحې داسې حکم کوي.

(۱) داسلامي امارت دنظامي چارو دکميسيون ټولې حلقې او غړي، واليان، دولايتي کميسيونونو مشران او مسؤل مجاهدين په دې مکلف دي چې ددې ادارې له غوښتنې سره سم دپيښې دعاملينو په ګوته کولو، راجلبولو، تحقيقاتو بشپړولو او هراړخيزو معلوماتو ورکولو کې پوره همکاري وکړي (۲) دکومې زړه دردونکې پيښې پر وخت که ضرورت وليدل شي ددې ادارې مسؤل دې په بيړه له سيمې څخه دمعلوماتو دترلاسه کولو لپاره يو پلاوی وليږي، له ولايتي مسؤلينو يا نورو امارتي مقاماتو څخه دې دهمکارۍ غوښتنه وکړي دنظامي چارو دکميسيون مشر ته دې دمصارفو او نورو اړتياو دپوره کولو وړانديز وکړي ترڅو پيښه په تاوده حالت کې له نږدې بررسي شي دغه ډول خلک او مجاهدين کولای شي په لاندينۍ تيلفون شمير او يا هم ايميل ادرس باندې رابطه وکړي ترڅو يې غږ تر کميسيون پورې ورسيږي او کميسيون يې په وخت دقضاياوو په اړه اقدام وکړي

زموږ دتيلفون شميره (0093707918384)

زموږ دايميل ادرس (grmsiry@yahoo.com)

پوښتنه

دملکي تلفاتو له متحملينو سره، هم تاسو دهمکارۍ يا خواخوږۍ کومه طريقه لرئ چې دتلف شويو خلکو له کورنيو او خپلوانو سره اړيکه ونيسئ، هغوی ته تسليت ورکړي او يا هغوته ډاډ ورکړئ او داسې نور.؟

بلې! په ځينو هغو مواردو کې چې که خدای مکړه، داسلامي امارت مجاهدين پريا قسما ښکيل وګڼل شي ټول شرعي موازين له ټولو اړخونو سره په پام کې نيول شوي دي، دپيښې له قربانيانو سره په لوړه سطحه

خواخوږي څرګنده شوې ده او د توان په اندازه مرسته هم ورسره شوې ده.

پوښتنه:

دملکي تلفاتو دمخنيوي لپاره څومره ډاډه ياست چې وبه کړای شي ،ملکي تلفات بالکل بند او يا اقلاً کچه يې ډيره ټيټه کړئ ،آيا خلکو ته ډاډ ورکولای شئ ؟

ځواب

ان شاءالله موږ ډاډه يوه چې ددغو هراړخيزو هڅو په برکت به ملکي تلفات حداقل شميرې ته راټيټ شي ، څرنګه چې ملکي تلفات دجګړې يو تريخ واقعيت دی چې يو مخ ختميدل يې شايد ناممکن وي ، خو بيا هم موږ ژمن يو چې دغه تلفات ترټولو ټيټې کچې ته راښکته کړو ، په دې اړه لله الحمد دامارت مشرتابه او عام مجاهدين هم دمسئلې اهميت ته ډير متوجه دي ، همدا لامل دی چې دافغانستان داوسني جهاد ملکي زيانونه دهرې جګړې په پرتله کم دي ، خو موږ هڅه کوو چې دغه ډول پيښې له منځه لاړې شي.

پوښتنه

دملکي تلفاتو په مخنيوي کې مجاهدينو او خپل اولس ته څه پيغام لرئ چې هغوی بايد دپيښو په وخت کې له تاسو سره څه مرسته وکړي ؟

ځواب

دافغانستان په هره ولسوالۍ کې ځيني مخلص کسان موږ ددې لپاره مؤظف کړي چې دپيښي پروخت هغوی له نژدې ټول کيفيت تثبيت کړي او زموږ د تليفون مخصوصي شميرې هم هروخت دهرچالپاره خلاصي دي چې که هرڅوک وغواړي راسره معلومات شريکولای شي .نوله ټول ولس څخه هيله ده که خدای مکړه په سيمه کې يې ملکي خلکو ته تلفات واوړي چې زموږ سره په يادوشميرواوپه پورته ليکل شوي اي ميل ادرس ريښتوني معلومات شريک کړي.

دغه راز موږ شاهدان يو چې ډير څله ملکي خلکو ته زيان دمجاهدينو دبې احتياطۍ له وجې نه بلکې دملکي خلکو د بې پامۍ له امله اوړي ، مثلا دامريکايانو قوه په مياشت کې يو ځل يوې سيمې ته داخليږي ، مجاهدين ورته ماينونه عياروي ، او له ملکي خلکو غواړي چې دامريکايي ټانګونو ترمخ حرکت ونه کړي ، او يا نوراحتياطي لارښووني ورته کوي ، مګر خلک دمجاهدينو احتياطي لارښوونې په پام کې نه نيسي او دملکي تلفاتو پيښې رامنځته کيږي ، چې په دې ډول هم اولس ته زيان اوړي او هم مجاهدين زيات متاثر کيږي ، له اولس نه مو غوښتنه ده چې دملکي تلفاتو په مخنيوي کې دوی هم همکاري وکړي ، او دمجاهدينو لخوا اعلان شوي احتياطي تدابير په کلکه مراعات کړي.

پوښتنه

که په لنډودهغو قضاياوو شميروښيئ چې تاسو ثابته کړې چې په رشتياهم په داسي پيښو کې دمجاهدينوله خوا هم بې احتياطي شوي دي او قضيه يې ترتعقيب لاندې وي ؟

ځواب

بلې !دوې پيښې په کندهارکې ،څلور په هلمندکې،يوه په وردګوکې، يوه په زابل کې اويوه په فارياب کې موږ داسي لروچې په ډيرتآسف مجاهدين ورکې قسماً دخيل دي ،اوس مودوسيي تياري کړي اوپه دې نژدې کې به شرعي محاکموته وسپارل شي .

ــ محترم سرحدي صاحب داچې موږ ته مو وخت را کړ او زموږ پو ښتنو ته مو په سړه سينه جوا بو نه ووېل کو ر مو و دا ن.

ــ له تاسو څخه هم ډيره مننه کورموودان: چې هروخت دمسؤلينو په متوجه کولو اوله اولس سره دهمغږي کولولپاره نه ستړي کيدونکي خدمت کړی دی.

طالبان؛ نهاد افتخار جهانی!

به قلم: ابوصهیب حقانی **هراتی**

از آنجائیکه جهاد مقدس مجاهدین در افغانستان، بر اساس عزت اسلام و آزادی کشور از چنگال یهود و نصارای و دشمنان متجاوز، بنیان گذاشته شده است و این عبادت مقدس با اخلاص فراوان و تلاشهای حماسه آفرین، هر روز بهتر از روز قبل به پیش می رود؛ طبعا تاثیرات مثبت زیادی برجای گذاشته و می گذارد؛ چنانچه قدرت تاثیر گذاری این حرکت حماسی (و خداجویانه مجاهدین سلحشور افغنی) از حد کشور و منطقه فراتر رفته و تبدیل به یک حرکت بین المللی شده است؛ طوریکه اکنون در هرکنج و کنار دنیا مسلمانان آزاد اندیش و آزادیخواه و طرفداران واقعی اسلام خالص، همان چیزی را از حکام خود مطالبه می کنند که فرزندان برحق افغانستان (اینجا در خاک شیران) برای تحقق آن مبارزه نموده و با شور و شوق و عشق فراوان به اسلام و حریت، قربانی های طاقت فرسا را متحمل می شوند؛ و این بدان معناست که مجاهدین افغانی نه تنها برای آزادی افغانستان بلکه برای عزت اسلام و اعاده حیثیت کل مسلمین تلاش و مبارزه می نمایند. اجتماع رای وقوت دشمنان در سال 2001م علیه نابودی خاک پاک و ملت شریف افغانستان براساس همین تفکر عزت و حریت طلبی فرامنطقه ای مجاهدین امارت اسلامی بود که آتش غیظ دشمنان را شعله ور کرد و کینه های صد ساله اندرونی و عداوت هزار ساله آنها با اسلام سمحه و مسلمین واقعی را برملا ساخت و آنها را برآن

داشت که برای جلوگیری و نفوذ گسترده این طرز تفکر، بین آحاد مسلمین به تشکیل اردوی تا دندان مسلح (با اشتراک بیش از پنجاه کشور کفری و) با تجهیزات مدرن نظامی تحت پرچم (شیطانی) صلیب به رهبری طاغوت زمان آمریکا، جمع شده و به لشکرکشی روی آورند؛ که تا اکنون این جدال حق و باطل همچنان در افغانستان ادامه دارد و ملت قهرمان و عزیز کشور، متحمل رنج ها و مصایب غیر قابل وصف گردیده و مجاهدین قهرمان و فرزندان برحق اسلام و افغانستان با

تاسی به تاریخ پرحماسه خویش موجی از افتخارات ارزنده و فداکاری های بی نظیر در اوراق زرین تاریخ خلق نموده اند و با توکل محض بر ذات اقدس الهی تا هم اکنون (که عمر این جنگ نابرابر، به بیش از 12 سال رسیده) علیه قوت های بیگانه و اجیران فرومایه آنها ، مصروف فعالیت های جهادی هستند ؛ و دشمنان خارجی را به عقب نشینی ، تعویض تاکتیک ، تغییر موضع و حتی شکست و فرار مجبور نموده اند ؛ تا جائیکه (اشغالگران خارجی) با ترس و یاس آهنگ فرار برداشته ، غزل خداحافظی سرودند و مقدمات فرار ذلیلانه و شکست خفت بار خویش را ترتیب داده و آماده خروج گشته اند .

استراتیژی جهاد مقدس امارت اسلامی افغانستان به قدری عمیق ، حیاتی ، مهم و سرنوشت ساز خوانده شده که تاثیراتش کل کشور ، منطقه و جهان را فرا گرفته است ؛ طوری که مسلمانان در هرگوشه دنیا نام حرکت ها و جنبش های ضد نظام های کفری ، طاغوتی ، دیکتاتوری و بیگانه پرست ، در کشورهای خود را بنام "امارت اسلامی " مسمی نموده و خواستار تطبیق شریعت خاص اسلام (به کمال و تمام) می شوند ؛ عین آنچه که طالبان (نام مشهور مجاهدین در سطح بین الملل) در زمان زمامداری خویش در افغانستان بر آن عامل بوده و همینک برای تحقق آن علیه نظام دست نشانده کابل و اشغالگران خارجی بشدت با مایه گذاشتن از جان و مال خویشتن خویش ، مبارزه می نمایند و آنها (مجاهدین) چنان در کارشان استوار و بر مواضع شان ثابت قدم هستند که هرگز برای دلخوشی کفار و منافقین سر سوزنی کوتاه نیامده و از خود در مقابل دشمنان دین ملایمت نشان نمی دهند و در این ره ، باک و هراسی از ملامت ملامت گران نداشته و بطور صحیح و دقیق "... ولا یخافون لومه لائم " و "... اشدآء علی الکفار... " و هزاران آیه دیگر قرآن عظیم الشان را عملا مصداق می بخشند .ز همین رو طبق گزارش رسانه های مهم و مطبوعات کثیرالانتشار جهان ؛ وقتی در مصر ، جوانان و مردم مسلمان مصری علیه سهل انگاری ها در اجرای شریعت مقدس اسلام ، مظاهره می کنند ؛ نام مظاهرات شان را "قندهار ثانی ! " عنوان می دهند و طبق گزارش خاص شبکه خبری بی بی سی ، قصد مردم از این شعار اجرای شریعت اسلامی ؛ مثل نظام طالبان در افغانستان بوده است ؛ وقتی مجاهدین قهرمان در سر زمین پهناور "قفقاز " بر ضد قوای روسی مبارزه می کنند در صفحات پر بیننده "فیسبوک " نام عملیاتها و سازمان جهادی خویش را "امارت اسلامی قفقاز " عنوان می کنند تا این کلمه آشنا "امارت اسلامی " تعبیری باشد زیبا ، از هرحرکت و جنبش عدالتخواه در کل دنیا ؛ وقتی مجاهدین سوری در سوریه بر ضد نظام دیکتاتوری بشار اسد مبارزه می کنند ؛ بسیاری از رسانه ها مکررا از نفوذ و رخنه مجاهدین امارت اسلامی افغانستان در صفوف مجاهدین سوری خبر می دهند و نام بعضی جریان ها و عملیات های موفق را "تحریک طالبان " یا "امارت اسلامی " عنوان می دهند و ...آری ! امارت اسلامی افغانستان دیگر تنها یک نام محض نیست و نه نام یک حزب سیاسی و یا یک حرکت جهادی متعلق به یک کشور خاص ؛ بلکه امارت اسلامی نام عزت و حیثیت گمشده کل مسلمانان دنیاست که با یافتن و با نگاه در آئینه شفاف و براق آن اصل گمشده اسلام و رمز پیروزی مسلمین در ادوار تاریخ (که همان جهاد مقدس باشد) پیدا می شود و در اجراء و پیاده کردن این فریضه مقدس الهی دنیای اسلام دگرگون و اوضاع مسلمین به بهترین وجه تغییر می کند و حیثیت از دست رفته مسلمانان باز گشته ، هیمنت آنها در زمین خدا ترمیم و حکومت و

هیبت شان حاکم می گردد ؛ با آنهمه موانعی که سد راه ترقی و پیشرفت مجاهدین است ؛ ولی بازهم به فضل الله جل جلاله و جهاد مخلصانه مردان راستین راه حق ، نهضت جهاد در حال جهانی شدن است و خوشبختانه مردم غیور افغانستان در این امر پیشقراول هستند و از قندهار اول(افغانستان) تا قندهار ثانی (مصر) ، از کوهای هندوکش (افغانستان) تا کوهای سر به فلک کشیده قفقاز و از غارهای توره بوره (افغانستان) تا صحرای سینا (مصر) و ارض شام (سوریه) همه از اسود و ابیض ، افغان و سوری ، ترک و تاجیک ، عرب و عجم ، سرخ و سفید ، پیر و جوان از "امارت اسلامی "می گویند و خواهان تطبیق نظام و عدالت شرعی ؛ مثل نظام طالبان در افغانستان !اما عزت و افتخارات جهاد مقدس مجاهدین به اینجا ختم نمی شود ؛ و غیرت و شهامت مثال زدنی ملت افغان تنها در میان مسلمانان خلاصه نمی شود بلکه شان و شوکت مجاهدین تا جایی ارتقاء پیدا می کند که جوانان اروپایی و فرزندان دشمنان دیرینه ، نیز به عزم و غیرت ، شجاعت و رشادت ، سلحشوری و دلاور دلی فرزندان افغان غبطه خورده و رشک می برند ؛ چنانچه طبق گزارش بی بی سی (درتاریخ 5 می 2013 م)؛ "... باشگاه ورزشی فلومیننسه برزیل از هواداران و بازیکنانش خواست که از کمپینی که آنها را تشویق به گرفتن عکس با ظاهر سرباز طالبان می کند خارج شوند ... هواداران فلومیننسه از بازیکنان این تیم خواستند تا با "نشان دادن روحیه جنگویی" به این کمپین بپیوندند ... "فرد" مهاجم برزیلی فلومیننسه یکی از اعضای تیم بود که عکسش را در حالی که صورتش را با شالگردن تیم و به سبک طالبان پوشانده بود منتشر کرد ... "این گزارش نشانگر محبوبیت حس فطرتی و غیرتی و جنگجویانه طالبان برضد قوای اشغالگر است که حتی جوانان کشورهای کفری به آن افتخار کرده و برای پیروزی شان در عرصه های مختلف به این اخلاق شجاعانه مجاهدین تاسی جسته اند ؛ این در حالیست که بازی "فوتبال" که یکی از پرطرفدارترین بازی های دنیاست و پول های سرسام آوری برای تدارکات آن ، هزینه می شوند و از آن بعنوان نماد "صلح جهانی" یاد می کنند و جوانان و بازیکنان این بازی بسیار کم به مسایل سیاسی و جنگی از خود علاقه نشان می دهند ؛ ولی دیده شد (که گروهی از جوانان فوتبالیست) در یک اقدام بی سابقه در کشور برزیل کمپین موسوم به کمپین طالبان تشکیل دادند و از اعضای تیم و هواداران شان خواستند که طالبانی باشند.

حقیقت اینست که دشمنان اسلام در جنگ افغانستان ضمن شکست فاحش و سنگین نظامی در مقابل مجاهدین ، در عرصه تبلیغات روانی نیز شکست خوردند و خود نا خواسته باعث شهرت مجاهدین "طالبان" شدند و اینک علی رغم انف دشمنان ، طالبان در سطح جهان بعنوان سمبل مقاومت و نماد افتخار در آمده و کل دنیا طالبان را بعنوان تلاشگران راه آزادی شناخته و به ایستادگی و شهامت شان در مقابل طواغیت زمان و استکبار جهانی افتخار می کنند ... و هرگاه گامی مخلصانه در جهت رضای الله جل جلاله برداشته شود و ندایی از سر اخلاص و حس بشر دوستی و انسانیت سرداده شده و قومی بسوی آزادی و عدالت فراخوانده شود لاجرم پایانی سرشار از خیر و سعادت ، ترقی و پیشرفت ، عزت و اقتدار در پی خواهد داشت و محور افتخار و اجتماع جامعه انسانیت خواهد گشت ؛ به قول شاعر:

لهجه مردی که دارد بوی دوست
امتی را می کشد تا کوی دوست

لشرم نه ډک دریځ

حسن مومند

په رسنیوکې به مو نن دمې په ۲۸مې نېټې محترمو لوستوالو دبرما دیو بنکلي جومات هغه عکس لیدلی وي چې بودایي وحشیانو ورته اور اچولی او ترې توري لوخړې پورته کېږي ، محترمو لوستوالو ته به په نړیوالو رسنیوکې د تېرې میاشتې یانې اپریل په دوهمې نېټې خپور شوی هغه دردونکی خبرهم یاد وي چې دبرما دینګون ښارکې دمسلمانانو هغې مدرسې ته بودایي وحشیانو د شپې ۳ بجې اور اچولی وو چې پکې ۷۰ یتیمانو کوچنیانو دقرآنکریم حفظ کولو ، داوراچولو پرمهال بودایانو دمدرسې په دیوالونو تېل پاشلي وو اوداور اخستلو نه پس داطفایې په وړاندې خنډ شوی وو اونه یې پرېښودله چې اور مړ کړي ترڅومدرسه په بشپړډول وسوځي او پکې یو کوچنی هم ژوندی پاتی نه شي ، په پېښه کې ۱۳ هغه یتیمان طالبان شهیدان شول چې عمرونه یې د ۱۳ او ۱۴ کلونو نه زیات نه وو ، دوحشت نه ډکه دا پېښه دهغونویو ظلمونو یوه کوچنۍ بېلګه ده کوم چې دتېر ۲۰۱۲ م کال دجون نه پیل شوي دي په تېرجون کې دظلمونو لړۍ څرنګه پیل شوه ؟

وشوه داسی چې د ۲۰۱۲م په اپریل کې دبودایانو بداېو کورنیو سره تړاو لرونکې دوه پېغلې مسلمانې شوې ، بودایانو ددې دواړو پېغلو داسلام نه دبېرته اړولو ډېر کوښښونه وکړل او دوژلو ډېر اخطارونه یې ورکړل خو چې دې دواړو انجونو داسلام دجوړې مطالعې نه پس دا اسماني دین قبول کړی و نو هیڅ ډول فشارېې ونه منلو مرګ یې ومانه خو اسلام پرېښودلو ته تیارې نه شوې.

متعصبو او متکبرو بودایانو ته چې په اسلام ددې دواړو انجونو پاتې کېدل دزغم وړنه وو نو ددوئ دواړو انجونو دقتل او دمسلمانانو دعامه وژنې پلان یې جوړ کړ.

داپلان یې ژر او په ډېر وحشت سره عملي کړ ، دا دواړه انجونې یې وتښتولې او دمې په ۲۸ مې نېټې یې دتشدد نه پس په خورا ډېرې بې دردۍ ووژلې اوپر مسلمانانو یې تهمت ولګاوه چې دوه بودایې مېرمنې یې دجنسي تېري نه پس وژلې دي ، دهمدې

تهمت پر بنسټ پولیسو یو شمېر مسلمانان ونیول. داصل حقیقت نه دپولیسو افسرانو دخبرولو په اراده دمسلمانانو څومشران دمربوطه ماموریت مخې ته راټول شول چې دې کار بودایي دولت او بودایي عوام دواړه ډېر سخت وقهرول ځکه دادوئ دمسلمانانو په احتجاج تعبیرکړ او په برماکې دمسلمانانو احتجاج خو پرېږده دخپل مظلومیت په اړه دشکایت کمزوری آواز پورته کول هم بودایي دولت او بودایي ولس سخت جرم ګڼي.

کله چې بودايي دسیسه جوړوونکو ولیدل چې په هېوادکې دمسلمانانو پرضدهغسې پاڅون ونه شوځرنګه چې دوئ غوښتلونوسمدستي يې بل پلان جوړاوعملي کړ، هغه داسې چې دجون په ۳ مه نېټه داراکان ولایت د تنګوګ نومي مشهورښار په یو جامع مسجد کې تبلیغي اجتماع روانه وه چې ورته دراتلونکو یاورنه دپلازمېنې رنګون پرلور دتلونکو مسلمانانو یوبس دبودایانو د ماګ نومي تروریستي تنظیم ځوانانو ودرولو، په بس کې ۳۷ تنان سپاره وو، بودایانو ترې ۱۰ علماء راښکته او دراښکته کولو سره سم يې پرې په ډانګونو اوبرچو وهلو پیل وکړ اوټول يې په ډېرې بې دردۍ ځای په ځای شهیدان کړل، دوژلو نه پس يې دټولو سرونه او ږیرې وخریلې بیايې سرې چپنې ورپه تن کړې اوپه ټول هېوادکې يې دامشهوره کړه چې وژل شوي تنان بودايي مذهبي مشران اود هغوئ شاګردان وو چې مسلمانانو ووژل.

بس ددې خبرې دخپرېدلو سره سم په ټول اراکان اونېږدې ولایتونوکې دفوځ او پولیسو سره مل ټول بودایان دمسلمانانودعامه وژنې په موخه ډګرته راووتل، ړومبی يې په اراکان کې دمسلمانانو ترټولو سترې مدرسې ((حماية الاسلام)) ته اوروواچولو، پکې يې دمدرسې مدیر مفتي واجد صیب، دمدرسې ۴ مشران استاذان او ۲۸ طالبان شهیدان کړل اوبیا مسلمان سړی، مېرمن، ځوان، زوړ او کوچنی هرڅوک چې ورته مخې ته راغلو وېې وژلو او دمسلمان هره جونګړه یې وسوځول، په دې قتل عام کې په رسنیوو کې دخپرو شویو محتاطواعدادو اوارقامو له مخې ۲۸ زره (خوپه حقیقت کې د ۴۵ زرونه هم زیات) مسلمانان ووژل شول چې پکې ۴ زره ژوندي سوځول شوي وو، ۵ زره مېرمنې دجنسي تېرېوښکار شوي، د۱۰ زرونه زیات مسلمانان ژوندي ورک شول، د۲۵ زره نه زیات دمسلمانانو کورونه وسوځول شول او د۲ سووزرو په شاوخوا کې مسلمانان بې کوره شوي.

دوژل شویو، ورکوشویو، بې کوره شویو او دتېرېو دښکارشویو هرې شمېرې ته چې وګورو داډېره لویه شمېره ده، ددې وخت ډېرستربشري ناورین دی.

ددې ستربشري ناورین په اړه نړۍ خپل څومره مسؤلیت اداکړاو څه ډول دریغ يې غوره کړ؟ داډېره روښانه شوه اودنړۍ منافقت خلکوته ښه واضح شو. امریکا، اروپايي اتحاد، ناټو او دامنیت شوری څه شول؟ دوئ ته په برماکې روان ظلمونه ولې نه ښکاري؟ ددوئ دتروریزم ضد مبارزه څه شوه؟ بشر دوستي يې چېرته ولاړه؟ دمظلومو انسانانو دږغورنې لويې دعوې يې څه شوې؟

مسلمانان چې دغاصبو یرغلګرو اوتجاوزګرو نه دخپلو خاورو دآزادۍ اودخپلو ځانونو، عزتونو اومالونو دساتنې لپاره ډګرته راووځي اومقاومت پیل کړي نونړۍ يې تروریستان بولي خوچې دلته په دولتي سطحه ستر تروریزم روان دی اود ماګ په نوم یولوی تروریستي تنظیم فعال دی اوبالفعل يې په سونو زره انسانان په خپل هېوادکې بې له کوم جرمه دوحشت اودهشت ښکار

دي نو نړۍ یې نه تروریستان بولي نه یې افراطیان ګڼي اونه یې وحشي افعال په تروریستي کړنو یادوي ؟! نوځکه یې پرضد دځه کولو اړتیا نه لیدل کېږي.

په لیبیاکې چې د قذافي ددولت دګوتو په شمېرڅو مخالفین ددولت له لورې ووژل شول نو دامنیت شورى په څومره اخلاص او څومره ژر د لیبیا ددولت پرضد دجګړې منظوري ورکړه ، ناټو رامیدان ته شوه اوترهغې یې په دې هېواد بمبارکولو ترڅویې چې قذافي ووژلو او دلیبیا دولت یې له منځه یوړو ، دناټو په په بمبارکې د ۸۵ زرو پورې دلیبیا مسلمانان قتل او ټپیان شول په لیبیا کې ددولت له لورې وژل شوي تنان ټول ددولت مسلح مخالفین وو چې شمېریې دسونو څخه نه اوړیدلو خو دادومره لوی جرم و چې له امله یې دقذافي ددولت ړنګول ضروري شول او دسونو تنانو وژونکو ته دسزاورکولو په لارکې د ۸۵ زرو تنانو قتل او ټپي کېدل هم کومه دتشویش وړ خبره ونه ګڼل شوه.

خو دلته چې په برماکې تر ۴۵ زرو پورې بې ګناه انسانان ددولت په مرسته او اشارو دبودایانو یا مخامخ ددولت په لاس وژل کېږي نو ددې دولت پرضد خو مسلح اقدام ډېره لرې خبره ده ناټو یا دامنیت شورى یې په بد نوم هم نه یادوي ، داولې ؟دا ځکه چې پر لیبیا حملې کې ددوئ ډېرې سترې ګټې وې ، په سیمه کې دقذافي په نوم ددوئ داهدافو په وړاندې یو خنډ له منځه ولاړ ، دغربي استعمار لمن فراخه شوه ، دامن او خوشحالۍ نه برخمن دمسلمانانو یو هېواد کې ستره بدامني راغله ، تجزیې ته یې لاربرابره شوه او ترټولو مهمه داچې وینه پکې تو له دمسلمانانو تویه شوه او دتېلو په سترو زېرمو دلویدیځ قبضه راغله.

خو دبرما دکفري دولت پرضد اقدام کولو کې چې دایوه ګټه هم نشته بلکې داتاوان پکې لازیاتي دی چې دمسلمانانو د عامه وژنې مخنیوی به وشي نو ناټو یا دامنیت شورى به ولې دبرما د ددولت پرضد اقدام کوي ؟څه لیوني خو نه دي.

څه موده دمخه چې په سوات کې دملالۍ په نوم په یوې انجلۍ برید ترسره اوپکې هغه ټپي شوه او له دې وړاندې چې په یوې جعلي ویډیو کې دسوات یوې مېرمنې ته دطالبانو له لورې په دورو وهلو دتأدیبي سزایو ه سحنه ښوول شوې وه نو ددې لپاره چې طالبان په نړۍ کې بدنام شي دامریکا دولسمشر او دملګرو ملتونو داداري سرمنشي په شمول دلویدیځ ټولو مشرانو ددې هرعمل بیا بیا غندنه وکړه اوپه غربي رسنیو کې داهرخبر په پرله پسې ډول په دومره اهتمام خپورشو او دومره زیاتې تبصرې پرې رامخې ته شوې لکه دنړۍ په کوم هېواد چې اتوم استعمال شوی وي اویا پکې ستره زلزله یاطوفان رامنځته شوی وي چې پکې په سونوزره انسانان له منځه تللي وي

همدارازچې په تېرو کلونو کې زموږ په هېواد کې په کوم دولتي پوست موظفه مېرمن وژل شوې یا دکومې مخ لوڅې زده کونکې مخ ته چاتېزاب وراچولي دي او پړه یې پرطالبانو وراچول شویده نو په نړۍ کې دطالبانو دبدنامولو اونړیوالو ته ځان دمېرمنو دخیرخواه معرفي کولو په موخه هرغربي مشرپه ډېرو سختو ټکو ددې عمل غندنه او عاملینو ته یې دسزا ورکولو غوښتنه کړیده او غربي رسنیو هم ترورځوورځو دبل هرخبراوپېښې نه ورته زیاته توجه کړیده.

دبغلان ولایت اوسپدونکې دسهارګلې په نوم یوه مېرمن چې دخپل مېړه او د کور دځو نوروغړوله لورې دزورزیاتې ښکارشوی وه ولې یې موضوع په ټولې نړۍ کې شهرت ومونډلو او کابو یوه میاشت پس هم غربي مشرانو او رسنیو دا پېښه نه هېروله ؟

ځکه چې نړۍ کې ددې فکر خپرول مقصود و چې مسلمانان مېرمنو سره ظلم کوي او حقوق يې تر پښو لاندې کوي او مور يې د حقوقو داعادې هڅې کوو

او بل هدف دا و چې دخپلو حقوقو نه ددفاع او دخپل مظلوميت پرضد داواز پورته کولو په پلمه افغان مېرمنې له کورونو راوه ويستل شي او ستر يې مات شي.

همدا راز کابو کال وړاندې چې دګوډاګي اداري استخباراتو دتخار په بې بې هاجره نومي ښوونځي کې ځوانجوني مسمومې کړې او پړه يې پر طالبانو ورواچوله نو ترور ځوور ځوداخبره دنړيوالو رسنيو دسرټکي او دلويديځوالو مشرانو او پوهانو لپاه په زړه پورې موضوع وه.

همدارنګه چې څو مياشتې دمخه په هند کې يوه انجلۍ دځوتنانو له لورې دجنسي تېري ښکار او بيا يې په روغتون کې ځو ورځې پس ساه ورکړه نودې نړۍ څومره ولړزوله ؟!

نو همدا غربي مشران او نړيوالې سترې ادارې چې دسوات ،هند ، لغمان ، قندهار ، بغلان يا تخار دمېرمنو ځانونه خواخوږې ښکاره کوي دبرما دمظلومو مېرمنو سره يې خواخوږي ولې نه راښکاره کېږي ؟ حال دا چې دبرما پرمېرمنو شوی ظلم بې ساري او د دظلم دښکار شويو مېر منو شمېره بېخي زياته وه ، دامور نه وايو بلکې ايمنستي انټرنيشنل نومې بين المللي ادارې په برما کې دجون دناورين په اړه په خپور شوي راپور کې ويلي و ،، د۲۰۱۲ م دجون په سرکې چې پر مسلمانانو کومې حملې پيل شوې وې تر آخره پکې لږ ترلږه پنځه زره مسلمانې مېرمنې دبودايانو له لورې دجنسي تېري ښکار شوې ،،

نودا اوس ډېره عجيبه ده چې په يوې مېرمنې دتېري له امله دنيا په سر را خستل کېږي او په برما کې چې لږ ترلږه پنځه زره مېرمنې دجنسي تېري ښکار شوې او په زرونو نورې وژل شوې او بې درکه شويدي نو ورباندې ددوئ هيڅ پروا نشته ، غربي مشران او رسنۍ پرې تېول چو په خوله دي ، عملي اقدام خو پر پرېږده ژبنی خفګان ، احتجاج ، دمظلوم سره خواخوږي ، دظالم غندنه ، ورته دسزا غوښتنه او ورسره پرېکون هيڅ هم رامنځته نه شول دا امتيازي سلوک په نړۍ کې ولې روان دی ؟

داځکه چې د مجاهد بدنامول او د اسلام ديوې تاديبي او تعزيري سزا سره دخلکو نفرت پيدا کول هدف وو اوداځکه چې په برما کې دامظلومې خورانې مسلمانانې وې او ظلم دوحشي کفارو له لورې ترسره شوی او کېږي او داخو معلومه خبره ده چې دکفارو له لورې پر مسلمانانو ترسره شوی هر ظلم لويديځ عين عدل بولي.

برما چې په فوځي او اقتصادي لحاظ يو کمزوری هېواد دی ولس او دولت يې په خپل هېواد کې پر يو اقليت دچا له لمسون پرته دادومره ستر ظلمونه نه شي کولای ، معلومېږي داچې څوک چې په عراق ، افغانستان ، فلسطين ، مالي ، سوډان ، صوماليه اونورو ځايونو کې مسلمانان په خپلو لاسونو وژني هماغوئ په برما کې پر مسلمانانو دکېدونکي هر ظلم شاته ولاړ دي ، دبرما دولت او بودايان په شاتپوي او دهر وحشت نه يې پشپړ حمايت کوي .

مهمه داده چې برما کې پر مسلمانانو دظلم او وحشت لړۍ او رباندې د اسلام دښمنې نړۍ چوپتيا او رضايت څه نوی خبره نده بلکې د۱۹۴۸ د جنورۍ په ۴ مې نېټه چې برما د انګريزانو د استعمار نه تش په نامه ازاده او پکې بودايان واکمن شول (په حقيقت کې اوس هم دامريکا او نور غرب غلامه ده او هر څه چې کوي

دهغوئ په حکم یې کوي) په ټوله برما کې پرمسلمانانو او په ځانګړي توګه په اراکان کې د روهنګیانو مې قبیلې سره په تېراو لرونکو مسلمانانو باندې دبودایي کفري دولت له لوري ډېرو سترو ظلمونو وحشتونو او دنا انساني سلوکونو یوه نه تم کېدونکې لړۍ پیل شوه چې ترننه دوام لري.

د ۱۹۴۸ نه ترننه دبرما دمسلمانانو پرضد په هېواد کې دننه د ۱۲ نه زیات فوځي سترعملیات ترسره شویدي ترټولو رومبی چې په ۱۹۴۸ کې کله د مسلمانانو پرضد د B.T.F په نوم عملیات ترسره شول نو د ۳۰ زرونه زیات مسلمانان وحشي بودایي فوځیانو ووژل.

د ۲۰۰۱ په عملیاتو کې ۸ سوه مسلمانان شهیدان او د ۷ سوونه زیات وتښتول شول چې ترننه لا ورک دي ، د ۱۹۹۱ نه تر ۲۰۰۰ پوري په مختلفو فوځي عملیاتو کې د دمسلمانانو ۱۸ سوونه زیات کلي وسوځول شول او د ۲ سوونه زیات جوماتونه داسونولپاره په غوجلو او فوځي مرکزونو بدل شول.

یواځي په ۲۰۰۲ کال کې ۴۰ جوماتونه له منځه یوړل شول.

۱۹۸۴ کې ۲ سوو کورنیو چې دهجرت په اراده یې سمندري سفرکاوه فوځیانو وربانډې کېښتی ورولې چې هیڅ څوک پکې ژوندی راونه وت.

۱۹۷۸ کې د ۳ زره نه زیات مسلمانان په بوریو کې بند او ژوندي سمندرته وروغورځول شول او دمسلمانانو ۲۰ مشران ژوندي په خاورکې دفن کړای شول ، په همدې کال په یو جومات کې د ۱۲۰ مسلمانو مېرمنو جسدونو وموندل شول.

د ۱۹۷۸ په اپریل کې چې دمسلمانانو پرضد کوم پاڅون شوی و یواځې داکیاب ولسوالۍ کې دوحشي بودایانو په لاس ۸ زره مسلمانان شهیدان شوي وو.

د ۱۹۹۲ په اپریل کې بودایانو د مسلمانانو په یو جومات حمله وکړه او د ۲ سوو نه زیات مسلمانان یې پکې شهیدان کړل.

د ۱۹۵۰ په فوځي عملیاتو کې ۳۰ زره ، د ۱۹۵۲ په عملیاتو کې ۱۳ زره ، د ۱۹۹۲ په عملیاتو کې ۲۵ زره ، د ۱۹۷۸ په عملیاتو کې ۳ سوه زره ، د ۱۹۹۱ په عملیاتو کې ۲ لکه ۲۵ زره او د ۹۲ او ۹۷ په عملیاتو کې ۲۰ زره مسلمانان بنګله دیش ته په هجرت کولو مجبورشول ، داټول ارقام د بنګله دیش نه خپریدونکي دعوة هائی الایټمس نومې مجلې په ۲۰۰۷ کې خپاره کړي وو.

د ۱۹۴۸ نه تر ۱۹۲۲ پوري چې په برما کې ملکي دولت ونو سره له دې چې په مسلمانانو ظلمونه کېدل خو دکاروباراو دسوداګرۍ په شمول یې په یو شمېر امورو کې آزادي درلودله، کله چې په ۱۹۲۲ کې ملکي دولت رنګ او فوځ قدرت ته ورسېدلو نو دبرما دټولو مسلمانانو او په ځانګړي توګه دروهنګیا مسلمانانو پرضد دظلم او وحشت یو داسې باب پارنستل شو چې په انساني تاریخ کې به یې شاید ساری ونه موندل شي.

داراکان په تجارت کې دمسلمانانو ډېره لویه ونډه وه خو فوځ پرمسلمانانو دتجارت کولو ټولې لارې وتړلي ، په ۱۹۲۴ کې دمسلمانانو ټولې خیریه ، کلتوري او ټولنیزې اداري وتړل شوې ، ددولت په کابینې اویا پارلمان کې چې دمسلمانانو څومره نماینده ګانو غړیتوب درلودلو دهغوئ غړیتوب ختم کړای شو.

اوپه ۱۹۸۲ کې پرنسلي تعصب اوخورا سترې دښمنۍ ولاړ د تابعیت داسې قانون تصویب شو چې له مخې یې دګوتو په شمېر دځو مسلمانانو پرته دروهنګیا

مسلمانانو په شمول د برما ټولو مسلمانانو ته د خپل هیواد تابعیت واخستل شو حال دا چې د برما سره د مسلمانانو تړاو څه نوی نه وبلکې د کابو ۱۰ پېړیو راهیسې مسلمانان د دې هېواد اتباع وو ، زرګاله وړاندې هم د مسلمانانو آبا او اجداد همدلته مېشت وو او بودایان د مسلمانانو نه ډېر وروسته دې هېواد ته راغلي دي د دې پرېکړې نه پس د برما مسلمانانو ته د داسې کډوالو په نظر کتل کېږي چې د ټولو مدني حقوقو نه بې برخې وي او د هیڅ ډول ظلم په مقابل کې به داواز پورته کولو حق نه لري نو ځکه کابو ټول مسلمانان د ښارونو نه وویستل شول ملکیتونه یې ټول غصب شول او په ځنګلونو او په نا آبادو سیمو کې مېشت شول ، په دښتو او ځنګلونو کې هم د ډېرمسلمانان یو ځای داوسېدلو حق نه لري بلکې دیو بل نه به لرې لرې اوسېږي ترڅو د خپل ځان نه د دفاع کولو جوګه نه شي.

په سحراګانو او ځنګلونو کې چې کوم کوډیوو کې مسلمانان مېشت دي دولت ته د هرې کوډۍ په سر پرټکس ورکولو مکلف وي ، د دې ترځنګ چې فوځي افسران هر وخت وغواړي دا کوډۍ وروراني کړي ، د دې ځای نه یې وشړي او بل ځای هم نه ورپه ګوته کوي

کومه ښاره ځمکه چې مسلمانان اباده کړي او ځوکلونه فصل ورکړي ظالم فوځي افسران ترې نه یو اخې داچې اباده ځمکه واخلي بلکې د ځمکې کرل او وربانډې ټول مصارف هم دهمدې مسلمانانو پر اوږو وي.

مسلمانان دیو نه بل کلي ته د دولت له اجازې پرته د تللو حق نه لري

او چې دولت اجازه ورکوي نو ترې بل کلي ته د تللو ټیکس اخلې.

که یو مسلمان هر څومره عاجل مریض وي د فوځ له اجازې پرته مسلمانان خپل مریض روغتون ته نه شي بوتلای ، یو مسلمان هم د فوځ له اجازې پرته خپل کور کې څوک مېلمه کولی نه شي ، له ښارونو بېرون د فوځي مرکزونو د جوړولو ټول کارونه او مصارف له مسلمانانو اخستل کېږي ، د بودایانو لپاره له ښارونو بېرون د عبادت ځایونو جوړول هم د مسلمانانو مسئولیت وي .

د کوریو تن خامخا د فوځي افسرانو لپاره په ځنګلونو کې د بانس لرګو په غوځولو او بیایې تربازاره د خرڅلاو لپاره په رارسولو مصروف وي ، د شپې او ورځې د امتیاز پرته هر وخت فوځیان د مسلمانانو د کورونو د تالاشي کولو حق لري ، د تالاشۍ پرمهال چې د مسلمان په کور کې د فوځي څه خوښ شي وړي یې او هیڅوک یې د منع کولو حق نه لري ، د تالاشۍ نه پس چې د مسلمانانو د کورنو نه په فوځي مرکز کې د خدمت کولو په پلمه څومره مېرمنې فوځیان بوځې څوک یې مخنیوی نه شي کولای، مېرمنې د خدمت په نوم بوتلل کېږي خو پرهغوئ جنسي تېری اصل هدف وي ، د جنسي تېریو لپاره ډېر کرته د ۱۱ او ۱۲ کلونو کوچنۍ انجوني هم فوځي مرکزونو ته تښتول کېږي ، دولت داسې قوانین جوړ کړیدي چې له امله یې د مسلمانو کوچنیانو لپاره زده کړه او د لویانو لپاره په دولتي ادراو کې کار کول ناشوني شویدي.

د مسلمان سړي چې عمر ۳۰ او د مسلمانې مېرمنې عمر چې ۲۵ کلونو ته نه وي رسېدلی د واده کولو اجازه نه لري ، که یو مسلمان او مسلمانه په خپلو کې واده کول وغواړي نو د دولتي ۴ جاسوسو شبکونه به اجازه اخلي ، د سختو کوښښونو نه پس چې مسلمانان اجازه ترلاسه کړي نو له یوخوا به قسم کوي چې د ۳ نه به زیات بچې نه زېږوي (اوس په ۲۰۱۳ د مئ په ۲۸ مې نېټه د برما دولت اعلان وکړ چې مسلمانان به له دوه نه زیات

بچي نه راوړي) اوله بلې خوا به د ۴ وارو شبکونه په اجازې غوښتلو کلونه کلونه لګېږي ، د همدې تاخیر له امله د مسلمانانو په هرکلي کې مجردان د واده لرونکو په پرتله زیات وي او د هرکلي داسې هم وي چې ۲ او ۳ کلونه تېر شي خو یو واده پکې هم ونه شي ، د ډېرو کوښښونو نه پس چې کوم مسلمان ته د واده کولو اجازه ورکړل شي نو د اجازې نه پس او د واده نه وړاندې مېرمن او مېړه مکلف وي چې د ((فیملي پلاننګ اینډ کونسلنګ سنټرز)) نومې ادارو کې څو شپې تېروي ، د مسلمانانو نه د دې څو شپو ډېرې پیسې اخستل کېږي او همدلته د زیاترو ناوو عزتونه لوټ کېږي.

Lenaviobserration نومې فرانسوي اوونیزې د ۱۹۹۸ په ۲۳ اپریل خپور شوي یو راپور کې راغلي و چې داسې معلومات یې ترلاسه کړي چې د برما فوځ د بې شمېره مسلمانو مېرمنو سینې غوڅې کړیدي ، همدا راز bichitra نومې بنګله دیشي اوونېزې کې په یو خپور شوي راپور کې راغلي وو چې واک ته د فوځ د رسېدو نه تر ۱۹۷۸ پورې د ثبت شوو پېښو له مخې ۲۲۰۰ مسلمانې مېرمنې د برمې فوځیانو له لورې د جنسي تېري ښکار شوې وې.

د همدې ظلمونو نه تنګ راغلي د برما کابو نیم مسلمانان د برما نه بنګله دیش ، پاکستان ، سعودي عربستان ، مالیزیا ، تای لینډ او یو شمېر نورو هېوادونو ته په هجرت کولو مجبور شوي دي ، برما کې باقي پاتې مسلمانانو کې یو هم په برما کې پاتې کېدل نه غواړي خو ورته د تلو هیڅ لار نه لري.

د برما مسلمانان چې په کښتیو کې د هر هېواد ساحل ته ورور سېږي هغوئ یې بېرته برما ته راشړي.

اراکان ته تر ټولو بنګله دیش نېږدې دی خو د بنګله دیش هېواد ته ورغلي په سوونو زره د برما مسلمانان په مختلفو وختونو کې بیرته د دې هیواد نه په ډېرې بې رحمۍ راشړل شویدي.

د برما دولت د هیواد نه د ټولو مسلمانانو ویستل او د برما نه د اسلام د نوم ختمول غواړي څکه خو یې د مسلمانانو پر ضد د وحشت نه ډکو اقداماتو یوه نه تم کېدونکې لړۍ پیل کړیده خو ملګري ملتونه امریکا او نور لویدیځ په دې خوښ دي چې د برما مسلمانان په هېواد کې د ننه پاتې وي او تل د بودایي دولت او بودایي ولس له لورې د ظلم ښکار وي څکه خو یې د مسلمانانو پرضد په ترسره شوو ټولو وحشتونو د پیل نه تر ننه سترګې پټې کړیدي او هیڅکله یې د برما د فاسد او ظالم دولت پرضد کوم کوچنی اقدام ندی کړی.

بس دا د لویدیځ اصل څېره ده ، څوک یې چې په منافقت غولېدلي وي باید فکر وکړي او نور یې په منافقت و نه غولېږي.

او خبره یوازې د غربي مشرانو او غربي نړۍ نده بلکې د اسلامي نړۍ مشرانو هم د برما د مظلومو مسلمانانو په اړه خپل یو فیصد مسؤلیت هم ادا نکړ ، د شرم نه ډکه د چوپتیا روژه یې نیولې ده او یوازې د برما پر کمزورو مسلمانانو د روانو سترو ظلمونو ننداره کوي ، عملي اقدام خو له تمې لرې شی دی د تېر جون نه تر دې جون نه په ټول کال کې د روان ظلم د غندنې لپاره هم کوم مشر د خولې نه مناسب الفاظ را ونه ویستل ، نه یې پرې خنګه چې پکاره وه خفګان ښکاره کړ نه یې د برما د مسلمانانو سره د مرستې کولو لپاره راوړاندې شول او نه هم د برما د مظلومو مسلمانانو سره د خواخوږۍ ښکاره او د حال نه یې د ځان خبرولو لپاره د اسلامي نړۍ مشران تر برما ورغلل بس یوازې د ترکې ولسمشر طیب اردګان د خپلې مېرمنې سره یو ځای د برما د مسلمانانو سره د غم شریکولو او د اصل حالت نه د ځان خبرولو په

موخه تر برما ورغلو او چې پر مسلمانانو د شويو ظلمونو اندازه ورته له نېږدي نه وشوه نو نړۍ ولېدلو چې هغه او مېرمن يې دغم څومره اوښکې توی کړې ؟

داسلامي کانفرانس دريغ خو تر ټوله اسلامي نړۍ وشرموله په تېر يو کال کې دې کانفرانس دبرما دمسلمانانو سره د پر ستره جفا ښکاره کړه او خپل حيثيت ته يې لوی زيان ورواړولو ، دبرما ددولت پرضد دڅه کولو تمه هسې هم داسلامي کانفرانس نه نه کېدله خو داتمه ترې کېدله چې له نړۍ به دبرما ددولت پرضد دعملي اقدام غوښتنه وکړي چې له بده مرغه دا غوښتنه يې هم ونکړه بلکې کله چې رمضان راغلو نو په هماغو حساسو شېبو کې ددې کانفرانس دسرمنشي اکمل الدين او غلو دجدې نه ايله دابيانيه خپره شوه چې ،، اسلامي هېوادونه دې په رمضان کې دبرما د مسلمانو سره مالي مرستې وکړي ،،

په نړۍ کې چې اوس دمسلمانانو شمېر ۲ زرو ميليونو ته رسېدلی او دنړۍ ۷۰٪ زيرمې ددوئ په ملکيت کې دي دهمدې نا اهلو مسلطو مشرانو له امله دغلامۍ ژوند تېروي.

اوس ددې خبرې اشد ضرورت دی چې داسلامي نړۍ ټول هېوادونه سره رايو ځای شي او په يوه خوله ښه په جديت سره له نړۍ نه وغواړي چې دبرما په دولت فشار راولي ترڅو پر مسلمانانو دظلمونو روانه لړۍ ودروي ، ددوئ دمال ځان او عزت دتامين لپاره جدي اقدامات وکړي ، په ظلم او جبر ولاړ په ۱۹۸۲ کې صادر شوی دمسلمانانو نه دتابعيت سلبولو قانون لغوه کړي او مسلمانانو ته ټول مدني حقوق ورکړي ، اسلامي نړۍ داغوښتنه وکړي نو نړۍ خامخا دبرما پر دولت فشار واردوي او دټولو غوښتنو منلو ته يې اړباسي ، په ۱۹۵۹ چې دبرما دولت دمسلمانانو ۳۴ کلو ته دخپلو کورونو دپرېښودلو حکم کړی وو او دسخت ظلم ښکار کړي يې وو چې دهغه مهال دپاکستان ولسمشر دبرما په دې اقدام سخت احتجاج وکړ نو مجبوراً دبرما دولت دخپلې پرېکړې بدلولو ته اړشو او مسلمانانو ته يې حکم وکړ چې بېرته دې خپلو کورونو راستانه شي نو چې ديو ولسمشر داحتجاج دومره زور دی نو که ټول يو ځای شي زور به يې څومره شي ؟!

د ۱۹۴۸ نه تر ۱۹۶۲ پورې چې په برماکې ملکي دولت ونو سره له دې چې په مسلمانانو ظلمونه کېدل خو د کاروبار او دسوداګرۍ په شمول يې په يو شمېر امورو کې آزادي درلوده ، کله چې په ۱۹۶۲ کې ملکي دولت ړنګ او فوځ قدرت ته ورسېدلو نو دبرما دټولو مسلمانانو او په ځانګړي توګه د روهنګيا مسلمانانو پرضد دظلم او وحشت يو داسې باب پارنستل شو چې په انساني تاريخ کې به يې شايد ساری ونه موندل شي .

ديادولو وړده چې په برما کې دمسلمانانو سره دښمني او دروانو ظلمونو حمايت يو اځې په فوځ او عامو بودايانو کې نه دی بلکې دمسلمانانو سره په دښمنۍ کې عام بودايان ، فوځ ، اوسني حاکمان، مخالف سياسي ليډران او مذهبي مشران ټول يوه خوله دي. دنړۍ دستور دی چې دطبعي آفاتو پر مهال دژغورنې په عملياتو کې دپاتې راتللو خپل نفوس ته په نجات ورکولو کې دناکامۍ له امله مسئول مشران له خپلو دندو مستعفي کېږي او همدا دهر مشر اخلاقي مسئوليت ګڼل کېږي په هېواد کې دننه اخ ودب او په ترڅ کې يې

ددخلکو دوژل کېدو په مخنیوي کې دپاتې راتللو په صورت کې خوټول ملت دمسئولو مشرانو دمستعفي کېدلو غوښتنې کوي اودا یې قانوني مسئولیت ګڼل کېږي خو عجیبه داده چې ددې دتېر کال په جون کې مسلمانانو درامنځته شوي قتل عام اوترننه دمسلمانانو پر ضد دسترو ظلمونو دلړۍ پردوام دبرماولسمشر((تین سین)) نه یواځې دا چې خپل خفګان ښکاره نکړ او نه یې دهېواد په لویدیځ کې دسترې بدامنۍ په مخنیوي کې دپاتې راتلوله امله ښښنه وغوښته بلکې دتېر یانې ۲۰۱۲ دجولای په ۱۹ نېټې یې په ډېرې سپین سترګۍ وویل ۸۰۰ اراکان کې مېشت ۸ سوه زره روهنګیا مسلمانان په حقیقت کې ناقانونه کډوال دي ، ددې لپاره چې په هېواد کې امن راشي باید دوئ دهېواد نه وشړل شي چېرته دبل هېواد نفوس وګرځول شي اویاهم دبرمانه بېرون چرته مهاجرکمپ ته واستول شي ،،

په دې هېواد کې د ۱۰ پېړیو راهیسې دمېشتو وګړوپه هکله دهېواد ولسمشردادښمنۍ اوتعصب نه ډکې څرګندونې او دنړیوالو دشرم نه ډکه چوپتیا ؟!

دنوبل جایزې ګټونکې دبرماسیاسي مشره آنګ سان سو چي چې لویدیځ یې دامن سفیره اوپه برماکې دبشردحقوقواوډیموکراسۍ داعادې لویه اتله ګڼي هغې هم خپله اسلام دښمني ښکاره کړې ، پر مسلمانانود روانو ظلمونو پرضدیې یوه کلمه هم دخولې نه وه ویستله دظلمونو دودرولو غوښتنه خوډېره لرې خبره ده دمسلمانانو دعامه وژنې دهماغه پیل په ورځوکې چې دهغې نه ویوښتل شول چې داراکان مسلمانان ته دبرما نفوس ګڼې که نه ؟

هغې په کامل معصومیت اوکې وښورولې اوویې ویل څه په دې اړه څه نه شم ویلی.

بودایي مذهبي مشرانوپه یوې مشترکې خپرې شوې اعلامې کې ویلي چې دروهنګیا مسلمانانو سره دې مکمل پرېکون اعلان شي ، ددوئ دې هېڅ ډول مرسته ونه شي او کوم چې په کمپونو کې مېشت شویدي خوراکي مواد او دارتیا نورشیان دې پرې بندکړای شي ترڅویا پدې کمپونوکې ومري اویا زموږ هېواد پرېږدي ،،

مذهبي مشران ، دومره سخت زړیتوب اوبیا هم دعدم تشدد دفلسفې اتلولي د

دوئ په برخه ؟ !

دتېر یو کال په موده کې دبرما په پېښو کې دیهودو دغلامي میډیا ناپېیلتوب هم ټولې نړۍ ته څرګند شو همدا نړیوالي رسنئ چې پریو څاد کوم اسلامي حد یاتادیبي سزادجاري کېدلو اویاهم دکوم مسلمان له لوري دزیاتي دپېښې د رامنځته کېدلو پرمهال ټول اسمان په سراخلي او تر اوونیو یې پر مخالفت کې پروګرامونه جوړوي . دتېریو کال راهیسې دبرما ددومره ستر وحشت او ظلم روان حالت داسې وړاندې کوي لکه دنړۍ په کوم ګوډ کې چې یوه ډېره کوچنۍ پېښه رامنځته شوي وي ، که دنړۍ کوم ګوډ کې ۱۰ یا ۱۲ سپي هم په ظلم وژل شوي وای دوئ به پرې څومره غوغا کولای ؟! خو دلته د ۴۵ زرو په وژل کېدو ، د۱۰ زره په بې درکه کېدو ، د ۲ سوه زرو په بې کوره کېدو او ۴ زرو په سوځېدو ټولو نړیوالو رسنیو د چوپتیا دشرم نه ډکه روژه نیولي ده خو دناپېیلتوب او دقومي ، ژبني اومذهبي تعصبونو سره دمبارزې دعوه یې لاهم ربښتیا ګڼل کېږي ؟!

امریکایان به

ورنه ببنل شي

رحیمي

داسي ښکاري چې امریکا هم فغانستان کې دشوروي ناکامه تجربې تکرارول غواړي او دشوروي په پلونو پل اخلي ، کله چې دشوروي سره پوځونه مات شول او د۱۹۸۸ ز کال دفبروي په ۱۵مه نیټه یې له افغانستانه وروستی عسکر ووت، بیاهم شوروي دخپل ابلیسانه مزاج اوشیطاني کړه وړو څخه کرار نشو، دډاکټر نجیب د کمونست رژیم ددفاع اوبقا په موخه دشوروي څار ګري اداري(kgb) دقومي اوژبنیو اړیکو پر وېش افغانان سره پخپلو منځو کې ووېشل.

داچې دنجیب په مشرۍ د کمونست رژیم پوځې ځواک اودفاعي سیستم عملاً رنګ اوله کار لوېدلی وو، دمکلفیت دورې له لارې پوځ جوړول ناممکن وو ،نودمادي امتیازاتوپه ور کولوېې د قومي اوژبنیو تبعیضونو اورونه بل کړل، دمجاهدینو دمقابلې لپاره یې په قومي اوژبنیو وېشونو وسلوالې ملېشې جوړي کړي، لکه داوزبکو،پښتنو،هزاره توکم ، اوتاجکانووسله والې ملېشې ، ددې ملېشو له منځه لویه اومؤ ثره ملېشه چې په جنګونو او دافغانانو په ځورولو کې یې زیاته ونډه اخستې دګلم جم په نوم ددوستمي ملېشه ډېر شهرت لري

روسانو اونجیب له دې کاره غرض دمختلفو قومونو اوتو کمونو جنګول وو، څو په دې سره دوئ په قدرت کې یا ترلږ ترلږه دقوم ،ژبې اونژادملاتړ لاندې خپل نسکوریدونکی اوشړیدونکې واک بیا تقویه کړي.

په پښتنو کې جوړي ملېشي چې دشمېر له پلوه هم دومره ډېري نه وې څومره چې دنورو توکمونو اوقومونو ملېشي وې اوهم یې په جنګونو کې ګډون زیات مؤثر نه و، چې لامل یې یا دامکاناتو نشتوالی او یاداچې پر کمونست رژیم دپښتنو بې باوري او جهاد کې زیاته ونده لرل وو.

دشوروي قواوو دوتو وروسته تمه وه چې دنجیب کمونستي رژیم به ژر دسقوط سره مواجه شي،خو ددې دتمې برعکس دنجیب رژیم دهمدغو ملېشو دځواک په مټو تریوې مودې پورې دوام وکړ اوبیاوروسته دهمدغو کمونستو ملېشو د کمونستو جنرالانوجنرال آصف دلاور ، جنرال دوستم ،جنرال مومن ، جنرال باباجان اوجنرال مجید روزي دکې جې بي په مستقیمو لاربښوونو کابل ته دمجاهدینو فاتحانه ننوتو لار بنده اوونیوه ، سره ددې چې دنجیب حکومت رنګ شوی خوبدملېشو دځواک پرمټو

کمونست جنرالان په واک کې پاتې شول ، دکابل ښار څینې سیمې چې مجاهدینو نیولې وې ،دهمدغو یادو ملېشو ګډ ائتلاف هغوئ شاتګ ته اړ کړل .بیا له احمد شاه مسعودسره دائتلاف جوړولو وروسته او دیوه تفاهم په صورت کې دنظار شوری مشر مسعود دجنرال مومن په ټانګ سپور کابل ته راوړل شو اوددفاع وزارت په ودانۍ ښکته شو. له دې وروسته چې افغان ولس څومره ترخې اوزړه بوږنوونکې ناخوالې اوبدې ورځې ولیدلې هغه تاریخ او ملت ته په یاددي ، تر دې پورې چې ددې او په نظر ددغوملېشوله لاسه زموږ ګران هېواد (افغانستان) او افغان ولس ته دومره لوی زیانونه واوښتل چې آن شوروي لښکرو وحشیانه ظلمونه اوجنایتونه یې شا ته پرېښودل.

نن ورځ چې دشوروي ځای امریکا نیولی اودنجیب په میراث کرزی ناست دی ، دواړه هم هغه فکتونه کاروي ، کوم چې روسانو اونجیب کارول، امریکا دبشپړ شکست سره دمخ کېدو وروسته د۲۰۱۴ ز کال ترپایه خپل ټول عسکر باسي اوسر له اوس یې دځواکونو په ویستلو لاس پورې کړی دی ،خو غواړي چې دخپلې شرمیدلې ماتې غچ له افغانانو واخلي اودامتیازاتو په بدل کې پخپلو منځو دجنګولو نیت لري ، ددې لپاره په سېمواو کلیو کې بې موره اوبې پلاره لوچکان په پیسو ودرولي څوپر هغوئ دغیور افغان ملت ستر اسلامي اوملي ارزښتونه پایمال کړي .

په دې لړ کې داربکیانو په نامه دوسلوالو ملېشوجوړول ددغه شیطاني بهیر اودسیسي ژوندی لړۍ ده څوورځې وړاندې دامریکا اوغرب برېڅو (اربکیانو) دغزني ولایت ګیروولسوالۍ د پني په نوم په کلي چې پکې شاوخوا ۳۵۰ کورونه میشت دي ، اوبه بندي کړي ،څو ورځو انتظار وروسته چې دکلي سپین ګیري په منتونو اوزاریوور ته ورغلل چې خدای لپاره زمونږ فصلونه ، باغونه اوڅاروي هلاک شول ، اوبه راخوشي کړئ ، سخت زړو اربکیو هغوئ په ډېر قهر بیرته ولیږل او داوبو له خوشي کولو یې انکار وکړ ...

په هغو ولایتونو اوسیمو کې چې اربکې ملېشي جوړي شوي هلته عام ولس ددېر وبدو ناخوالو سره مخ دی ،ولې دغه سړي خواره شرمخان هیڅ انساني او اسلامي اخلاق نه پیژني ،زیاتره یې په هیرویینو، تریاکو اوچرسو معتاد ګرځیدلي چې دډېر کم معاش په مقابل کې دولس له تن وینې زبیښي ، په سیمو اومنطقو کې په قسماقسم بې لاریو اومرداریو لکه غلا ، رشوت ، قاچاق ، په رڼا ورځ دانجونو اوهلکانو په اختطاف دخلکود شتمنیواو کورونو په لوټ اوتالان کې لاس لري ، دهمدوئ له داره له ګڼو سیمو ګڼې کورنۍ دخپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي، له ظلمونو اوفجائعو يې خلک دومره تنګ راغلل چې آخر وسلوال قیام ته اړ شول لکه دمځ په ۲۰ مه نېټه دغزني شلګر وولسوالۍ کندیر نومي کلي ولسي خلکو دچټلو اربکیانو په یوه قرار ګاه په دې وجه هجوم وکړ اووي شړل چې هلته یې په خلکو ډېر ظلمونه کول.

ولې ښکاره ده چې دا زوریدلی ولس به تر کومه ددې سړي خوړونکو ظلمونو ته لاس ترزني ناست وي اوزغمي به یې ؟

بل پلو دمجاهدینو دخبري منابع په استناد :ددې لپاره چې ولس ددې کورنۍ دښمن له شر څخه نجات ومومي تقریباً په ټولو هغوسیمو اومناطقو کې چې اربکیان پکې شتون لري پراخ اوبریالي عملیات پیل شوي په خاصه توګه داربکیانو دمهمو

قوماندانانو دوژلو لپاره څانګړي عملیات او پوځي تاکتیکونه په پام کې نیول شوي چې ډیر یې ترډیره بریالي هم دي دهغو په ترڅ کې په ډیره لنډه موده کې ډیر په لوی شمیر اربکیان سره دګڼو قوماندانو ووژل شول دمثال په ډول : دمئ په ۲۱مه نیټه دغزني مقر کې داربکیانو دوه قومندانان عبد الناصر .اومحمد رسول دلسو تنواربکیوپه ګډون وژل شول هم داراز دوه ورځي وړاندې دمئ میاشتې په ۱۷ مه نېټه دفراه په مرکز کې داربکیو مشر عبدالغني ووژل شو څوک چې دلسګونو خلکو قاتل اوامریکایانو ته زیات منلی و . په ورته توګه دغزني شلګر ولسوالۍ کې چېري چې څه موده وړاندې غربي رسنیو اربکیان دمجاهدینو پر ضد ولسي پاڅونوال تبلیغول دمئ میاشتې په پور ته یاده نیټه ۱۱ اربکیان ووژل شول هم داسې په سباته یعنې دمئ په ۲۲ مه نیټه دبغلان په پلخمري کې داربکیو مشهور قوماندان امام الدین چې دګڼو خلکوقاتل و اهلته یې دهلکانواونجونو په اختصاف کوونکې یې شهرت لاره دمجاهدینو په برید کې وژل شو .هم داراز دغزني په مقر کې داربکیانو مشهور قوماندان حبیب الله خان چې اسد الله ته نیږدې سړی کنل کیده اوپه ظلمونواودخلکو په وژلو کې یې مثال نه لاره دیوه فدای مجاهد په اتلوال برید کې سره د۱۱ اربکیانو ووژل شو داټول یاد ارقام ښیي چې داربکیانو پرضد دمجاهدینو لخوا څانګړي عملیات له نیکمرغه ښه بریالي روان دي اوښکارې چې په راتلونکې کې به دغه عملیات نور هم پراخ اودقیق شي.

له ګڼو سیمونه داسې راپورونه ترلاسه کیږي چې هلته اربکیان د خلکو په وهلو، ټکولواوشکنجه کولو له هغوئ پیسې اخلي دخلکو پر عزتونو تیري کوي دېته په پام مجاهدین ورونه باید ددې بد بوتې په له منځه وړلواوله بیخه اوریښو ریبلو کې یوه دقیقه ځند هم ونکړي، ولې دوئ (اربکیانو) دکفر په دفاع کې داسلام او وطن په مقابل کې وسله پور ته کړې ،دوئ(اربکیانو) دامریکایي او کافرانه ژوند لپاره مسلمانان وژني .دمسلمانانو وینې تویول څانو ته حلالې ګڼي ، دوئ داسلام په مقابل کې دصلیب او کفر ددفاع لپاره ملاوي تړلي اوس ددوئ داسلام اومسلمانانو په مقابل کې دمحارب څواک حکم لري ،دنورو حربیانو په څېر ددوئ وژل اوور سره جنګیدل عظیم الشان جهاد دی باید هر مسلمان پکې دځپل ایمان اسلام او افغانیت دبقاپخاطر ونده واخلي .اوپه هیڅ صورت دې داربکې ملېشوپه وړاندې له نرمښت .عاطفي اوله زغم کار نه انخلي ولې ددوئ دځواک پر متو امریکایان اونور یرغلګر زمونږ دهېواد په ستراتیژکواومهمو نقاطو کې مېشت دي.دمسلمانو خویندو میندوعفتونه تر وړي .زمونږ په کلیو ،کورونو، جوماتونو اومدرسو پاسپورس بمونه غورځوي که ددوئ کومکونه له امریکیانو سره نه وي امریکایانو نشوای کولی چې تر دولس کلویې اوږد مقاومت کړی و، له دې وجې د دې ظالمانو ظلمونه اودکفر تقویه کېدو په لاره کې کړي جنایتونه یې هیڅکله دبښلو ندي او وبه نه ښښل شي اونه به یې زمونږ راتلونکې تاریخ مجرمانه کړه وړه وبښي ، راتلونکې نسلونه دوئ محکوموي او په کړوبه یې لعنتوایي ....

¤ ¤ ¤

دایران سیاست او راروانو ټاکنو ته کتنه

قاري حبيب

دروان ۱۳۹۲ هجري لمريز كال دجوزا په ۲۴ مه په ګاونډي هيواد ايران كې دولسمشرۍ او ښاري شوراګانو انتخابات ترسره كيږي ، دا په دې هيواد كې دولسمشرۍ يوولسمه دوره انتخابات دي ، چې په ترڅ كې به يې ددې هيواد لپاره نوى ولسمشر وټاكل شي ، له ولسمشريزو انتخاباتو سره يوځاى دښاري او كليوالي شوراګانو انتخابات هم ترسره كيږي .

تراوسه چې ددې انتخاباتو په اړه كوم خبرونه په مطبوعاتو كې راغلي داسې معلوميږي ، چې دا انتخابات هم د ۱۳۸۸ كال دټاكنو غوندې له ستونزو او ناندريو خالي نه دي ، او غالب ګومان دادى ، چې ټاكنې به دوهم پړاو ته ورسيږي ، ځكه دولسمشرۍ دكانديدانو په توګه چې كوم اته كسان غوره شوي ، تقريبا ديوه بل په نسبت موازي ځيرې دي ، او دكوم مشخص كانديد دتفوق علائم نه ترسترګو كيږي ، دا چې دايران راتلونكى اجرائيه مشر به څوک وي ، كوښښ كوو چې همدا او دايراني سياست اړوند ځيني نور مسائل په دې بحث كې خلاصه كړو .

دايران دسياسي نظام جوړښت

دايران دسياسي نظام جوړښت دنړۍ په سطحه دپيچلو سياسي نظامونو له ډلې شميرل كيږي ، دسياست پوهانو په باور دايران اوسني سياسي جوړښت په نړيواله سطحه منحصر به فرد سياسي جوړښت دى ، چې په بل هيڅ هيواد كې يې بيلګې نه موندل كيږي او نه تردې پخواليدل شوې .

دايران نظام چې نه شاهي دى او نه هم دچين غوندې يو حزبي بلكې تريوه حده ديموكراتيک دى ، خو څرنګه چې ديموكراتيک نظامونه په رياستي ، پارلماني او نيمه رياستي نظامونو ويشل كيږي ، دغه نظام له دې يوه سره هم اړخ نه لګوي او نه هم خلافت بلل كيداى شي .

دا نظام دسياست يو دوراني جوړښت دى ، چې دقدرت اصلي مرجع په كې په اسانه نه شي تشخيص كيدلاى ، خو په عموم كې ترټولو دواک او زياتو صلاحيتونو خاوند ولي فقيه يا رهبر بلل كيږي چې همدا اوس دغه څوكۍ دايت الله خامنه يي په واک كې ده ، ديوشمير شيعه علماء په باور دجعفري فقهې له نظره كله چې امام غائب وي ، نو په شرايطو پوره فقيه كولاى شي ، دامام ځايناستى شي او په خلكو حكومت وكړي ، همدا د (ولايت مطلقه فقيه) نظريه چې ځينو اهل تشيع علماء ورته له پخوا اشاره كړې وه دايران انقلابي مشر ايت الله خميني په لومړي ځل دعمل جامه وراغوسته ، او په همدې بنسټ يې اوسنى نظام رامنځته كړ .

په ایراني نظام کې د مشر توب درې مهم پوستونه دخلکو په رایه ټاکل کیږي ، چې هغه ولسمشر ، پارلمان او د مجلس خبرګان په نامه یوه محدوده شورا ده ، له همدې ځایه دحکومتي بیلابیلو ادارو د انتخاب یا انتصاب پروسه پیلیږي دبیلګې په توګه مجلس خبره ګان دانتصاب له حق نه په استفاده (رهبر) ټاکي ، رهبر بیا دقضایه قوې د مشر ، د پوځ دمشرتابه ، دصداوسیما په نوم دتبلیغاتي شبکو دمشرتابه دټاکلو صلاحیت لري ، دغه راز رهبر دشورای نګهبان په نامه دیوې ځواکمنې شورا دنیمایي غړو د انتصاب حق لري ، دشورای نګهبان نیمایي نور غړي دقضایي قوې مشر انتصابوي ، خو ځرنګه چې دقضایي قوې دمشرتابه ټاکنه هم درهبر صلاحیت دی نو بالواسطه ددې ځواکمن سازمان (شورای نګهبان) دانتصاب ټول حق له رهبر سره دی .

شورای نګهبان چې د شپږو مذهبي علماء او شپږو حقوق پوهانو نه جوړه مجموعاً ۱۲ غړي لري ، یو باصلاحیته شورا ده ، چې رسمي وظیفه یې د دمجلس خبرګان ، پارلمان او ولسمشر په فعالیت څارنه ده ، دغه راز هغه څوک چې ولسمشرۍ اویا هم پارلمان ته کاندیدیږي ، باید دشورای نګهبان لخوایي صلاحیت تائید شي ، چې دا صلاحیت یې ترټولو مهم بلل کیږي ، چې له همدې ځایه دایران په سیاست د رهبر قبضه همیشه ټینګه پاتې ده .

په ایراني نظام کې دولسمشر له مهمو دندو څخه د دوزیرانو عزل او نصب چې دپارلمان له باور وروسته به ټاکل کیږي ، دغه راز دملي امنیت دشورا ، مرکزي بانک ، د بودجې او مدیریت سازمان ، دفرهنګي انقلاب دشورا او دغسې نور ټیټ پوړو شوراګانو او ادارو دمشرانو ټاکل او لرې کول د ولسمشر له مهمو صلاحیتونو شمیرل کیږي .

په ایراني نظام کې پارلمان (مجلس شورای اسلامي) ۲۹۰ څوکۍ لري ، چې مهمه دنده یې دولسمشر او کابینې په فعالیتونو نظارت دی ، څرنګه چې په ایران نظام کې دځواک منابع خورا ګڼ او جوړښت یې پیچلی دی ، نوځکه کله ناکله دمختلفو مراجعو ترمنځ په ځینو مسائلو اختلاف راځي ، دهمدې اختلاف درفع کولو لپاره له نظامه بهر د (مجمع تشخیص مصلحت نظام) په نوم یوه بله شورا هم شتون لري ، چې دمختلفو قواوو او دواک دمراجعو ترمنځ منځګړتوب کوي ، او خپل منځي لانجې یې ورحل کوي ، ددې شورا اوسنی مشر وتلی سیاستوال علي اکبر هاشمي رفسنجاني دی .

سیاسي ډلې او فراکسیونونه

په ایران کې سیاسي ډلې په دوو برخو ویشل کیږي ، یو هغه ګوندونه دي چې د ایران له سیاسي فارمول (ولایت مطلقه فقیه) له نظریې سره مخالفت لري ، او په وړاندې یې مبارزه کوي ، دغه ګوندونه ، لیبرال ، سوسیالیست ، ملي ګرا ، مشروطه خواه او یا هم دنورو نظریو پیروان دي ، خو دغه قسم ګوندونه په ایران کې نه یوازې دسیاسي فعالیت اجازه نلري بلکې دملي امنیت په وړاندې خطر بلل کیږي ، نوځکه یې ګډونوال نیول کیږي ، شړل کیږي او یا هم داعدام په ګډون مختلفې سزاګانې ورکول کیږي ، ددا ډول ګوندونو فعالان زیاتره له ایرانه بهر اوسي ، او دسیاسي فعالیت اجازه نلري .

دوهم ډول سیاسي ډلې هغه دي چې دولایت فقیه نظریې ته اعتقاد لري ، او داساسي قانون په چوکاټ کې دننه سیاسي مبارزه کوي ، دغه ډول سیاسي فعالان که څه هم په دوو برخو (اصولګرایان او اصلاح طلبان) ویشل کیږي ، مګر دوی دنورو هیوادونو غوندې کوم معلوم ګوندي جوړښت نلري ، بلکې دپایدارو ګوندونو په عوض دغه ډلې ترډیره لنډ مهالی ، شخصیت محوره او موسمي ګوندي جوړښت لري ، چې یوازې دانتخاباتو په مهال یې ګوندي نوعیت تشخیص کیدلای شي .

ددغه ډول ناپایدارو او نامحدودو سیاسي فراکسیونونو

شمیر خورا زیات دی ، چې مهم یې فراکسیون اصولگرایان ، جبهه پایداري انقلاب اسلامي ، ایتلاف ۲+۱ ، اصولگرایان تحول خواه ، جبهه پیروان خط امام ورهبري ، فراکسیون رهروان ولایت ، اصلاح طلبان ، جبهه اصلاحات ، جنبش سبز او نورې ګنې ډلې دي .

دغه ټولې ورې ډلې خپلو ګټو ته په پام سره د انتخاباتو په مهال په ورځني شکل ایتلافونه کوي ، او ترخپل منځ سره اوبدلي جوړښت لري ، تردې چې داسې هم شوي چې یو شخص په متعددو ډلو کې غړیتوب ولري.

په نهایت کې دایران سیاسیون او ډلې په دوو فکري لوریو ویشل کیږي ، چې یو اصول ګرایان او بل اصلاح طلبان دي ، اصولګرایان د ایران درهبرۍ او انقلاب دودیز ارادتمندان دي ، چې دانقلابي لارې په وړاندې هیڅ تعرض نه مني ، او غواړي چې ایران دتل لپاره همداسې واوسي ، اصلاح طلبان بیا هغه سیاسي فعالان دي چې غواړي ، دایران په سیاسي نظام او سیاست کې ممکنه اصلاحات رامنځته کړي ، داصلاح طلبانو ډله څو کاله وړاندې دیوه اصلاح طلب محمدخاتمي دولسمشرۍ په مهال دپراختیا او شهرت اوج ته ورسیده ، او داسې فکر کیده چې دایران په راتلونکي سیاست کې به مهم رول ولوبوي ، خو څرنګه چې دغې ډلې ته دایران درهبرۍ لخوا په شک کتل کیدل ، نوځکه په تیرو څو کلونو کې دغه ډله په شعوري توګه کمزوري کړای شوه تردې چې پخوانی سیاسي موقف یې له لاسه ورکړ .

د ۱۳۸۸ لمریز کال دټاکنو په مهال چې داصلاح طلبانو له اړخه دمیرحسین موسوي په نوم کاندید ولاړ وو ، له ټاکنو وروسته داصلاح طلبانو مظاهرو او تاوتریخوالي دغه ډله نوره هم له سیاست څخه منزوي کړه ، ددغو مظاهرو په مهال یوشمیر اصلاح طلبانو د جنبش سبز ترنامه لاندې په احتجاجي عمل لاس پورې کړ ، چې وروسته همدغه ډله ایراني رسنیو (فتنه) ونوموله او دحکومت لخوا هم سخت وځپل شول .

په تیرو پارلماني ټاکنو کې اصلاح طلبه کاندیدانو ته په دې شرط دسیاسي مبارزې حق ورکول کیده ، چې له جنبش سبز څخه به رسما بیزاري اعلانوي .

اصلاح طلبان چې تردې پخوا دمحمدخاتمي په دوره کې د بې صلاحیته واکمنۍ تجربه لري او د ۱۳۸۸ لمریز کال دانتخاباتو جریان یې په یاد دی ، په دې باور دي ، چې که دوی دغه ټاکنې وهم ګټي ، نو کومه فایده به ورته ونه کړي ، ځکه دوی درهبرۍ دمداخلې او قانوني موانعو له وجې هغه اصلاحات نه شي پلي کولای چې دهغه لپاره مبارزه کوي ، له همدې امله په اوسنیو انتخاباتو کې اصلاح طلبان له سیاسي مبارزې څخه مایوسه ښکاري او دپخوا غوندې ورسره دلچسپي نه ښیي ، چې په دې توګه میدان اصولګرایانو ته پاتې دی .

له بلې خوا داسې ښکاري چې په دا ځل ټاکنو کې اصول ګرایان هم سره یولاس نه دي ، بلکې داصولګرایانو په منځ کې داحمدي نژاد او رحیم مشایي په مشرۍ داسې کسان پیدا شوي ، چې له رهبرۍ سره یې طبع نه لګیږي .

داصولګرایانو په منځ کې دا درز له هغه وروسته رامنځته شو ، کله چې د ۱۳۹۰ لمریز کال په ثور کې ولسمشر احمدي نژاد داطلاعاتو دوزیر په سر له خامنه یي سره په ټکر کې راغی ، داطلاعاتو وزیر حیدر مصلحي استعفاء ورکړه چې داحمدي نژاد لخوا ومنل شوه ، خو ایت الله خامنه یي نوموړی بیرته په خپله دنده وګماره ، چې درهبر خامنه یي دغه فوق العاده اقدام احمدي نژاد د کابیني په چارو کې مداخله وبلله ، او یوولس ورځې یې له ټولو دولتي دندو ځان ګوښه کړ ، داسې ویل کیدل چې احمدي نژاد غوښتل داعتراض په دود استعفاء ورکړي ، خو وروسته له دې اقدام څخه صرف نظر شو ، دایت الله خامنه یي په وړاندې داحمدي نژاد دغه موضوع ګیري نورو اصولګرایانو یو بې ځایه اقدام او درهبرۍ په وړاندې

بغاوت ونوماوو ، خو ځيني نور بيا ورسره ملګري شول ، په دې توګه احمدي نژاد او مرستيال يې اسفنديار رحيم مشايي د اصولګرايانو په منځ کې ديوه نوي حرکت په سمبول بدل شول ، چې وروسته د ايت الله خامنه يي پلويانو په (جريان انحرافي) سره ونومول .

ويل کيږي چې ددې جريان اصلي محرک د احمدي نژاد مرستيال رحيم مشايي دی ، دنوموړي له وروستيو اظهاراتو ښکاري چې نوموړی د ولايت فقيه د شيعه مذهبي نظريې په ځای ترډيره د ايران تاريخي تشخص ته ژمن دی ، چې نوموړی ترې په خپلو ويناوو کې په (مکتب ايراني) سره تعبير کوي د نوموړي دغه نظريات د شيعه مذهبي مشرانو لخوا ناروا بدعات بلل شوي او له همدې امله يې اصولګرايان په وړاندې سخت پاريدلي دي را راوني ټاکنې

څو ورځې وروسته به په ايران کې د ولسمشرۍ او ښاري / کليوالي شوراګانو ټاکنې ترسره کيږي ، له پيله اټکل داوو چې دا ټاکنې او د کانديداتورۍ بهير به له نانډريو ډک وي ، مګر وروستيو اقداماتو وښوده ، چې د ايران رهبر ايت الله خامنه يي له خپلو صلاحيتونو په استفاده سر له اوسه په ايراني سياست د ولکې د ټينګولو لپاره اقدامات پيل کړي دي .

د ولسمشرۍ په اوسنيو ټاکنو کې د اصلاح طلبانو په استازيتوب محمد خاتمي کانديد نه شو ، خو په ځای د علي اکبر هاشمي رفسنجاني په نوم يو بل نيمه اصلاح طلب خو پيژندل شوي سياستوال خپل نوم د انتخاباتو کميسيون ته وسپاره ، دغه راز د نورو ګڼو کسانو په منځ کې د احمدي نژاد مرستيال رحيم مشايي هم ځان کانديد کړ ، دوی دواړه تر هغو حرکتونو پورې تړلي کسان وو ، چې د ايران رهبرۍ ورته په ښه سترګه نه کتل ، له همدې امله کله چې د کانديدانو نومونه شورای نګهبان ته د صلاحيت د تائيد لپاره لاړل ، شورای نګهبان د رفسنجاني او مشايي نومونه د ګڼو نورو کانديدانو سره يوځای له ليست څخه وايستل او سلب صلاحيت يې کړل ، په دې توګه د ايران رهبرۍ د اصلاح طلبانو او د مشايي د انحرافي جريان د واکمنيدو مخه تر انتخاباتو وړاندې ډب کړه او ميدان اصولګرايانو ته خلاص شو .

د شورای نګهبان لخوا يوازې اته تنه ولسمشرۍ ته د دريدو وړ بلل شوي ، چې زياتره يې اصولګرايان دي او د اصلاح طلبانو له جملې يوازې يو لږ پيژندل شوی شخصيت محمدرضا عارف په کې شتون لري .

د نورو کانديدانو له جملې د ملي امنيت د شورا مشر سعيد جليلي ، د تهران ښاروال محمدباقر قاليباف ، پخواني خارجه وزير علي اکبر ولايتي او د پارلمان پخواني مشر غلام علي حداد عادل له مشهورو او مطرحو څيرو څخه ګڼل کيږي .

تراوسه هيڅوک مطمئنا نه شي ويلی چې د ايران راتلونکی ولسمشر به څوک وي ، ځيني څارونکي اټکل کوي چې کيدای شي د اصولګرايانو د رايو د تقسيم له وجې يې د اصلاح طلبانو يوازينی کانديد محمدرضا عارف وګټي ، خو نور بيا وايي چې دغه کانديد هيڅ سياسي سابقه او شهرت نلري ، خو په مقابل کې يې د اصولګرايانو څلور کانديدان وتلي او پيژندل شوې څيرې دي ، چې ښايي ډيرې رايې خپلې کړي .

خو که هره ډله يې وګټي داسې فکر نه کيږي چې د ايران په سياسي تګلاره او بهرنۍ پاليسۍ به کوم څرګند اغيز وغورځوي ، ځکه به دې هيواد کې د واک ، ځواک او تصميم ګيرۍ اصلي سرچينه ولسمشر نه بلکې رهبر بلل کيږي ، چې ټول مهم تصميمونه يې په خوښه نيول کيږي .

لومړۍ برخه

داسلامي فقې تاریخ

ليکوال: داسلامي نړۍ تکړه عالم دوکتور محمد حميد الله (رح)

ژباړه: شهاب منصور

مونږ چې وړاندې کوم دوه څېزونه بیان کړل فقه پر هغو دواړو ولاړه ده ، یعنې لومړۍ دامعلومول پکاروچې قرآن څه دی ؟ او تر مونږ څنګه رسیدلی ،څو معلومه شي چې زمونږ دین زمونږ فقه اوزمونږ قانون چې پر کومو دوه څېزو ولاړدي ،هغه دواړه دومره دباوروړ دي چې آن یوبيطرفه انسان يې هم راسره اومني .

زه داړلرم چې تاسوته به له تېرو دواړو بحثونو معلومه شوي وي چې دخپل دين(اسلام) دمأخذونو په لړ کې مونږ(مسلمانانو)ته دکوم خجالت یاشرم احساسولو ضرورت نشته ،په څومره کلک احتیاط چې تر مونږ قرآن اوحدیث رسېدلي ،ددې مثال دنړۍ دنورو قومونو سره نشته ، هغوئ ته دخپلو ادیانو بنسټونه په هغومره احتیاط ندي رسېدلي ، اوس مونږدا څېړو چې دغه دواړه د کلک باوروړ څېزونه وړاندینو مسلمانانو څنګه وروستنو ته نقل کړي ؟څنګه يې قانون ګرځولي ؟ اوڅنګه ترنن پخپل اصلي حالت پاته دي؟ یو څېز چې په پیل کې يې ما یادونه کړي ، هغه دعظيم الشان قرآن معجزانه حیثیت سربیره په دې چې چې هغه دالله (ﷻ) کلام دی اوحدیث دخپل الهامي

حیثیت سربیره چې هغه رسول الله (ﷺ) ته دالله (ﷻ)له لوري الهام شوي خبري بیانوي ، خوکه په دواړو کې دیوحکم په اړه څه ونه موندل شول په هغه صورت کې به څه کېږي ؟ دویم واري تاسو ته درپه زړه کوم او دحضرت معاذ بن جبل (رض) دواقعي په لور موتوجه ګرځوم ،څوک چې یو مشهور صحابي دی او ورته اوږد عمر په نصیب شوی ، غالباًتر ټولولوی فقیه هم و ، لا ځوان و خو دپوهې اوذهانت په وجه رسول الله (ﷺ) نوموړی دیمن والي په توګه وګوماره ، یمن ته دروانیدو وخت کې رسول الله (رض) ترې وپوښتل: معاذه !ته به خپلې فیصلې څنګه کوې ؟ هغه ورته ځواب کې وویل : "بکتاب الله" (دالله په کتاب به يې کوم) رسول الله ترې بیا وپوښتل :که په هغه کې يې ونه مومې ؟ ذما اصل اشاره ددې نکتې لورته ده چې خپله رسول الله (ﷺ)فرمايي: په عامو حالاتوکې نه په ځینوخاصوحالاتواوقضایاوو کې له عظیم الشان قرآن استنباط دهرچا دوس کار ندی له دې وجې يې معاذ رض ته وفرمایل : که ته خپل مطلوب په هغه (قرآن) کې ونه مومې نوبيا ؟ معاذبن جبل (رض)ځواب ورکړ : "بسنة رسول الله" (درسول الله ﷺ په سنت به فیصلې کوم) داځواب هم سهي و ،خو دحدیث اوسنت دالهاهي حیثیت

سربيره رسول الله (ﷺ) ترې درېيم وارېيا وپوښتل: فان لم تجد (که هلته هم خپل مطلوب ونه مومي بيا ... ؟) معاذ ؓ ځواب ورکړ: "اجتهد برأيي ولاآلو" (يعنې زه به دخپلې ء راي سره سم کوښښ کوم او دمسايلواستنباطولو په لړکې به هيڅ ډول کوتاهي نکوم) ددې ځواب په اوريدو رسول الله (ﷺ) دومره خوشال شو چې له زياتې خوشالۍ يې داسمان په لور مبارک لاسونه پورته کړل او وي فرمايل: الله ! ستا درسول (ﷺ) استازي چې څه وويل پر هغه زه خوشال يم يعنې معاذ ؓ ته يې دبرکت دعا وکړه اوهغه يې وستايه ،غرض داچې که په عظيم الشان قرآن اوسنت دواړو کې يوځواب ونه موندل شي ممکن مسلمانان بې وسه شي اوخپلواړتياوو ته ځواب ونشي ويلی چې دادتر قيامت پورې دپاتې دين دمنونکو لپاره مناسب نده،ديته په کتو رسول الله (ﷺ) مسلمانانو ته په دغسې صورت کې داجتهاداجازه ورکړه ،ديته زه بيا راگرځم چې اجتها څه معنی ؟

فقه يوعربې لفظ دی په لغت کې وايې پوهې ته ،او اصطلاحي معنی يې ده قانون ،په عظيم الشان قرآن کې دقانون يادونه چې په څومره راښکونکې بڼه راغلې، ترې دانتيجه په لاس راځي چې د قانون په اړه دعظيم الشان قرآن انگېرنه اوتصور څه دی ؟ هغه آيت دادی [مثلاً كلمةً طيبةً كشجرةٍ طيبةٍ اصلها ثابت وفرعها في السماء] (۱۴:۲۴) دښې خبرې مثال ديوې ښې ونې پشان دی، چې ولې يې په زمکه کې وي خوښاخونه يې تراسمان خواره وي ، په بل سپيناوي :دقانون بنسټ دکوچنۍ دانې په څېر دی ،خوله هغې چې کومه ونه زرغونېږي ،هغه تراسمانه خوره شوي وي ،ځودانسان هر ضرورت اوتر قيامته دراتلونکو انسانانو دنسلونو دنويو اړتياوو پوره کولووړوگرځي ، اوپه هغه ونه کې هره ورځ ښاخ په ښاخ زياتوالی راځي ،ديته پر پام به بې ځايه نه وي چې په تمهيد ې توگه اسلامي قانون له نورو قوانينو سره يوڅه موازنه کړم :

دڅېړونکواوتاريخ پوهانو په وينا د نړۍ ترټولو لوی قانون جوړونکی ولس دروميانو و ، دقانون په برخه کې هغوئ لوی خدمتونه کړي ، خودا سې انگېرنه يواځې د اروپا تر حده شايد سهې وي ، ولې هلته هغه ولسونه چې له روميانو وړاندې تېرشوي په هغوئ کې يونانيان ممتاز وو، ولې يونانيانو ګڼ علمي خدمتونه کړي، خو دقانون په اړه دهغوئ دهيڅ کوم ژورعلمې خدمت څرک نه ليدل کېږي، له دې وجې بايد اعتراف وکړو چې داروپا ترحده روميانو دقانون په برخه کې ستر خدمتونه کړي دي .

درومي قانون مشهورتاريخ پوه "کولی" ليکي :په شروع کې دروميانو قانون بلکل ابتدائي ډول (primitve) وهغه له خلاص زړه اعتراف کوي چې هر کله درومې سلطنت حدود پراخ شول او ترآسيا وغځيدل ، په دې سره روميان دځايي قانون تراغېز ولاندې راغلل ،دېته اړشول چې پخپلو قوانينو کې يولړ اصلاحات راوستل پيل کړي ،چې ورته په پام درومي قانون ترټولو پخوانی مصنف چې څوک تېر شوی دی يعنې گائيس (Gaius) هغه دآسيا ئي کوچک اوسنۍ ترکيې اوسېدونکی و، اروپايې نه و، وروسته په دغه قانون کې له دې پلوه چې رومې سلطنت داروپا اوآسيا وچوته وغځيد اوپه مختلفوخلکو يې حکومت و،له دې وجې هغوئ پخپلوقوانينو کې ګڼ شمېر تغيرات ،ترميمات اوزياتونې و کړي په دې توگه دهغوئ قانون ترقي وکړه ، درسول الله (ﷺ) له زوکړې څخه څلور پنځه کاله وړاندې مړ پاچا جستينين(Justinian) ددغه قانون دبيا تدوين کوښښ وکړ ، چې مونږ دجستينين دقوانينو دمجموعې پرتلنه دعالمگيري فتاوا سره کولای شو ،عالمگيرعلم دوست پاچا و ،پخپله عالم اوفقيه نه و،همدا حال دجستينين و،هغه ذهين پاچاو،خوخپله دقانون ماهرنه و، دهغه وخت پوهانو په سرپرستۍ کې يې ټول

شته قوانین له سره تدوین کړل ، په کومو مادو کې چې تضا د لیدل کیده پر هغوی دویم واري کتنه وکړه ،چې په دې تو ګه یې دقوانینو یوه نوي ټولګه تیاره کړه ، پر کومه چې اروپا ویاړي ، له شک پرته دغه قانون راښکونکی دی پکې داسي ګڼ شیان شته چې ورباندې نن هم عمل کیږي اوپکې دتغیر اوبدلون ضرورت ندی پیښ شوی ،خو ددغه قانون اساس دادی چې اسنان پخپله قانون جوړونکی دی ، یعنې یو انسان دبل انسان جوړ کړی قانون منلی هم شي او بیرته یې ردولی هم شي ، نتیجه دا شوه چې په دې قانون کې استحکام رانغی ، له دې وجې تاریخ پوهانو لیکلي دي چې پخپله د(justinan) په ژوند کې ددیرش دوه دیرش کلو دننه دومره بدلونونه راوستل شول چې هغه په لومړي بڼه پاتې نشو، ددې برخلاف که دقانون اساس دالله (ﷻ) حکمونه وي نوپکې استحکام او دوام راځي ، کوم چې دانسانې قانون دننه نشي راتلای ،ولې چې هر انسان بل انسان خپل برابر بولي ، اوپه هغه باندې داعتراض اونیوکو جسارت کوي اودهغه خلاف دراي ورکولوهمت کوي ، په نوروهېوادو کې هم مونږوینو ، خو داچې دټولو هېوادو له قوانینو سره ددااسلامي قانون دپرتلنې اوموازنې کولو لپاره وخت نلرونو په همدې بسیا کوو.

غرض داچې کله رسول الله (ﷺ) مبعوث شو هغه وخت دنړۍ په وړاندې یوقانونې چېلینج و هغه داو که په هر چا کې همت وي نوددې (رومي) قانون څخه دې غوره قانون راوړئ ! دې چېلینج ته رسول الله (ﷺ) ځواب ووایه ،اوداسې قانون یې جوړ کړ چې هغه دجستنین له قانون څخه په رښتنې تو ګه غوره دی ، داقانون له هغوټولو کمزوریونه پاک و کومې چې د justinan په قانون کې وې اوهم پکې دوام ، پراختیا او استحکام هم و ، په اسلامي قانون کې چې څومره پراخي ، اوجامعیت شته هغه په رومي قانون کې نه و، دمثال په تو ګه : په رومي قانون کې دعباداتواودینې چارو له سره یادونه نشته، هم داسې نور ګڼ څېزونه چې په اسلامي قانون کې لیدل کېږي، خو په رومي قانون کې په اړه هیڅ هم نه موندل کېږي ، که هر بیطرفه سړی درومي قانون او اسلامي قانون ترمنځ یوه مقایسوي پرتلنه اوموازنه وکړي، هغه به خامخا مجبوروي چې اعتراف وکړي چې اسلامي قانون له رومي قانونڅخه غوره دی ما ترڅوبابونو پورې درومي او اسلامي قواعدو مقایسه اوموازنه کړې زه دخپل ذاتې علم په اسا س پورته دعوه کوم.

اوس مونږ داڅېړو چې اسلامي قانون څنګه جوړ شوی ؟ اسلامي قانون دالهي وحي په زریعه راغلی ،چې درسول الله (ﷺ) له اوامرو اوحکمامو جوړ دی ، چې دهغو ځینې برخې رسول الله (ﷺ) لیکلي اوپه اړه یې دا حکم کړی چې دا دالله (ﷻ) حکم یعنې قرآن دی ! تاسي یې په یادو یاد کړئ او په لمونځونو کې یې لولئ ،هیڅکله یې مه هېروئ ، په همدې تو ګه درسول الله (ﷺ) هغه حکمونه چې الهي وحي دي خو په قرآن کې ندي شمار هغوته سنت وایي ،دالله (ﷻ) حکمونه درسول الله (ﷺ) حکمونه په یوه ورځ ندي تدوین شوي څنګه چې ماوړاندې وویل : چې عظیم الشان قرآن په ۲۳ کلو کې نازل شوی ، همداحال دحدیث هم دی ، خوپه شروع کې هیڅ هم نه وکله چې دخلکو مسلمانیدل پیل شول هره ورځ دهغوئ په شمېر کې زیاتوالی راته ، پوښتنه داپیدا کېږي چې که چېري دقانون معنی وي طرزالعمل یادکړنلارې اصول نوبیا په لومړي وخت کې اسلامي قانون څه و، ولې هغه مهال داقرأ سورة له پنځو ایاتو پرته نور څه نه ونازل ؟ددې ډېر ساده ځواب دادی چې داسلامي اصولو له مخي دکوم څېز چې ممانعت نه وي راغلی هغه مباح دی ، یا داچې دمکې په ټولنه کې دکافرانه ژوند او بوت پالنې پرته هغه دودونه رواجونه چې په عام عرف اوعادت کې موندل کېدل ، پر هغو باندې مسلمانانوته دعمل کولو اجازه وه ، په تاسې دي بده نه لګیږي لومړي سر کې مسلمانانوهم

شراب شکل ،ولې چې هغه مهال دشرابو دحرمت حکم نه وراغلی ، پر بل سپیناوي اسلامي قانون پیل دمکي ښار له روسم ورواج وشو بیا په هغه کې په کرار ، کرار ترمیمات اوبدلونونه راغلل ،دقرآن اوحدیث دحکمونو له مخې په پخواني رسم ورواج کې چې کوم بدلونونه و شول هغه د۲۳ کلو په موده کې په ترجیحي ډول وشول د کومو چې اول منسوخول ضروروو هغه اول منسوخ شول بیا دنورو هم داسې دکومو ځېزونو ، اوکومو زیاتولوته چې اړتیا وه هغه زیات شول ،ښکاره ده چې دمکې درسم ورواج په اړه داسلام دامتناعي حکمونو لړ کې لومړی عنصر دبوت پالنې مخالفت و ،یعنې الله یودی دبوتانوعبادت مه کوئ ،دالله (ﷻ) سره شریک مه نیسئ ،دعقایدو په اړه یوبل شی هم وچې زمونږژوند یواځې ددې دنیا سره تړاونلري بلکې ددې وروسته داخرت ژوند هم شته ، دمرګ وروسته دحساب کتاب لپاره الله (ﷻ) مونږ ته دویم ژوند راکوي ، اومونږته دنیکواوبدواعمالو مطابق جزا یا سزا راکوي ،دابالکل لومړي ځېزونه وو چې په الله (ﷻ) ایمان دهغه په رسول ایمان اوپه قیامت ایمان ،یوبل ځېز دا هم وچې الله (ﷻ) مونږ یومنو اوهغه خپل خالق اومالک بولو نو دهغه له لورې زمونږ په ذمه شته مسؤلیتونه (فرایض) به څنګه سرته رسوو؟ښکاره ده چې الله(ﷻ) مونږ ته محتاج ندی ، بلکې مونږالله (ﷻ) ته محتاج یو ،له دې وچې الله (ﷻ) بنده ګې اودهغه شکر ایستل پر مونږ فرض دی ،ددې فرض ادا کولو لپاره یې مونږ ته دلمانځه تاکید کړی دی ،نولمونځ اوعقاید دوه هغه لومړني عنصرونه وو چې په پیل کې راغلي،بیا وروسته کرار، کرار نوراحکام راغلل ، څما دوینا غرض دادی چې داسلامي قانون مأخذ قرآن اوحدیث دی خوورسره بلکې وړاندې دمکي ښار رسم رواج اسلامي قانون و ، درسم ورواج بڼه دیوه عارضي مأخذ بڼه وه، ولې چې قرآن پاک چې دقانون اصلي ماخذ و په هغه کې دومره ځواک و چې هغه غیر اهم اوغیر دوامي عنصر، یعنې رسم ورواج یې منسوخ کړ.

زمونږ داصول فقه په کتابو کې یو بل ماخذ هم بیا نیبږي ،چې ورته "اجماع" ویل کېږي ،یعنې په یوه خبره دعلماووتفق کیدل ! درسول الله (ﷺ)ژوند کې اجماع ته اړتیا نه وه ، ولې که کومه پوښتنه به پیدا کېده خلکو به مخامخ اوسملاسې رسول الله (ﷺ) ته رجوع کوله ، رسول الله (ﷺ) به فیصله کوله ، کومه فیصله به چې قطعي اوروستۍ وه ، پخپل منځ کې مشوري کولو اوپه یوه خبره اتفاق (اجماع)راتلوته اړتیا نه وه ، په دې اړه نورې خبرې وروسته کوم.

ددې مأخذونو ترڅنګ درسول الله (ﷺ) په زمانه کې یوبل ځېز هم موندل کېږي ، کوم چې په راتلونکې کې مونږ ته پکار راځي ، هغه ته "معاهده" وایلای شو ، یعنې که دکوم بل هېواد اوکوم بل حکومت سره معاهده یاتړون وغواړو نو ځینې شرطونه به منو ،چې دا ؛ دابه مونږ کوو او دا؛ دابه تاسي کوئ ، څو چې هغه معاهده په ځای پاتې وه هغه شرائط ، اوهغه ژمني چې مونږ کړي وي هغه زمونږ دقانون جز ګرځي ، اومونږ لپاره په هغو باندې عمل واجب دی ، په بل سپیناوي شوي معاهداتي تړونونه او شرائط د اسلامي قانون برخه ګڼل کېږي ، خوغیر تابدي اوعارضي قوانین ! څو چې تړون اومعاهده پاتې وه هغه یاد شرطونه زمونږ دقانون برخه دي

یوبل مأخذ چې درسول الله (ﷺ) په وخت کې موندل کېږي خوماته یې په اړه یې تراوسه په نبوي دوره کې کوم مثال ندی په لاس راغلی خوترڅولو پخوانی مثال چې ما موندلی هغه دحضرت عمر (رض) دخلافت د دوري دی دیوي پېښې په اړه مماثلت اصول (Reciprocity) چې له کومې معاهدې پرته دنورو قوانین زمونږقوانین ګرځي ،لومړی زه هغه واقعه بیانوم څو تاسی ته جوته شي

چې د"مماثلت" نوم ورکړل شوی دهغې تاریخي شالید څه دی ؟یوه ورځ حضرت عمر (رضي الله عنه) ته دیوه سرحدي ولایت والي په یولیک کې ولیکل چې زمونږدپولي هغه غاړه چې بیزنطیني(رومیان) میشت دي دهغوئ سوداګرغواړي زمونږ هیواد ته راشي څوزمونږ هیواد کې سوداګري وکړي ،مونږته احکام راکړه چې مونږ له هغوئ څه ډول ګمرک واخلو ؟دهغه والي په علم کې دګمرکاتوپه اړه څومره داسلامي قوانینو علم و ؟ دهغه په رڼا کې یې قرآن وکوت هلته ورته حکم په نظر ورنغی اونه یې په اړه خپله معلومات درلودل ، حضرت عمر (رضي الله عنه)ځواب ورکړ :دهري سیمي سوداګر چې راځي ،هلته له مسلمانو سوداګرو چې څومره ګمرک اخستل کیږي هغومره ګمرګ ترې تاسي هم اخلئ ، یعني دمماثلت قانون ، ددې څخه وړاندې دبیزنطیني حکومت سره هیڅ کومه داسي معاهده نه وه ددې باوجود حضرت عمر (رضي الله عنه) پریکړه وکړه چې دهغوئ په سیموکې له مسلمانانو څومره فیصدي ګمرک اخیستل کیږي هغومره فیصدي به ترې مسلمانان هم اخلي.

ددې مأخذونو څخه علاوه یومأخذ دکوم یادونه چې لږوړاندې یکاروهغه داچې دقرآن په انعام سورة کې یوځای نیږدې د۲۵ پیغمبرانودنومویادوړد فهرست دی ، دهغه وروسته داآیت دی [اولئک الذین هدی الله فبهدی هم اقتده] (۶:۹۰) داهغه خلک دي چې الله (ﷻ) ورته هدایت کړی دی ، ددې لپاره (اي محمد) ته هم دهغوئ پیروي وکړه !دتاریخي لرلید له پلوه ددې آیت مفهوم دادی چې الله (ﷻ) دادم (عليه السلام) دزماني نیولې درسول الله (ﷺ) پورې دخپلو استازو په واسطه چې کوم پیغام لیږلی دی ، هغه هم دخدای حکم دی ،اوهغه هم داسې ددرناوي او احترام وړدی څنګه چې په رسول الله (ﷺ) نازل شوي قوانین دي [لانفرق بین احد من رسله] (۲:۲۸۵)(ټول پیغمبران دپیغمبرانوپه توګه مساوي مرتبه لري.) له دې وجې حکم شوی چې دپخوانیوپیغمبرانو په قوانینو هم عمل واجب دی ، اورسول الله (ﷺ) ته په هغوباندې دعمل حکم شوی دی ، خوښکاره ده چې ددې حکم سره ځیني شرطونه هم دي ،قانون جوړونکی دالله (ﷻ) ذات دی هغه که ادم (عليه السلام) یا موسی (عليه السلام) ته ځیني احکام ورکړي دي،نو هم هغه قانونجوړونکی(الله) پکې تغیر اوتبدیل کولی شي ، پر بل سپیناوي :که خدای (ﷻ) زمونږ پیغمبر ته حکم کړی چې دوړاندینو پیغمبرانو مثلاً دموسی (عليه السلام)او عیسی (عليه السلام)احکامو کې په فلاني ،فلاني حکم عمل مه کوه بلکې دا وکړه ، نو پر پخواني قانون عمل کول واجب ندی ، بلکې په نوي حکم عمل واجب دی ، دویم شرط ددغه قانون په اړه به داوي چې په هغه باندې علم به مونږ ته دباوري اوداعتماد وړزرایعو له لاري رسیدلی وي ، داچېز دادم (عليه السلام) په شریعت کې هم و، داچېز دحضرت موسی (عليه السلام) په شریعت کې هم و، که دکوم دچېز په اړه داعتماد وړثبوت ترلاسه شو نوپه هغه به عمل واجب وي ،اوکه نه وي ندی ، دېته په پام حدیث کې دداسي خبرویادونه راغلي اوپه قرآن کې هم داسي ایتونه دي چې فلاني څېز دموسی (عليه السلام) په شریعت کې و ،فلاني څېز دحضرت ابراهیم (عليه السلام) په شریعت کې و، نومونږ په دغسي قانون عمل کوو ،خوپه دې کې داستونزه پیدا کیږي پخپله عظیم الشان قرآن داسپیناوی کړی دی چې یهودو اونصاری پخپلو کتابونو کې تحریف کړی ، په دې حالاتو کې دحضرت موسی (عليه السلام) اوحضرت عیسی (عليه السلام) قانون مونږته داعتماد اوباور په بڼه ندي رسیدلي ،له دې وجې مونږ نشو کولی چې د هغو کتابونو په احکامو عمل وکړو ، څو چې مونږته دهغو په اړه دکومي بلي باوري زریعې نه په اړه یې ثبوت په لاس نه وي راغلی .

نوربیا

انقلابه

محمدشریف راشد

دا منمه چې بهار شوې انقلابه
د وحشت شپو ته سهار شوې انقلابه

زولنې او زندانونه در ته مات شول
دښمنانو ته ښامار شوې انقلابه

یرغلګر وجود دې مات کړ درې ورې
د شاهین د ډله لار شوې انقلابه

خو ډیوه د ژوندون تته ستا څپو کړه
اور د ونو او بازار شوې انقلابه

زما وجود خوري یک عمله مؤمنان تل
وینه دوی د دې ګفتار شوې انقلابه

د ملت ککرې ستا په ژرند ده دل شوې
چا ته نور او چا ته نار شوې انقلابه

ای راشده خپلو واکي یې راته راوړه
په تاریخ کې ښه ورځ شمار شوې انقلابه

زړګیه (الهام)

ماته اړینه ده زړګیه چې سنګر وپالم
ته دې په سترخپل ایمان لکه سره زر وپاله
زه مې دتن په وینو ساتمه وطن جانانه
ته لکه درخته ورته غیږه کې ثمر وپاله
زه څم ګوم دغرو سرونو کې آذان دجهاد
ته تری منګی، راډکه وه نړدی ګودروناله

دخالدبن ولید رض دعملیاتو لړۍ

(مولوي رضوان الله فیضاني)

څه عجیب خوند کړي دښکیلاک دتلفاتو لړۍ
دا دخالدبن ولید رض دعملیاتو لړۍ

بیا هره لار کمین کمین ده
په دښمن جوړ ډیر سخت ناورین ده
مسته څپانده ده دنویو عملیاتو لړۍ

ددین ګلان شیندي سرونه
ښتر ښتر چنار قدونه
بیا په غورځنګ ده دزلمو داحساساتو لړۍ

د غرو لمنې تکې شنې دي
په مجاهدو زرغونې دي
له هرې خوانه ده شروع دتشکیلاتو لړۍ

داستشهاد ستوري پړکیږي
کفري نړۍ ټوله لړزیږي
زي مخ په وړاندې دخالد دتعرضاتو لړۍ

دوخت دجال نور ناکام شوئ
ټولې دونیا ته بدنام شوئ
اوس پیلوي زانته دتیښتو اودزغاستو لړۍ

زلمو توکل په پاک الله کړئ
شعارمو، یا محمدا، کړئ
که خدای کول داده دسترو فتوحاتو لړۍ

دفیضاني خوږ ترنم بیا
په غلیمګې جوړ کړئ غم بیا
ګرمه ده بیا دانقلاب دادبیاتو لړۍ

د تورو وار

(ولي الله ذهین)

امتیاز مو د تاریخ د تورو وار دی
موږ په تورو او ده کړی هر ښامار دی
په نیزو کې مو د غرب سرونه راوړل
له ککرو مو جوړ کړی د ننګ مینار دی
د تور تم تر تهتر پورې ووري وزي
موږ په تورو کې ساتلی سپین سهار دی
هر ظالم ته استقبال په تورو کاندو
هر یو مست لیونی اوښ مو په مهار دی
ننواتي سوال زاری یې نه قبلیږي
د توبې تر وخت تیر شوی ګنهګار دی
د خزان ځواک به له غمه خپل ځان وژني
موږ په وینو میلمه کړی چې بهار دی
لا یې تنده شه پرې ماته نه ده ګوره
کابل اوس هم د غرب وینو ته خمار دی
هر یو ځواک مو د پردو په ګونډو کړی
موږ ساتلی خپل تاریخ پیوست قطار دی
موږ ذهینه فلسفه د عشق کړه خپله
خدای ته خواست مو په خپل سر باندې دیدار دی

زه مي پالم په قربانۍ د آخرت مراسم
ته په حیا او په تقوا دا خپل محشر وپاله

شمله ساتل او د میړانې د ګرماته پربږده
ته دي کور وپاله هم خوابنې هم خو سرو پاله

دسپیلنو په څېر الهام لوګی کوم درته ځان
ته په سپېڅلي حجاب سترګي او نظر وپاله

سترګې مې تاته اوړي

(شریف الله نیکمل)

اوسې ژوندی ، د هر ارمان سترګې مې تاته اوړي
په شان دوران افغانستان سترګې مې تاته اوړي
ته لکه وریځ یوه نشانه یې د رحمت د باران
زه یم نبات د بیابان سترګې مې تاته اوړي
یم د بلا مخ ته په سرو سترګو او داسې وایم
خدایه را پېښ کړې هغه ځوان سترګې مې تاته اوړي
د ننګ د تکو مفهوم ګورمه دستا تندي کې
یاره لرې ننګیالی شان سترګې مې تاته اوړي
در ته قبولې شه د خپلې ګرانې مور دعاوې
سر لوړی راشې له میدان سترګې مې تاته اوړي
لرې خواره ترخه خوبونه لکه ژوند او مرګی
په دې یې ما نیکمل ته ګران سترګې مې تاته اوړي

د شهید یاد

(ملا الصمد مصدق)

شهید جانان چې مې داکلی او دا ښار پرېښودو
فضا غمګینه ښکارېده نجونو سینګار پرېښودو
یتیم بچي وایي زما بابا به کله راځي
د ژوند غرمو ته یې بچي په انتظار پرېښودو
سپېڅلي وینې به یې خامخا ګلونه راوړي
دا یې یو زیړي وران چمن ته د بهار پرېښودو
په هر سهار چې یې مزاره پورې ځي په ژړا
خوږې مور جانې ته یې څه عجب روزګار پرېښودو
نوم به یې پاته همیشه وي د تاریخ په صفحو
د تاریخ پاڼو ته یې نوم د افتخار پرېښودو
دیار پګړی ته مې په مینه وویو ګل ساتلی
ما هغه ګل دیار د خاورو په مزار پرېښودو
اې بختوره ته خسولاړې د جنت باغچو ته
ستا جدایي د محمدي په زړه پرهار پرېښودو

غازي ادي

سيد سعيد

دتاريخ پـه اوږدو کي چي کله هـم افغانستان تـه يرغلګر څواکونـه راغلي افغان ملت يې پرضدپاڅون کړی ،نيواکګرېې ژړولي ،ژوبل کړي ،وژلي اوپاته شوني يې له خپلې خاوري څخه په تېښتوستر ګوشړلي دي .دنارينه ووتر څنګ ښځوهم دخپل هيوادڅخه دفاع کړې ،مجاهدينوته يې غذايي مـوادبرابر کړي اوپــه سـختوحالاتو کي يــې دغازيانوسـره اوږه پــه اوږه دير غلګروپرضدجهاد کي پراخه برخه اخيستې ده .

ددې هيوادپه تاريخ کي – چي په نړۍ کي دامپراتوريوپه هديره مشهوردی– دډيروداسي نوميـالو ميرمنو کارنـامې اوحماسې ثبـت دي چـي دخپـل ديـن ،هيواداونـاموس څخـه ددفـاع پـه جګړوکـي يـې برخـه اخيستې اودغزاپه ميدان کي يې دشهادت جامونه پرسراړولي دي .

پرافغانسـتان بانـدي دانګريـزي اسـتعماردوهم يرغـل پـه وړانـدي دجهاددمورچلونويوه نوميالۍ توريالۍ ميـرمن « غـازي ادې »ده ،غـازي ادې چي پـه الماسۍ هـم شـهرت لـري څينـو څېړونکـو دکتـواز بعضوبيادلوګرسلېمانخېله بللې ده ،پـه ۱۱۹۷هش کـال لوګر کي دکوچي پرګنوپه يوې متدينې کورنۍ کي زيږيدلې ده .

پـه ۱۲۹۴هـق کـال چـي انګريزانوپرپېواړيرغـل وکړ ،غـازي ادې ددغـي جګړې هغه زړ وره اتله ميرمن وه چي دپوړني پلوونه به يې

ترملاتـاو کړي وو ،چـاړه بـه ورسـره وه اودجګـړې پـه اوج کـي بـه يـې غازيانوته اوبه اوخوراکي توکي رسول ،کوم وخت به چي مجاهدين دمهماتود کمښت سره مخ شول باروداوګولۍ به يـې دغازيانومورچلونوتـه وروړلې .

دغازي ادې خاوندحبيب اکانوميده اودښايسته خـان پـه نـوم يکی يوزوی يې درلودچي دواړه (خاونـداوزوری يـې)دپيواړپـه جګـړه کي پـه شـهادت ورسـيدل ،لـه دې وروسـته غـازي ادې دخپـل شهيدشـوي زوی (ښايسته خان)ټوپک پراوږه کړاودمجاهدينوسره يوځای يې وسـله والـه مبارزه پيل کړه .دلوګردخوشي ،چهاراسيااوسـنګ نوشـتې پـه جګړوکـي يې ګډون وکړ ،ادې په ښنبه ويشتلو کي ځانګړې مهارت درلود .دپرنګي لښکروڅووتلي جګړه ماريې ښکار کړل .

علامـه رشـاددکارناموميرمني رسـاله کـي ليکـي چـي : «دسـنګ نوشـتې پـه جنـګ کـي چـي دپکتيااوکتوازلـه لښکروسـره دننګرهـار دخواپوځونه هم ملګري سول ،يوه ورځ ددوی پـه منځ کـي الماسۍ ولاړه سوه دواړه لاسونه يې ددعاء په خاطرپورته کړل اودپاک خدای جل جلاله حضـورته يـې داسـي مناجـات وکـړ :اې خدايـه !زه ستادرضااوسـتاددين دننګي له پاره دې جنګ ته راغلې يمه ،خدايـه تـه ماتـه وس راکړې چي ستاددين دښمنان ووهم اوددغومړ ونوغازيانوپت وساتم » .

دسنګ نوشتې له جنګ څخه وروسته دپکتياغازيـانود غازي ادې پـه ملتيـادچوکي ارغنـدي پـه خوامخـه کـړه هلتـه چـي ورسـيدل دوردګوڅخه دغازي محمدجان خان سپاهيان هم ميدان تـه رارسيدلي وو ،غازي ادې دمحمدجان خان له مجاهدينوسره يوځای دقلعه قاضي پـه

غزاکي برخه واخیسته ،په دغه غزاکي دغازي ادې میرانی اوهمت ځوانانوته ددښمن دوهلو وټکولوداسي انرجي ورکړه چي په برکت یې پرنګي لښکري کوڅي کوڅي اوله ماتي سره مخ شولې .

دتاریخ په اوږدوکي چي کله هم افغانستان ته یرغلګر ځواکونه راغلي افغان ملت یې پرضدپاڅون کړی،نیواکګرېې ژړولي ،ژوبل کړي،وژلي اوپاته شوني یې له خپلې خاوري څخه په ټیټوسترګوشړلي دي .دنارینه ووترڅنګ ښځوهم دخپل هیوادڅخه دفاع کړې،مجاهدینوته یې غذایې موادبرابرکړي اوپه سختوحالاتوکي یې دغازیانوسره اوږه په اوږه دیرغلګروپرضدجهادکي پراخه برخه اخیستې ده.

سپه سالارغازي محمدجان خان وردګ غازي ادې ته دسپرلي یوآس ورکړاوورته ویې ویل چي : په ټولوغزاګانوکي دي پلي مزلونه ترسره کړي دي نورپه پردې آس سپریږې ،خوراکه به یې زماسپاهیان دروړي .غازي ادې دمحمدجان خان څخه مننه وکړه ،خودآس دقبلولوڅخه یې ډډه وکړه اوزیاته یې کړه چي :«زه به دخپل شهیدخاونداوزوی سره به کوم مخ وینم ،دوی به وایې چي ترموږپوري پلي نشوای راتللای پرآس سپره راغلي ،زه داپیغورنشم منلای » .

دقلعه قاضي ترسوبې وروسته چي غازي ادې دمحمدجان خان له سرتیروسره دکابل پرخواراوانه وه دالندی به یې ویلې :

تورو کوځ بری به خپل کړئ

که بری نه وځوانان تل په تورومرینه

توري په څرخ وهئ ځوانانو!

وطن موخپل دی په سروونیوې ساتونه

چونې په توپونه رنګیږي

غازي ځلمیان یې په توپکوړنګوینه

جنګ دکابل جوَس ته راغی

ځوانان څنګلي لګوي کابل ګټینه

واصل اباد ته دغازي محمدجان خان دپوځونودرسیدوسره پراسمایې غره دغازي محمدعثمان خان سافي مجاهدین ولیدل شول ،پرنګي لښکروشیرپورته درسیدوپه موخه دهغوی په لورحرکت پیل کړ.غازي جان خان خپل مجاهدین پردوومحاذونوووېشل ،یوې ډلي غازیانوته یې دتخت شاه پرغره دبریدامروکړاوبل محاذیې داسمایي غره دکلانیوبوته سوق کړ.غازي ادې د همدې دوهم محاذ مخ په لیکوکي په ډیري زړورتیا دپرنګي پوځونوپرضداتلواله مبارزه کوله .

دکپتان قیام الدین خان تره کي چي دغازي ادې سره په ډیروغزاګانوکي مل و،له قوله ویل شوي چي :غازي ادې دلوړې تنې ،پیاوړې اسکلیټ اوپراخي ټنډې څښتنه شپیته کلنه ښځه وه ،قیام الدین خان وایې :موږچي پرکلابرید کاوه غازي ادې دمخ په لیکوکي وه ، کلاته ایله درې سوه ګامه پاته ووچي غازي ادې ولګېده ،موږچي همدغه ځای ته راورسیدوکه ګوروچي دغازي ادې ترټټراوخولې ویني بهېږي خو دالله اکبرملکوتي اوازیې ترخولې خیژي چي په همدغه حالت کي یې شهیده اروالیه تنې والوته .موږ دکلاپرلورولاړوکلاموفتحه کړه وروسته مودشیرپورلورته پرنګ پسې واخیست ،دغاز ي ادې دمړي پته راته ونه لګیده چي چاوچیرته دفن کړشوی دی .

غازي ادې یوه پوهه ،مینه ناکه اومجاهده میرمن وه ،غیرت یې نه ایجابوله چي پرنګي لښکري یې په هیوادکي خپل کرغیړن پلانونه پلي کوي ،دافغانستان دمستعمره کولواودافغانانودغلامی هڅې کوي خودادي په ارمه کښېني ،خاونداوزوی یې داسلام اوهیوادڅخه ددفاع په جګړه کي په شهادت ورسیدل ،خودایي دمجاهدینودملاتړاوآن دپرنګ پرضددوسله والي مبارزې څخه راونه ګرځوله .بالاخره خپله هم همدې ننګیالی پردین اووطن میني اتلي میرمني (غازي ادې)دجهاد په سپېڅلي لارکي دشهادت جام پرسرواړاوه .

روح یې ښادیادیې تاند

ماخذونه :

دکارناموميرمني

مشاهیرافغانستان

پښتني میرمني

له افغانستان څخه دامريکاعوايدڅومره دي ؟

(زباړه ـ لطيف عزم)

پنتاګون دامريکاله کانګريس څخه د ۲۰۱۴ کال لپاره د ۸۰ مليارده ډالروبوديجې مطالبه کړي ، ترڅوپه افغانستان کې دجنګ اووحشت ارابه پرې وچلوي.
دغه غوښتنه له ۵۲۶ مليارد ډالروڅخه علاوه دي چې امريکايان يې غواړي دپوځي خاصوعملياتو دترسره کولوپه برخه کې مصرف کړي.
پنتاګون وايي پور ته لګښتونه په دې سربيره چې په افغانستان کې به دروانې جګړې په برخه کې ولګوي ورسره به له افغانستان څخه دامريکايي عسکرودوتلوپه لاروچاروکې هم ګټه اخيستل کيږي.
دپنتاګون درسنيو مدير "جورج ليتل"، وايي چې د ۲۰۱۴ کال دغه لګښتونه د ۲۰۱۳ کال دمصارفو اوبوديجې په نسبت کم دي ، څکه د ۲۰۱۳ کال بوديجه ۸۷ مليارده دوه سوه ميلونه ډالره وه .
له بل لوري دهمدې کال دمارچ په مياشت کې دامريکاد(هارواړ کنډي) پوهنتون په يوه څيړنيزراپور کې راغلي وچې ديوه امريکايي تپي عسکرورځنی لګښت ۸۶۶ ډالروته رسيږي چې لرترلره دهرتپي عسکر دبشپړ جوړيدو مصرف ۱۷ ميلونه ډالروته رسيږي چې په دغه حساب په افغانستان کې دټولوتپي شوو امريکايي عسکرو دټول عمرلګښتونه چې بايدپنتاګون يې په غاړه واخلي ۸۰۰ مليارد ووډالروته ځان رسوي .
د ۲۰۱۴ کال لپارهـدامريکاددغو منظوروشوو لګښتونوورسته دامريکااوبرتانيا ګڼوسياسي فعالينو اوادارولـه خپلـو حکومتونوڅخـه دلاريونـواوخبري ناستوپه ترڅ کې غوښتنه وکړه او کوي يې چې ژرترژره دې لـه افغانستان څخه عسکرراوويستل شي، هغوی وايي ددې پرځای چې ۸۰ مليارده ډالرپه افغانستان کې مصرف شي دوی دغولګښتونوته ډيره اړتيااوضرورت لري .

دپخوانيو خلکو په خبره کـه دومره پيسـي ديوه درياب مخې ته هم سپراوديوال کړل شـي شـايي مخـه يـې ونيـول شـي !نـه پوهيږوچې امريکادومره لوی تاوان اوزيـان ته چې هيڅ مادي اوشيطاني منافع ورپوري ترلي نه وي ولـې ملاترلـې اونورهم لادوام ورکول غواړي !!!؟

داخوويې دامريکايي اوبر تانوي سياسي فعالينو اوخلکوغوښتنې ، اوس پوښتنه داده چې ايا رښتياهم دافغانستان جګړه دغرب اوامريکادخلکولپاره يوکړاواوپراوږدويې يودرون بار دی ؟او ايا دامريکې مصرف په افغانستان کې ددوی له عايدنه کم دي چې هلته يې ترلاسه کوي ؟

بله پوښتنه داده چې دتروريزم په پلمه روانه جګړه امريکايانوته څومره اهميت اوارزښت لري چې دومره لويه پانګه پرې مصرفوي اودرانه ځاني زيانونه تحمل کوي ؟ځکه دامريکايي منابعوله قوله ويل کيږي چې امريکاتراوسه په افغانستان کې ۶۰۰ملياردهډالرمصرف کړي اوهم يې ۳۰ زره عسکر مړه اوټپيان شوي وي .

خوددغوټولوپوښتنوځواب کيدای شي دامريکا دبهرنيوچاروديخوانۍ وزيرې (هيلري کلنټن) په خبروکې وموندل شي چې کله څومياشتې وړاندې دامريکايي سناتورانويوې اعتراضيه غونډې ته چې دافغانستان دجګړې دمصارفوپه سرېې کلکې نيوکې کړې وې وربلل شوې وه اوترې پوښتل شوي ووچې په افغانستان کې دامريکاعوايدڅه اوڅومره دي؟

هيلري ورته ويلي وو : که نه پوهيږې نوبايدپوه شی چې مونږ تنهاپه افغانستان دلسوڅخه يوه مصرفوو، يعنې مونږ له هغوعوايدوڅخه چې له افغانستان څخه يې ترلاسه کووپه لسوکې يې يوفيصدپه مصرف رسووا و ۹ فيصده يې دګټې په ډول امريکاته راوړو ، هماغه ووچې امريکايي سناتورانو دهليري کلنټن ددغومدارکوپه وړاندې کولوسره د ۲۰۱۴ کال لپاره دافغانستان دجګړې په خاط ۸۰ ملياردهډالره بوديجه منظوره کړه .

اوس که لدې خبرې تيرشوچې امريکاپه افغانستان کې له کوم مدرکه او کوم ځای څخه دومره عوايدلري ، نتيجه داسې راڅيستلای شوچې تراوسه امريکايانوپه افغانستان کې ۶۰۰ملياردهډالرمصرف کړي ، نودامريکادبهرنيوچاروداوزيرې کلنټن په ارقامو دامريکاعوايدپه افغانستان کې دتيرو ۱۳ کلونوپه اوږدو کې لس برابرزيات دي يعنې ۶زره ملياردهډالره چې که په رقم وليکل شي نو 6.000.000.000.000 ډالر کيږي او که په افغانيوواړول شي نو331.000.000.000.000 افغانيو ته رسيږي. نوپه دغه ډول حساب خپله څرګنديږي چې امريکاپه افغانستان کې جګړه ولې پيل کړې اوولې يې ددوام عوامل له يوې نه بلې ورځې ته ډيروي اوپاتې شوه داخبره چې امريکادغه لس برابره عوايدله دغه دربدره اوفقيرافغانستان څخه له کوم مدرکه ترلاسه کوي ، ړومبی ځواب يې داده چې د کابل اجيره اودامريکاپه توره مافياکې شامله اداره دې ووايي چې دامريکادبهرنيوچاروپخوانۍ وزيره په کوم باوراواستدلال له افغانستان څخه دلس برابره عوايدوترلاسه کولو خبره کوي اوکه نه وي مونږ ته خوداښکاري چې دافغانستان مالامال معدني سرچينې ، قيمتي اوغني يورانيم ، دمخدره توکو قاچاق اودافغانستان لرغوني او تاريخي اثاراوشتمنی دي چې امريکايان يې په پراخ لاس او مډرنه تکنالوجی له افغانستان څخه شپه اوورځ استخراجوي اوپه ځانګړوالوتکوکې يې نقلوي ، ديوشمير راپورونوله مخې په هريوه سات کې دامريکااوبرتانيي ترانسپورتي الوتکې دافغانستان قيمتي معدنيات دکابل ، هرات ، بګرام ، کندهار، اومزار دهوايي ډګرونوله لارې نيويارک ، لندن اوپاريس ته مسلسلې الوتنې کوي ؟

ژباړونکي که دښارګرو ادارو ماموران

فرهاد

دخبرې سرچینو په استناد: دبرتانیې لومړي وزیر "ډېوېډ کامیرون" ویلي هېواد به یې هغو خلکوته شا نه کړي چې دبرتانوي ځواکونو سره دمرستې لپاره یې خپل ژوند له ګوابنونو سره مخ کړی دی، دسیاسي چارو کتونکوپه وینا: د"کامیرون" اشاره هغوشاوخوا ۶۰۰سوه افغان ژباړونکو په نامه دلندن ښار ګرو ادارو معاش خورو افغان مامورانو ته وه چې دوئ له خپلو ځواکونو سره یوځای په دنده ګومارلې وو.

برتانیه غواړي هغوئ ته له دې امله پخپل هېواد کې دمېشتېدنې حق ورکړي چې دلته افغانستان کې یې دافغان مسلمان ولس په وړاندې دبرتانوي عسکرو سره اوګه په اوګه اوګام په ګام ستر اونه بښونکې جنایتونه کړي.

که څه هم صلیبي ائتلافي هېوادونه په دې باب له وړندې وېشلي دي دامریکا متحده ایالتونو، کاناډا، نیوزلینډ، اوداسترلیا په ګډون یوشمېر هغو هېوادونو چې ځواکونویې نارواجنایتونه اوجنګونه کړي دي غواړي داسې پلانونه ولري چې له مخې یې د اړوندهېوادو ښاګرو ادارو هغه مامورانوته چې دژباړونکوپه نامه یې ددوئ په پوځې لیکو کې خدمتونه کړي پناورکړي اوځینې نورهېوادونه بیاددغسې پلان سره مخالفت څرګندوي هغوئ وایي له افغاستانه دبهرنیومحاربوي ځواکونو دوتو وروسته دغه ګام پورته کول به دافغانستان دراتلونکې په باب دبې اعتمادۍ نښه وي.

دا مونږ باوري کوي چې دافغانانو ددین اوخاوري غصب کوونکو دښمنانو پخپل ټول توان روانه صلیبي جګړه بایللې او که خدای کول هغه دویاړونو کې شبېي

لندې شوې چې ټول یرغلګر هېوادونه، دهغوئ غلامان او ګوډاګیان دخپلو بدو عملونو تراخه دبشپړ شکست اوناکامۍ په صورت کې وڅکي، دروان کال ۲۰۱۳ز ترپایه دبرتانیې لخوا دخپلو ځواکونو ویستلو ترڅنګ هغو افغاني مامورانوته پناه ورکول یې تازه بېلګه ده.

برتانیه دامریکا وروسته افغانستان کې زیات شمېر عسکر لري، په تېرو دولس کلو کې دانسانانو دوژلو اوځورولو پرته بله لاسته راوړنه نلري اوسرچپه ورته درانه ځاني اومالي تلفات واوښتل چې ترخه یادونه به یې دبرتانویانو راتلونکې نسلونه په یاد لري چې دازادو افغانانو له لاسه ټپي ددوئ پلرونه څنګه مات ورمېږونه اوټیټ سرونه وشړل شول

له هغه ورځې راهیسې چې برتانوي دولت دروان کال ترپایه دخپلو ټولو ځواکونو دویستلو پرېکړه کړي، هغه افغانان چې دتېرو دولس کلو په دوران کې یې له برتانوي ځواکونو سره داسلام او افغانانو پرضد جنګونو کې ونډه اخستې سخت ورخطا اولالهاند دي ولې افغانان پردې پالي څېري اوغلام اشخاص پخپله ټولنه کې نه زغمي، په ټولیزه توګه له هغوئ کرکه اونفرت کوي، څوک چې دبهرنیو اوکفري ځواکونو په ملتیا کې جنګېدلي وي. هغوئ لاسپوڅې اوپردیو مزدوران بولي له دې وجې حتمي ده. هغه تېروتي افغانان چې دڅو ډالرو اوپونډو په بدل کې له اسلامیت او افغانیت تېر او دکفرې ځواکونو سره یې مرسته اوهمکاري کړي هېڅکله به ونه بښل شي اوخامخا به دخپلو بدو کړو وړو حساب کتاب ورکړي، ښکاره ده افغانستان او افغانانوته زیاتره غمیزې او ناخوالې

همدې پردې پالو افغانانو راوړي ، هغوئ دبهرنې یرغل سره څنګ کې په ودریدو دملت اوهېواد دمصالح په ضد جنګیدلي خامخا به هغوئ به دبهر نیو ځواکونودوتلو وروسته دخپلو بدو اعمالو تراخه څکي.

برتانوي حکومت ددې لپاره چې نړۍ، کې خپل باور وساتې اوڅوک دا ونه وایي چې برتانویان له هغو خلکو بې پروا شول چاچې ددوئ ځواکونو لپاره خپل ژوند په خطر کې اچولی وو، ځکه که یوه برتانوي جاسوس اوژباړونکې ته ضرر رسي یا وژل کیږي، نوپه دې کې مخامخ برتانویان اوامریکایان لاس لري، دا دوئ ته دخدمت بدله اوصله ده . په برتانویانولازم ده چې هغه چاته پناه اوځای ورکړي چا چې ددوئ لپاره دخپل ولس سره جګړه کړي ده او ددوئ په لیکو کې یې کارونه اوندي اجراء کړي.

دخبري رسنیو أه قوله : په لومړي قدم کې برتانوي دولت دژباړونکو په نوم ۶سوه شاوخو افغانانوته دپنځوکلونو لپاره مؤقتي ویزي ورکوي بیا ورته پنځه کاله وروسته به دایمي ویزي ورکړي .وړاندې برتانوي عسکرچې کله له عراق وتل هغه مهال هم برتانوي حکومت خپلو ټولو همکارانواوجاسوسانوته ویزي ورکړي وي او له ځان سره یې برتانیی ته بوتلل،ولې په ورته توګه عراقي جاسوسانو هم دبرتانوي عسکرو له وتو وروسته هلته (په عراق کې) ځانونه خوندي نه احساسول ،خو هغوئ ته یې په لومړي وار مخامخ دایمي ویزي ورکړي وي ښکارې چې عراقیان په جاسوسۍ کې ورته زیات منلي وو اوبل دعراق په پرتله دلته (افغانستان) دبرتانویانو ځاني اومالي زیانونه یو پر څو زیات دي ،دلته دزرګونو برتانویانو مغروري ککرۍ دهغوئ په وینوکې رغړېدلي ، کیدای شي دا دافغاني جاسوسانو دغفلت نتیجه هم وي نوځکه برتانوي حکومت ورسره هغومره اخلاص ښکاره نکړ څومره یې چې له عراقیانو سره ښود لی و خوپه هر صورت دواړو هېوادو جاسوسانو داسلام اومسلمانانو په مقابل کې پخپل ټول توان ورسره همکاري اومرسته کړي نه پوهېږو چې ددې توپیر لامل به څه وي چې دیوه هېواد جاسوسانوته مخامخ دایمي ویزي ورکوي اودبل هېواد ته لومړی پنځه کلنې مؤقتي ویزي بیا په دویم ګام کې دایمي ویزي ورکوي ، دډېرو په اند کیدای شي پنځه کاله پس وروسته دبرتانوي حکومت رویه بدله شي نقلي اوجعلې بهانې ولري !!

بل پلو ځینې برتانویان دخپل دولت له دغه پرېکړي سره مخالفت لري ، په اند یې دا کاربه ددوئ په اقتصاد منفي اغیز ډېر کړي، بل دکلتور اوژبنې توپیر له اړخه هم زیاتره خلک نه غواړي چې دوئ ټولنې ته دې پردي اوبهرنې کلتورونه سرایت وکړي.

دکتونکو په اند دېته په پام ځینې کړی، دغه ګام نهایي بولې ډیری یې جعلي اونقلي بولي . ولې هغوئ دې توپیري چلندته په کتو چې کله برتانوي عسکر له عراق ووتل برتانوي دولت هغو عراقیانوته چې هلته یې دبرتانوي پوځ په لیکو کې دندي درلودي او له برتانویځواکونو سره یې مرسته کړي وه هغوئ ته دایمې ویزي ورکړي خوداچې زیاتره عراقي نژاد برتانوي ژباړونکواوجاسوسانو دبرتانوي ژوند په اړه سم انځور نه لاره ترپنځلس فیصده زیات بیرته عراق ته ستانه شول اوس چې برتانوي عسکر ددې کال ترپایه ټول افغانستان پرېږدي اووځې نوهغوژباړونکوته چې زیاتره یې دبرتانوي څاکرۍ ادارو ماموران دي اودافغانانو لخوا دقهرجن عکس العمل اوبرخورد سره مخ کېدای شي په برتانیا کې دپنځوکلو مېشتېدنې لپاره مؤقتي ویزي ورکول اعلان کړي .

داخبره روښانه ده هرهغه چاچې دافغان ولس دارادي اوعقیدي خلاف دپردیو هېوادونود کټو اوسیاستونو لپاره ګوډاګیتوب کړی دی دنړۍ،هیڅ یوهېواد اوځواک لخوا هغوئ ته پنا ورکول نشي کولی چې هغوئ دافغان ولس داحتساب له مونګلوخلاص کړي، خامخا به هغوئ ته دخپلوبدو کړوړو سزا رسي اوهم به دراتلونکو افغاني نسلونو لپاره عبرت وګرځي چې هرڅوک دخپل ملت په ضد دیرغلګرو او افغان دښمنو لوریو په څنګ کې ځای نیسي انجام به یې دشاشجاع ، ببرک ،امین اونجیب پشان وي هغه ورځ لرې نده چې ګوډاکی کرزی اوملګري یې هم ددغو یادو څېرو پشان د مجرمانه او اسلام دښمنه کردار بد عواقب ووینې ان شاء الله.

ترکانو دکوچي قبايلو په توګه منځني آسيا کې استو ګنه کوله ، هغه مهال د لري شرقي تهذيب تراغيزو لاندي وو ،څه مهال چې

اسلامي هيوادوکې

لورمه برخه......

داسلاميت اومغربيت ترمينځ کشمکش!

اسلامي نړۍ کې دجديت اومغربيت ملاتړي اوناقدين

(لیکوال : داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سيد ابوالحسن علی ندوي (رح) ژباړه : ابوظهور

ضيا ګوک الپ دغربي تهذيب غوره کولو وجه داښوده چې غربي تهذيب اصلاً دپخواني تمدن هغه امتداد اوتسلسل دی ، چې دهغه په پالنه اورزونه کې (دنوموړي په وينا) ترکانو خاصه اولويه ونډه درلودلي ،نوموړی په دې اړه يوه مضمون کې ليکې :

غربي تهذيب په حقيقت کې دروم بحيري دتهذيب امتداد (con tin uation)دی، ددې تهذيب (کوم ته چې مونږدروم بحيـري منطقـوي تهـذيب وايـو) بنسـټ ايښـودونکی سـماري (Sumerians) په نسل ترک و ، پخواني تاريخ کې د طوراني په نوم ديوي دوري شتون ليدل کېږي ، ولې چې دمنځنی اسيا پخواني اوسيدونکي زمونږ نيکونه وو ، له هغوئ را وروسته مسلمانو ترکانو دې تهذيب ته نوره ترقي ورکړه آن چې تراروپا يې ورساو ، بيا دغربي اوشرقي روما سلطنت دړنګيدو وروسته ترکانو داروپا په تاريخ کې انقلاب راوست، په همدې اساس مونږ له عربي تهذيب جز يواومونږ (ترک)پکې برخه لرو.

